**کتاب پېژندنه**

**دکتاب نوم:** لوی فکر وکړئ او په ژوند او سوداگري کي بریالیتوب ترلاسه کړئ

**ژباړه او کمپوز:** فیض الله هوډمن ( ۰۷۰۷۳۳۳۴۲۴)

**د چاپ کال** :۱۳۹۸ هجري لمریز

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ټوکه

**خپرندوی:** انوري کتاب پلورنځی او خپرندویه ټولنه

**د خپرندوی داړیکو شمېرې:**۰۷۰۰۳۰۰۹۱۳/۰۷۹۹۰۰۰۶۰۵

**دژباړن داړیکو شمیره :** ۰۷۰۷۳۳۳۴۲۴

**برېښنالیک:** faiz.hodman@gmail.com

د چاپ او کاپي ټول حقوق د ناشر سره خوندي دي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوی فکر و کړئ

# او

# په ژوند او سوداګري کې بریالیتوب ترلاسه کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالی!**

ټولو هغو والدينو ته، چا چي د غربت په غېږه کي خپل اولادونه د زده کړو او روزني وروسته د ټولني چوپړ ته وړاندي کړيدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

هغه څه، چي غواړئ سرته یې و رسوئ، ترسره یې کړئ، اما دا مه هېروئ، چي باید لوی فکر و کړئ. لوی فکر کول د انسان د ټولو لاسته راوړنو همېږغې کوونکې قوه ده؛ د جګو تعمیرونو څخه نیولې د ټکنالوژي، طبي علومو، بېلابېلو صنعتونو او فوځي برخو کي د بې ساري پرمختګونو پوري ټول د لوی فکر کولو نتیجه ده. لوی فکرکول لوی اړیکي را منځته کوي. لوړ هدف په فکر کی و نیسئ او هغه هدف په خپله لاسته راوړئ. ډېر خلګ د لوی فکر کولو څخه وېره لري او نه سي کولای د لویو کارونو سرته رسولوفکر و کړي ځکه، چي هغوئ فکر کوي دلوی کار کولو له پاره لازمي تجربې او پوهه نه لري.

تاسي د لوی کارونو سرته سولو له پاره تجربو او پوهی ته اړتیا نه لري. ټولو لوړ فکر لرونکو له هیڅ څخه پیل کړي دئ. لوړ فکر لرل تاسو له نورو څخه بېله وي او ستاسو لوی فکر لوي بریالیتوبونه ټاکي.پاته نورخلګ په دوهمه درجه کی قرار لري.

# سریزه

د کلونو را هیسي مي د کار او کسب په جریان کي د ډېرو خلګو سره لیدلي دي، چي د را یادېدني اثر یې زما پر ذهن پرې ایښی دئ؛ یو له هغو څخه بیل زنګر دئ. کله مي، چي په لومړي ځل هغه و لیدی متوجه سوم، چي نه یوازي هغه پوه او هوښیار دی، بلکي د تحرک له پاره واقعی قوه هم لري، زه همېشه د هغه د عقایدو او لیوالتیا څخه خوند اخلم. نوښت په هر کار کي د بریالیتوب د شرطونو څخه دی. (بیل) لازمه پوهه او خلاقیت لري اوپه دې برخه کي ډېره پوهه لري، چي څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه پوهه او خلاقیت (د نوښت را منځته کولو قوه) په کار وا چوي. د (بیل) ملګري هیڅکله هغه نه هېروي ، هغه یو با استعداده مرسته کوونکی دی، چې زرګونو خلګو ته یې په خپله لاره کې مرسته رسولې ده. نوموړی هغه استاد دی چې په مینه او خوښې سره درس ورکوي.

د بریالیتوب له پاره ترټولو اړین څه د کار سره مینه لرل دي. د کار سره د هغه مینه نه هېریدونکې ده. هغه ته Learning annex (دزده کړې مرکز) دافرصت ورکړ چې خپله مینه زرګونه ځله په ثمر ورسوي.

لوی فکر لرل هغه ایمان دي، چې له ورکتوبه څخه یې لرم او بریالیتوب یې راپه برخه کړئ دی.( بیل) هم یو لوی فکر لرونکی شخص دی. داکتاب زموږ د دواړو له پاره یوه نه هېریدونکې تجربه ده. هیله مند یم، چې نه یوازې یې د لوستلو څخه یې خوند واخلئ، بلکې ډېر درسونه ځینې زده کړئ او په مټ یې تر ټولو لوړو موخو ته ورسیږئ، البته که چیرې سخت کار و کړئ حتماً به ورسیږئ.

**ډونالډ ټرمپ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مقدمه

## د کوچني څخه لوی ته

کله، چي مي د ډونالډ ټرمپ سره و پېژندل Learning annex یوکوچنی شرکت و، ما دغه شرکت د ډونا لډ ټرمپ د کړو وړو او نه تسلیمېدني د عادت څخه په زده کړه په یوه لوی شرکت تبدیل کړ. ۲۸ کاله مخکي، چي د فلم جوړوني د ځانګي زده کوونکی وم، مجبور وم، چي پیسې لاسته راوړم او په نیویارک کي ژوند ته ادامه ورکړم. د دې کار له پاره مي په ۵ زره ډالرو چي تر ۲۶ کلنۍ پوري مي ساتلي وې، په ۲۰۰۰ م کال کي د Learning annex مرکز تائسیس کړ، د فلم جوړوني د یومرکز د جوړولو په فکر کي وم ترڅو په هغه مرکز کي د فلم جوړوني ښوونکي خپلي تجربې زده کونکو ته ور زده کړي.
مېرمني مي، چي هغه مهال یې د لوښو ګل پوشه کولو په یوه ټولګي کي درس ورکاوه راته وویل: باید داسي یو مرکز تاسیس کړم ترڅو دا سي درسونه پکښې تدریس کړل سي چي بل ځای نه تدریس کېږي، په دې ډول سره د Learning annex، چي معنایې (د نه تدریس سو یو درسونو زده کړه) ده منځ ته راغلی. په یاد مي دي چي د پیلولو له پاره یوازي وم، خندونکی لباس به مي اغوستی و او پر پیاده رو باندي به مي د مرکز کتلاکونه په لاس کي وه او هغو ته به مي ویل، که د مرکز اداري ته وواياست، چي دغه کتلاک مي د یو مسخراچي څخه ترلاسه کړی دی ۵٪ تخفیف به د نوم لیکني پرمهال ترلاسه کړئ، کله چي به مي تلفن ته ځواب وایه په پوره حیرانتیا سره مي ولیدل چي ډېرو کسانو دغه کتلاک زما څخه په خندونکي لباس کي ترلاسه کړی و، په پیل کي مي تدریس په هغه ځای کي راپیل کړ په کوم ځای کي چي اوسېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ځکه هیڅکله فلم جوړونکی نه سوم، چي Learning annex مي پرلاره اچولی و او ما درهغه سره مینه درلودل. زه پوهېدم، چي هیڅ کار زما له پاره له دغه کار ښه نه دی، ځکه، چي ما د دې کار سره مینه لرل، چي خلګو او د هغوئ کارونو ته پراختیا ورکړم، او پراختیا ورکول زما مینه ده.

ما د تحصیلاتو ټولو اصولو ته بدلون ورکړ او داسي څه مي په وجود راوړه چي هغه ته مي بریالي تحصیلات ویل. نن ورځ د تحصیلاتو له پاره وخت وجود نه لري، سټلایټ او انټرنیټ داسي نسل په وجود راوړی دی، چي په هرڅه کی سرعت او لذت تعقیبوي. ما پرېکړه و کړه، چي د تدریسي ټولګیو له پاره مي لوی نومونه وضع کړم، کله چي مي د ښوونکو ټولګیو ته دغه نومونه ور زیات کړل، زده کوونکي بریالي سول او ښوونکو په ټولګیو کي د تدریس له پاره زیاته لېوالتیا پیدا کړه، ساراپارکر، هریسون فورد، ریچارد سایمون، هنري کیسینجر، پاپ ددي ، اربارا بوش، لري کینګ او په سلګونو نوري پېژندل سوي څېرې د Learning annex صحنې ته راغلل او د حاضرینو سره یې مجلس و کړ.

ما څرنګه دغه ستوري په دام کي را ونیول او هغوئ مي په ټولګیو کي تدریس کولو ته تشویق کړل؟ څرنګه، چي ما ډېري پیسې نه درلودې، نو نوموړي ستوري مي په بله قوه دخبروکولو له پاره جذب کړل، چي هغه قوه **دګنا احساس** وو. هغوئ ته مي وویل: " تاسي، چي شهرت او پیسې لاسته راوړي دي ولي مو نور خلګ او ټولنه له یاده ایستلې ده او دغه راز ولي نوروته نه ورښیاست؟" له یاده مي نه وزي، چي ښاغلی هاروي وین او استاین زما د ټولو ښوونکو په شتون کي راضي نه سول او هغه ته مي وویل: یوازي یو ساعت وخت دي د ټولني له پاره Learning annex ته ورکړه، ترهغو مي ورته وویل چي بلاخره راضي سول او خپله کیسه یې چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی څرنګه د هالیووډ څخه راووتی؛ وکړه، نه یوازي یوساعت وږغېدی، بلکي
څو ساعته یې خبري وکړې.

دا سي کسان هم وه، چي نه یوازي یې په Learning annex کي خبري و کړې
بلکي د Learning annex زده کونکي یې هم په خپلو کار ځایونو کي مقرر کړل،
د بېلګي؛ په ډول کلیوډیویس، چي د موسیقي البوم یې تکمیلوی؛ د Learning
annex د زده کوونکو څخه یې یو د خپلي موسیقي د ټولګی له پاره مقررکړ. د زیاتو
هغو ښوونکو له پاره، چي په Learning annex کي یې تدریس کاوه پیسو زیات
اهمیت نه درلود.

خو کله، چي مي وغوغوښتل د ډونالډ ټرمپ سره اړیکه ټینګه کړم حتی منشي یې
زما ټلفونونو ته جواب هم نه وایه. یوه ورځ مي هغه ته زنګ و واهه او بلاخره د هغه
د شخصي منشي الما سره په خبرو کولو بریالی سوم. څرنګه، چي مي غوښتل هغه په
Learning annex کي خبري وکړي نور مي نوهغه خپلي همیشنۍ خبري، چي په
(خپل د هیواد د خلګو سره ولي خپلي تجربې نه شریکوئ) پرینښودې، ځکه پوهېدلم،
چي ډونالډ ټرمپ له پیسو څخه پرته کارنه کوي اوځان ته مي جرئت ورکړ، چي
منشي ته ئې په Learning annex کي د یو ساعت خبرو کولو له پاره د ۱۰ زرو
ډالرو وړاندیز و کړم، چي هغه مهال ۱۰زره زما له پاره ډېري زیاتي پیسې وې. الما
وویل: فقط ۱۰ زره ډالره !؟ لکه هغه ته، چي سپکاوی سوی وي، زما وړاندیزیې رد
کړاو ویې ویل فکر نه کوم او تلفون یې بند کړ، ما دوهم ځل ټول جرئت راجمع کړ
او بیا مي زنګ ورته وواهه او الما ته مي وویل: حاضر یم، چي ډونالډ ټرمپ ته
۲۵۰۰۰ ډالره ورکړم الما وویل: ډونالډټرمپ به د دې وړاندیز سره علاقه و نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ټکان و خوړ او باور مي نه کيدئ، چي الما دي حتی زما وړانديز په نظرکي نيولو ته لا هم نه سي حاضر. د ځان سره مي وويل: داخل يې هغه ته ور ښييم. په غرور سره مي الماته وويل: حاضريم، چي د يو ساعت خبرو کولو له پاره ډونالډټرمپ ته ۱۰۰ زره ډالره ورکړم، نور نو باوری وم، چي مثبت ځواب به ترلاسه کوم؛ خو الما په سړه سينه وويل: " کېدای سي ډونالډ ټرمپ علاقه ونه لري" باور مي نه کيدئ، چي ۱۰۰ زره ډالره دي رد کړي؛ خو رد يې کړل. ښايې، چي ښه به دا وه، چي په Learning annex کي د ډونالډټرمپ خبري کول له ياده وباسم، نه پوهېدم، چي څه بايد وکړم. وروسته مي ټوني رابينز را ياد کړ، چي ويل يې هغه څه، چي غواړې حتماً يې په لاس راوړلای سې او کېدلای سي په لاس درسي. ټول په فکر کي خپل ځانونه بريالي پېژني؛ خو تر ټولو بريالۍ شخص، چي ماپېژندی ډونالډ ټرمپ و، دا مي نه سوای منلای، چي د خبرو کوونکو په ډله کي دي ډونالډ ټرمپ و نه لرم، نفس مي راغونډ کړ او الما ته مي زنګ و واهه او ورته و مي ويل"حاضريم، چي ډوناډټرمپ ته يو ميليون ډالر ورکړم" هغه مهال Learning annex په کال کي ۵ ميليون ډالره خرڅلاو درلود، د يوميليون ډالرو اداء کول ډېرسخت و؛ خو پوهېدلم، چي بله چاره نسته، الما وويل:"اوس جالبه سوه، د ډونالډ ټرمپ سره خبري کوم" باور مي نه کيدئ، چي الما ته دي داسي خبره وکړم ښايي ليونتوب و؛ خو ماته يې ښه احساس را و بخښئ. ډونالډټرمپ ماته زنګ و واهه او ويې ويل "بيل زه ستا او د Learning annex د شرکت څخه خوښ يم، او وړانديز دي د منلو وړ دی؛ خو دا راته ووايه، چي دغه کنفرانس ته ښايې څو تنه راسي ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردغه ورځي پوري زما تر ټولو لوی کنفرانس ته ۷۰۰ تنه راغلي وه؛ خو ما ورته وويل:( ۱۰۰۰ نفره کېدای سي راسي ) ډونالډټرمپ راته وويل: " زه د Learning annex له پاره وينا کوم؛ خو ته بايد زما سره ژمنه وکړي، چي لږ تر لږه به۱۰۰۰۰ تنه زما کنفرانس ته حاضرېږي" ماپه مغرورانه ډول ورته وويل: بلې بلې ۱۰۰۰۰ تنه حتماً حاضرېږي. ډونالډټرمپ وويل: نور مي نو وکيل ته وايم، چي تړون ليک درته ولېږي. فکر کوئ، چي څه به پېښ سوي وي؟ ټکيټان د بريښنا په ډول خرڅ سول، ټولو غوښتل ډونالډ ټرمپ و ويني، ما ۳۱۰۰۰ ټکيټان خرڅ کړل او د هغه پيسو څخه، چي د ټکټانو دخرڅولو څخه مي لاسته راوړي وې په اسانۍ سره وکړای سول ډونالډټرمپ ته يو ميليون ډالر ورکړم. د هغه څخه مي مننه و کړه، نه يوازي د هغه د کنفرانس ورکولو په خاطر بلکي په دې خاطر هم، چي همېشه هغه پوهيږي، چي څه به پېښيږي. هغه په ډېره اسانه توګه سره وويل: کله، چي لوی فکر کوئ لويې پېښي درته واقع کيږي. زما شرکت کوچنی مؤسسه وه، چي د کاله يې ۵ميليونه ډالره عايد درلود؛ خو په يو لوی شرکت تبديل سو، يوکال مخکي يې ۱۰۲ ميليونه ډالره عايد درلود اوLearning annex په مشهورو مجلو کښي تر ټولو چټک وده کونکی شرکت و پېژندل سو.

ډونالډ ټرمپ زما ژوند تغير کړ او زده مي کړل چي لوی فکر و کړم او لوی کار سرته و رسوم. لوی فکر کول اوس زما د ژوند يوه برخه ده او په دې فکر ژوند کوم او همدارنګه مي زده کړل، چي د لوی فکر کولو له پاره بايد د استراحت او محافظه کاری څخه ليري وتښتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده مي کړل، چي بريالیتوب د ماتي په نه منلو کي  دی او هره ماته د بریالیتوب په لاره کي پل دی. د ډونالډټرمپ توانايي د ماتي نه منلو د فکر په طرز کي ده. هغه څه، چي غواړئ د ژوند څخه يې طلب کړئ او په خپله يې سرته ورسوئ، هڅه مه کوئ، چي نورو له پاره ژوند و کړئ، مه پرېږده، چي څوک تاته پلان درکړي او درته و وايې، چي څه ډول ژوند وکړه. که یوڅوک د رسره سر په سر سي، سر دي مه کښته کوه او اجازه مه ورکوه چي هغه دي ازار کړي بلکي د هغه سره وجنګیږه او ماتي ورکړه، پرېږده چي پوه سي، چي نه سي کولای ستاسره شوخي وکړي (تیر دي باسي ) خپل قوانین یوازي په خپله جوړ کړه.

**(بیل زنګر)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

## لمړی څپرکی

ایا تاسو د کار وړتیا لرئ؟ ........................................................................ 1

د څوابونو تشریح: ........................................................................ 7

د نمرو مجموعه ........................................................................ 13

د لمړي څپرکي څخه د بیل زنګر اخیستنه ........................................................................ 13

د لمړي څپرکي لنډیز ........................................................................ 17

## دوهم څپرکی

علاقه ........................................................................ 18

سرته رسوونکي واوسئ نه خیال وهونکي ........................................................................ 21

تر فشار لاندي ښه والی ........................................................................ 25

د خپلو تېروتونو څخه درس واخلئ ........................................................................ 29

هیڅکله مه ما یوسه کېږئ ........................................................................ 29

د استرحت غوښتني د فکر څخه د باندي را ووزئ ........................................................................ 32

حرکت و کړئ ........................................................................ 33

د دوهم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه ........................................................................ 34

د دوهم څپرکي لنډیز ........................................................................ 36

## دریم څپرکی

شپږم حس ........................................................................ 38

کله نا کله د معلوماتو تر را ټولولو حرکت کول غوره وي ........................................................................ 46

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت سنجونه هر څه ده ........................................................................ 46

د دریم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه ........................................................ 47

د دریم څپرکي لنډیز ............................................................................... 50

خلورم څپرکی

د فرصت را منځ ته کول.......................................................................... 51

خپل د ځان له پاره خپله موقع پیدا کړئ...................................................... 52

ښه موقع (خوش چانسي) هغه وخت راځي، چي د هغه څخه د ګټي اخیستلو له پاره چمتو و اوسیږو ........................................................................................... 56

له خطر اخیستلو څخه مه ویریږئ .......................................................... 58

خپل په ځان کي مثبته وړتیا منځ ته راوړئ .............................................. 60

د منفي فکرونو قدرت.............................................................................. 63

د خلورم فصل څخه د زنګر اخیستنه ....................................................... 64

د خلورم څپرکي لنډیز .......................................................................... 68

پنځم څپرکی

د بېري لاملونه ..................................................................................... 69

شتمني ته مو پاملرنه و کړئ او ښه غوږ ونیسئ ........................................ 72

داسي کار و کړئ چي خلګ درناوی درته و کړي........................................ 72

په هیڅ چا باور مه کوئ! ......................................................................... 74

هر څوک نورو موقعو (چانسونو) او بخښني ته اړتیا لري ............................ 76

خپل ځان او نورو ته لوړ معیارونه و ټاکئ.................................................. 77

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنځم څپرکي څخه د زنګر اخيستنه ........................................................ 77

د پنځم څپرکي لنډيز ................................................................................ 82

شپږم څپرکی

انتقام................................................................................................ 84

د شپږم څپرکي څخه د زنګر اخيستنه........................................................... 87

د شپږم څپرکي لنډيز................................................................................ 89

اووم څپرکی

تلوار يا چټکتيا ..................................................................................... 90

کوم څه، چي مو له منځه يو نه سي؛ قوي کوي مو ......................................... 94

ستونزي مو راوسپړئ................................................................................ 95

کله، چي مو کار پرمختګ و کړ؛ نور مه هېروئ ........................................... 95

د اووم څپرکي څخه د زنګر اخيستنه ........................................................ 96

د اووم څپرکي لنډيز .............................................................................. 98

اتم څپرکی

پر هدف مو تمرکز له لاسه مه ورکوئ.......................................................... 99

د اتم څپرکي څخه د زنګر اخيستنه .......................................................109

د اتم څپرکي لنډيز ...............................................................................110

نهم څپرکی

د ستونزو اټکل و کړئ او د واده څخه مخکي ترون لاسليک کړئ .......................112

د نهم څپرکي څخه د زنګر اخيستنه............................................................113

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نهم څپرکي لنډیز ........................................................................114

لسم څپرکی

لوی فکر و کړه او څمتو اوسه ........................................................116
په آرامي سره کار وکړئ او د لویانو غوندي شخصیت خپل کړئ ........................117
همېشه لومړی درجه ژوند و کړئ.........................................................120
شکونه له منځه یوسئ ...................................................................120
خبري کول عادت و ګرځوئ ..............................................................123
لوړي موخي پرځان باندي لوړ باور ته اړتیا لري ..........................................124
د نفوذ د قدرت څخه مو د عوایدو په لوړولو کي ګټه واخلئ ..............................126
د بریالیتوب لاره مو نیمګړي مه پرېږدئ...................................................128
همېشه پرمختګ په پام کي ونیسئ........................................................128
د خواشینیو تحمل ته چمتو و اوسئ ......................................................129
د لسم څپرکي څخه د زینګر اخیستنه.......................................................129

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړی څپرکی

## ایا تاسو د کار وړتیا لرئ؟

خلگ همېشه زما څخه پوښتنه کوي، چي څرنگه دومره شتمن سوم؟ زه په جواب کي ورته وایم دهغه کارونو سرته رسولو شتمن کړی یم کوم، چي ترسره کوم یې. د دې کارونو څخه می هم خوښي او هم ډېري زیاتي پیسې ترلاسه کړي دي. زه د ډېرو د سینما دهنرمندانو، میلیارډرانو، تجارانو او لوبغاړو سره پېژنم، هغه څه، چي شتمن اوبریالي کسان له نورو څخه بېلوي دهغوئ تگلاره ده. د فکر ډول، کارکول، د کارونو تعقیب، د کار سره مینه اوپربریالیتوب باوراو ایمان لرل هغوئ د گټونکو په ډله کي راولي.

د ۲٪ گټونکوپه ډله کي د پاتي کېدلو له پاره یوازي هوښیاراوسېدل او سخت کارکول کافي نه دي، بلکي فورمول لري چي تاسي یې هم کولای سئ زده کړئ، هغه دا دئ، چي د گټلو لپاربايد د ۹۸٪ نورو خلگو څخه توپير ولرئ.

له ټولو څخه مخکي باید له خپله ځانه سره رښتني و اوسېږئ. د شتمن کېدلو یوازینی لار ریښتینولي او د واقیعت سره مخامخ کېدل دي. هغه څه، چي کتابونه، مجلې او ټلویزیون یې د شتمنو خلگو په باره کي وړاندي کوي په اصل کي صحیح نه دي. شتمن کېدل ډېر سخت کار دئ. نه یوازي دا چي اسان نه دی، بلکي عذاب راوړونکی هم دی. تاسي باید دغه عذاب د ځان له پاره رانیسئ  او د رقیبانو سره مبارزې او د هغوئ پرزنگنو کولو ته چمتو و اوسېږئ. زیاتره خلگ د هغه فشارونو له پاره، چي ورته په انتظار کي دي چمتووالی نه لري. شتمن کېدل ځا نگړي شرایط لري، چي د هغو له جملې څخه یو دا دئ، چي شتمن کېدل تاسوته په داسي موقف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي قرار درکوي؛ کوم، چي د نورو چلند ستاسو په وړاندي بدلون مومي؛ داسي، چي ټول غواړي ستا سي له لاس څخه پیسې و باسي.

ستاسی سره کینه کوي او غواړي ستاسي د بریالیتوب لار پیداکړي او ووايې، "ته نه سي کولای". نورخلګ کیدای سي نه یوازي دا چي مرسته درسره و نه کړي بلکي د له منځه وړلو اراده دي هم لري. اوس خپله فکر و کړئ . ایا د دې توانايې لرئ چي د دې ډول خلګو سره و جنګیږئ او هغوئ پرځنګنو کړئ. واقیعت دا دئ، چي ټول ملیارډرانو خپل ځان جوړ کړئ دی: د Oprah Winfrey,Walt Disney او Bill Gates غوندي ملیارډرانو لوی فکر کړی دی اود دې قابلیت لری چي له نورو څخه ډېربنه و اوسیږي، که چایې د لاری مخه نیولې ده هغه یې بر ځنګنو کړیدي، هغه تجربې او ازمایښتونه، چي د دغه کار په جریان کی رازي، تاسي دغه ته متوجه کوي، چي ایا دغه ته آماده یاست چي بریالیتوب ترلاسه کړئ او زیات عاید ولرئ او که نه.

**ځان ارزونه**

1. **په راتلونکي پنځو کلونو کي غواړئ څومره پیسې ولرئ؟**
   - ۱۰۰ -۸۰۰ میلیونه
   - ۲۰۰ -۵۰۰میلیونه
   - ۵۰۰میلیون- ۵ ملیارډه
   - د۵ملیارډه څخه اضافه
2. **مالي هیلي مو څه ډول دي؟**
   - د شتمن کېدلو یو چانس و لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- داسی یو وظیفه ولرم، چي زیاته ګټه او لوړ عاید و لري.
- یوکور رانیسم.
- د بېلا بیلو پانګونو څخه د ډېر لوړعاید خاوند سم.

**3. دلاندي جملو څخه کومه یوه ستاسی مالي حالت په ښه ډول بیانوي؟**

- د خپل مالي حالت څخه ډېر راضي یم.
- د خپل مالي حالت څخه تقریباً راضي یم.
- د خپل مالي حالت څخه راضی نه یم او امید هم نه لرم چي ښه به سي.
- د خپل مالي حالت څخه راضي نه یم د هغه ځه څخه چي لرم یې اضافه غواړم.

**4. د ورځي څو ساعته وخت د شتمن کېدني له پاره مصرفوئ؟**

- د نیم ساعت څخه کم.
- نیم ساعت یا یوساعت.
- ۱- ۲ ساعتونوپوري .
- د۲ساعته څخه اضافه.

**5. په کال کي څومره پیسې د شتمن کېدني له پاره مصرفوئ ؟**

- ۱میلیون
- ۵میلیون
- ۱۰میلیونه
- د۱۰میلیون څخه زیاتي

**6. د لویو ستونزو په وړاندي څه ډول چلند کوئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پاملرنه نه ورته کوم او وایم په خپله حل کیږي.
- ملګرو او دوستانو ته شکایت کوم.
- هغه نوروته وړاندي کوم چي یوه چاره ورته ولټوي.
- هغه ته دومره پاملرنه کوم ترڅوحل لاره ورته پیدا کړم او د نوروسره مشوره کوم.

**7. ستاسو دکار په اړه مو نظر څه دی؟**

- د هغه څخه نفرت کوم؛ خو مجبور یم.
- بد نه دی، مګر سخت دی شاید ښه وظیفه راته پیدا سي .
- ښه دی، ځکه، چي د ژوندانه لګښتونه راپوره کوي.
- د خپلي وظیفې سره مینه لرم، هم د هغه څخه زده کړه کوم او همخوند ورځنی اخلم.

**8. که خپله دنده یا عاید له لاسه ورکړئ څه کوئ ؟**

- سپما کوم ، لګښتونه راکموم، یاله دولت څخه کمک او د بیکاري حقوق اخلم.
- نوې زده کړه پیلوم.
- نوې وظیفه پیدا کوم او په کار مصروفه کیږم.
- شرکت پرلاره اچوم او دخپل ځان له پاره په کار پیل کوم.

**9. کمه جمله ستاسي وړتیا په ښه ډول بیانوي؟**

- انرژي مي دومره ده، چي ورځ پای ته په ورسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ورځې په پیل کې ښه کارکوم؛ خو د ماپښین څخه وروسته د ورځې د ختمېدو په انتظار یم ترڅو کورته ولاړسم.
- پوره ۸ساعته ښه کارکوم
- زما انرژي ختمېدل نه لري، اوهیڅکله د هغه کارڅخه، چې خوند ځنې اخلم نه ستړی کېږم.

**10. کله، چې یوځوک درته وایې د کار څخه مو ګټه نه ترلاسه کیږي څه کوئ؟**

- مایوسه کېږم او پرېږدم یې او وایم قسمت مې نه و.
- عصباني کېږم او دعوه پیلوم.
- بیا هم هڅه کوم، که ونه سوه هم.
- د کار له پاره نوره انرژي مصرفوم او ترهغو یې نه پرېږدم، چې پایلې ته نه یم رسېدلی.

**11. باید اړینه پرېکړه وکړئ؛ خو نه پوهیږئ، چې څه و کړئ، کوم کار مو د راتلونکي پرېکړه بیانوي؟**

- ټلویزیون ګورم او د فکر کولو حوصله نه لرم.
- د ملګرو او دوستانو څخه پوښتنه کوم، که زما پرځای وای څه مو کول.
- خبل موقیعت سنجوم او فکر کوم ترټولو ښه تصمیم څه کیدای سي.
- هم له دوستانو سره مشوره کوم او هم خپل موقیعت سنجوم او وروسته خپل پرفکر باورکوم.

**12. تاسي خلګ څنګه پېژنئ ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ښه خلګو په اړه فکرکوم، چي هیڅکله دروا‌غ نه راته وایي، د سره څخه مي خولۍ نه اخلي اوغلا نه راڅخه کوي.
- همېشه خوښ لرم چي دشا او خوا خلګ مي ستاینه وکړي، که څه هم مهم اشخاص نه وي.
- ترټولو ښه اشخاص مقرروم او باور لرم ترټولو ښه کار راته کوي
- تر ټولو ښه اشخاص مقرروم؛ خو له هغوڅخه سترګي نه اړوم ترڅو هغه کار چي غواړم يې سرته ورسوي.

13. **کله، چي پوه سئ، يوڅوک تاوان درته رسوي دهغه سره څه ډول چلند کوئ؟**

- ډېر زهیرکېږم اوله ځانه پوښتم، چي ولي هیڅوک ما نه خوښوي.
- سرنه پسي ګرځوم او وایم ولي بې ځایه ځان مصروفه کړم.
- د هغه کس سره مخامخ کیږم او پوښتنه ځیني کوم، چي ولي يې دا کار کړئ دی.
- نه یوازي دا چي په هغه اندازه تاوان ورسوم بلکي۱۰ چنده تاوان ور رسوم.

14. **هرڅه لرئ، په ښه ډول پرمخ ځئ او خپلي موخي ته ورسیدلاست، اوس څه فکرکوئ؟**

- هغه وخت رارسېدلی دی، چي په رخصتي ولاړسم.
- په کار کي مي هیڅ بدلون نه راوړم.
- د کارترڅنګ مي نوی کار پیلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خپل پرکار باندي تمرکز ډېروم او خپل کارته پراختیا ورکوم.

15. **د واده په برخه کي د تېروتني په اړه څه فکر کوئ؟**

- زه او میرمن یو له بله سره مینان یو او هیڅکله یوله بله نه سره بیلیږو.
- څرنګه چي زه پرمېرمني ګران یم، که زموږ کار تر طلاقه هم ورسیږی، هرڅه به په ښه ډول مخته ځي.
- زه پرخپلي ښځی مین یم هیله لرم هیڅکله سره بیل نسو؛ خو که، چیري طلاق را منځ ته سي، د جلا کیدو څخه وروسته د اموالو دویش تړون زما شتمني ساتي.
- طلاق ممکن دی؛ خو نه غواړم د هغه په اړه فکر و کړم.

**د ځوابونو نمري**

a) ۱ نمره
b) ۲ نمرې
c) ۳ نمرې
d) ۴ نمرې
e) ۵ نمرې

اوس موخپلي نمرې جمع کړئ او د ځوابونو تشریح ته پاملرنه وکړئ.

**د ځوابونو تشریح:**

1. **په راتلونکي ۵ کاله کي غواړئ څومره پیسې ولرئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مو a انتخب کړی وي زه پوښتنه درځخه کوم چي ولي باید ۱۰۰ میلیون یا ۵ میلیارډه و لرئ، ولي واياست ۱۰۰ میلیون ؟ ۱۰۰ میلیون یعني تاسي قانع یاست او هیڅوک تاسی نه هڅوي چي ۵ میلیارډه وغواړئ، لوبغاړي غواړي سره زر ترلاسه کړي نه برونز، که زه ستاسو پرځای یم پر۵ میلیارډه خط کشوم او وایم ۵۰میلیارډه!

2. **ستاسو مالي غوښتني څه ډول دي؟**

ستاسو هیلي ستاسو هغه کارونه دي، چي باید پای ته یې ورسوئ، که لوړي هیلي و نه لرئ هیڅکله به لوی کارترسره نه کړای سئ، لوړي هیلي لرل هیڅ لګښت نه لري؛ خوتاسي ته دا وړتیا درکوي، چي د هیلو ډېره برخه په عمل و رسوئ.

3. **د دغو جملو څخه کومه یوه ستاسي مالي حالت په ښه ډول بیانوي؟**

دا ځوابونه ستاسي لوړه ښیي، وړي کسان هم زیات کارکوي او هم د زیات کار له پاره انګیزه لري. تاسي باید همېشه د پیسو له پاره لوړي موخي په پام کي و لرئ، باید زیات وغواړئ که نه هدف ته نه رسېږئ.

4. **د ورځي څو ساعته وخت د شتمن کېدني له پاره مصرفوئ؟**

شتمني لاسته راوړل د هغه لوړو موخو او کارونو ثمره ده چي تاسي یې هره ورځ سرته رسوئ. ډېرخلګ خپله ورځ د لویو موخو په لرلو سره پیلوي؛ خو کله، چي د ستونزي سره مخ سي، خپله موخه هېروي د خپلو موخو د ژوندي ساتلو له پاره لږترلږه دوه ساعته کار و کړئ، هیڅوک ستاسي په اندازه ستاسي موخو او بریالیتوب ته ارزښت نه ورکوي.

5. **په کال کي څومره پیسي د شتمن کېدني له پاره مصرفوئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې او بریالیتوب خطرناکه دي، په نړۍ کي شارک کب(ماهي) غوندي خلگ شتون لري، چي د ساده شتمنو په انتظار کي دي ترڅو د هغوئ مخه ډب کړي او په دې بازي کي کلیدي معلومات لرل قدرت دی، سمه زده کړه نه لرل لویه ستونزه ده، پیسي پر سم ځای او د اړتیا سره سمي مصرفوئ، شتمن کېدل او شتمن پاته کېدل زده کړئ.

### 6. د لویو ستونزو په وړاندي څه ډول چلند کوئ؟

شتمن خلگ ځکه پیسې لري، چي لوی ستونزي حلوي، د لویو شرکتونو مدیران ځکه لوی معاشات اخلي، چي کولای سي لویې ستونزي حل کړي. زیاتي پیسې زیاتي ستونزي در ته راوړي، زه هره ورځ د زیاتو ستونزو سره مخ یم، که غواړئ د شتمنو په ډله کي راسئ باید وکولای سئ د لویو ستونزو له پاره مناسبي حل لاري پیدا کړئ.

### 7. د خپل کار په اړه مو نظر څه دی؟

هیله د هغه کارغوندي نه ده، چي تاسي یې د سرته رسولو څخه بیزاره سئ. د بریالیتوب له پاره باید د کار سره مینه و لرئ تر څوپای ته یې ورسوئ، له کار سره ترمیني لرلوهیڅ شی ستا د بریالیتوب په برخه کی مؤثر نه دی. د کار سره مینه د اوږدو کاري ساعتونو ستړیا او کاري ستونزي له منځه وړي. که د خپل کار سره مینه و نه لرئ، هیڅکله نه سئ بریالی کېدلای. د کار سره مینه ستونزي له مخي څخه لیري کوي او هغه ځای ته چي تاسي غواړئ ورسبړی رسوي. زه د ساختمان د کار سره مینه لرم او هغه خوند چي له خپل کار څخه یې اخلم، له سختو ستونزو څخه مي را باسي.

### 8. که خپله دنده یا عاید له لاسه ورکړئ څه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اخيرنۍ ازموينه ده، که، چيري داسي يوه پېښه و سوه، چي ستا سي د بې پيسو کيدو(ډيواليتوب) سبب سوه څه کوئ.

د صفر څخه يې پيلوئ او که دغم زنګون په بغل کی نيسئ.د نړۍ قدرتمند خلګ په معمولي ډول د سترو ستونزو سره مخ کيږي. که غواړئ ستر شخص و اوسېږئ، بايد د لويو ستونزو سره د مقابلې جرئت ولرئ. کله چي ماتي و خورئ دوست به و نه لرئ او هيڅوک به کمک درسره و نه کړي.

**9. کومه جمله ستاسي وړتيا په ښه ډول بيانوئ؟**

ستاسي وړتيا ترهغه ډېره ده، چي تاسي يې فکر کوئ. زيات خلګ ۵۰٪ انرژي په کار کي مصرفوي تاسي هم کولای سئ، چي دغه انرژي په ځان کي پيداکړئ او هغه په ښه ډول و کاروئ، هغه کسان چي پرخپلو کارونو مسلط دی په مينه سره دغه انرژي په کار کي مصرفوي. تاسي هم خپل د کار سره مينه ولرئ او پرېږدئ، چي دا مينه مو د انرژي څخه برخمن کړي.

**10. کله، چي يو څوک در ته وايې د کار څخه دي ګټه نه ترلاسه کيږي څه کوئ؟**

که غواړئ بريالي سئ د منفي کليماتو نه اورېدل عادت و ګرځوئ. په ماشومتوب کي، چي کله مور او پلار، ښوونکي او مشران تاسي ته **مه او مه کوه** دربښيې، که مو د هغوئ خبرو ته غوږ ايښودئ ښه ماشومان شمېرل کيږئ دا ځکه چي مشرانو دا زده کړي دي، چي (مه) يعني (مه)؛ خو که تاسي (مه ) و منئ کېدای سي ځای ته و نه رسېږئ. که غواړئ د نړئ د ۲٪ تر ټولو لوړو کسانو څخه سئ، واقيعت پيدا کړئ. په کار کي تاسي د مور، پلار او ښوونکی سره سر او کار نه لرئ. خلګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسي ښه والی نه غواړي، بلکي خپلي ګټي تعقيبوي اوتاسو ته د (نه/ مه) په و يلو سره د خپلو ګټو ساتل غواړي او ستاسي مشوره په پام کي نه نيسي. که غواړئ خپل هدف ترلاسه کړئ، مه پرېږدئ چي د نورو (مه ) تاسي و دروي. په هغه لار پسي وګورئ، چي (نه) په (هو) بدل کړي، او يا داسی لار پيدا کړئ چي دغه ( نه، يا ) ستاسي پر اهدافو تاثير و نه غورځوي.

### 11. بايد اړينه پرېکړه و کړئ؛ خو نه پوهيږئ، چي څه و کړئ، کوم کار مو د راتلونکي پرېکړه بيانوي؟

که پرځان باور لرئ زيات وخت بايد خپل احساس تعقيب کړئ، ما هغه تر ټولو ښه معاملې چي سرته رسولی دي د خپلو احساساتو څخه مې مرسته غوښتې ده. هغه احساسات موږ ټوله لرو؛ خو بايد په ياد و لرو، چي د هغوئ سره بايد په تماس کي سو او ګټه ځني واخلو.

### 12. تاسو خلګ څنګه پېژنئ؟

نړۍ د صبر کونکو او زغم کونکو خلګو له پاره ځای نه لري. په نړۍ کي زيات بې رحمه او سخت زړه لرونکي خلګ شتون لري. تاسي ته موسکا کوي؛ خو په فکر کي ستاسي د لمنځه وړلو اراده لري. زمری په ځنګل کی د لوږي په خاطر دحيواناتو ښکاراو وژنه کوي؛ خوپه کار کي کېدای سي ډېر خلګ يا د ساتېري په خاطر تا سي له منځه يوسي او يا په دې خاطر چي نورو ته خپله وړتيا و ښيې. حتی ستاسي ځيني دوستان ستاسي برياليتوب نه غواړي، هغوئ په هغه څه چي تاسي يې لرئ (پيسې ، کور ، کار، ماشين ، او ...) په لاسته راوړلو پسي پسې دي. تر ټولو ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلګ مقرر کړئ؛ خو همېشه د هغوئ څارنه وکړئ او د هغوئ څخه تر ټولو ښه کار وغواړئ.

**13. کله، چي پوه سئ، یو څوک تاوان درته رسوي د هغه سره څه ډول چلند کوئ؟**

کله، چي څوک تاسي ته تاوان رسوي له منځه يې یوسئ. دا یوهمیشنئ نصیحت نه دئ، بلکي واقیعت دئ. که يې له منځه یونه سئ، له هري ستونزي (بلا) سره، چي مخ کېږئ حق مو دئ. کله، چي يې له منځه یوسئ هم به ښه احساس ولرئ او هم به بل څوک جرئت ونه کړي چي بد لاري درسره وکړي. زه د له منځه وړلو سره مینه لرم. زما سره هم ظلم کیږي؛ خو کله چي هغوئ له منځه وړم نور يې نو ټول فکر دې ته راټول وي، چي د څه ډول کس سره ظلم کوي. نړۍ د ځنګل په څېر سوې ده ټول غواړي بده استفاده و کړي او که تاسي له منځه وړل و نه کړئ او له جنګېدو څخه و ويرېږئ، د هغوئ له پاره ښه شومه (تلکه ،بهانه) یاست ترڅو تاسوته پلان درکړي، تاسی کوچني حساب کړي او په ارزښت او درناوي درته قایل نه سي. خپل ځان کښته مه ګڼئ، ځکه، چي نور په همدې خاطر تاسي ته په احترام قایل کیږي.

**14. هر څه لرئ، په ښه ډول پر مخ ځئ او خپلي موخي ته و رسېدلاست، اوس څه فکر کوئ؟**

که څه هم هغه وخت، چي هرڅه په ښه ډول روان وي؛ خو د سروزرو د لاسته را وړلو له پاره استراحت نسته. که چاري په ښه ډول مخته رواني وي د تېرو هڅو اوکړنو پایله ده، که کښت ته اوبه ورنه کړئ و چیږي. صحیح ده، چي ځیني کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بریالیو کورنیو کې دنیا ته راغلي دي؛ خو ترډېره موږ باید د بریالیتوب له پاره سختي هڅي و کړو.

15. **د واده په برخه کي د تېروتني په اړه څه فکر کوئ؟**

هیڅ تېروتنه د واده له تېروتني څخه ډېره بده نه ده، غلط واده نه یوازي ستاسي افکار درګډوډ کوي، بلکي د خپل هدف څخه مو هم اړوي اوژوند مو در ټوټې ټوټې ( دړي وړي ) کوي.

**د نمرو مجموعه**

که مو ۴٦ او د ٦۰ ترمابین نمرې وړی وي ستاسي ځای په مابین یامرکزکي دي، که څه هم نه لوړي زده کړي ولرئ او نه زیاتي پیسې به لاس کي و لرئ په سختو هڅو سره سل په سلو کي بریالی یاست؛ خو که مونمرې ۴٦ ته نه رسیږي، و ګورئ، چي پوښتنو ته مو څه ډول ځوابونه ویلی دي او ترهغه ټکو لاندي، چي سرته یې نه رسوئ لیکه کش کړئ. تر ټولو اړینه دا ده، چي زما د فکر طرز ته متوجه سئ، زما احساسات درک کړئ او خپل چلند(کړنلاره) زما کړنلاري ته بدل کړئ اوبیایې و ازمایاست. باوري یم، چي د نمرو مجموعه به مو د دې کتاب د لوستلو وروسته لوړه سي.

**(بل زنګر)**

**د لمړي څپرکي څخه د بیل زنګر اخیستنه**

ما د Learning annex د مؤسس او رئیس په توګه دا فرصت ترلاسه کړی دی، چي د سلګونو بریالیو خلګو سره په اړیکه کي سم، میلیونران او میلیاردډران، چي له هیڅ څخه و هر څه ته رسېدلي دي او خارق العاده کارونه یې په ژوند کي سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسولي دي، هغوئ ټوله په خپل ځان کي د بریالیتوب یو راز لري، چي هغه استقامت دی، د بېلګي په توګه ډونا لډ ترمپ؛ حتی هغه مهال، چي تر ټولو په بدو شرایطو کي يې قرارهم درلود، هيڅكله خپلي موخی نه دي پري ايښي.

دا استقامت دی، چي ترهرڅه زيات قوت دربخښي. داسي ډېري ورځي شتون لري، چي تاسي فکر کوئ نور بس دی. څومره منفي ځوابونه باید واورئ ! نور نه سم کولای مخته ولاړسم، حتی یوه نفر ته هم نور نه سم کولای زنګ و وهم یا د یونفر سره لیدنه و کړم، اخر ترکومه باید (نه) واورئ، سره له دې، چي په دې ښه پوهيږو، چي هره ورځ خپل هدف ته نژدې کيږو.

کله، چي تاسي هره ورځ منفي ځوابونه تر لاسه کوئ او ستاسي پر مخ دروازې نه خلاصيږي او یا هيڅوک تاسي ته جدي پاملرنه نه کوي، ښکاره ده، چي استقامت ته د اړتيا زيات احساس کوئ او بلاخره د هغې ورځي له پاره، چي واقع کېدو ته يې انتظار باسئ اړيکه ورکوئ، د بېلګي په ډول یو پېريدونکی پيداکوي یا یوتړون ترسره کوئ.

اوس هغه قول چي کړی مو دئ باید تر سره يې کړئ او هغه ستونزي، چي موپه لاره کي واقع کيږي په استقامت سره حل کړئ. اوس استقامت ته زیاته اړتیا لرئ تر ځو هغه سرته و رسوئ. د هغه سیالانو او رقيبانو په وړاندي د هغه کار له پاره، چي سرته يې رسوئ او هغوئ هم غواړي سرته يې و رسوي و جنګيږئ.

ما د استقامت ارزښت ډېر وخت مخکي هغه وخت تجربه کړ کله، چي مي په نیویارک کي د مشهوري غذا پلورنځي (Zebra Resturant) درلودونکي آغلي ماري کلاین څخه وغوښتل ترڅو نوموړي په Learning annex کي د غذايي موادو له پاره د بازار موندنی په اړه خبري و کړي. د ځانه سره مي فکر و کړ چي د نیویارک خلګ به د دې سیمینار سره ډېره لیوالتیا و ښوي؛ خو دا چي هغې د ماهیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصابي درلودل او اوړ ورکول سوی و ترخو ماهيان نازک نازک ميده کړي، زما غوښتنه رد کړل.

که تاسي تر اوسه Zebra ته نه ياست تللي، حتماً ولاړسئ مطمئين يم، چي په Zebra Resturant کي به له پلورلو څخه خوند واخلئ. په داسي حال کي کورته ولاړم، چي ماري کلاين مي غوښتنه رد کړې وه، په نا آرامۍ سره کورته و ګرځيدم او په قدم و هلو مصروف سوم، فکر مي و وهی او د ګل پلورنځۍ سره مي تماس و نيوی او ورته و مي ويل يوه د ګلانو ښايسته غونچه د ۲۰۰ ډالرو په ارزښت په ځانګړي جوړښت سره د Zebra له پاره و ليږه.

په ۱۹۸۰ لسيزه کي مو په ۲۰۰ ډالره کولای سوای ډېره ښايسته د ګلانو ټوکری رانيسئ. ګل پلورنځی ته مي وويل: ترهغه، چي زه در ته وايم د۲۰۰ ډالرو په ارزښت د ګلانو يوه غونچه Zebra ته استوه. په نهمه ورځ مي وخت پيداکړئ ترڅو فکروکړم، چي ۱۸۰۰ ډالره لګښت مي بې ځايه د څه له پاره وکړ. د ماری کلاين لخوا مي دفتر ته تلفون وسو او و يې پوښتل څه شي بايد و کړم، چي نور تاسي ګلان را و نه ليږئ، زما دفتر نور ستاسي د ګلانو له پاره ځای نه لري په هم هغه شېبه مي د هغې څخه غوښتنه و کړل، چي يوه شپه د نيويارک خلګو ته د خبري کولو له پاره Learning annex ته راسي.

ماري کلاين په Learning annex کي خبري وکړې، او له ځانه سره يې د نمونې په توګه د (زانګر) د غذاوو څخه ډکي مجمې راوړې چي ټوله يې ډېر جلب کړل. هغې نه هېرېدونکی کنفرانس ورکړ، يوه ورځ وروسته، چي ټوله د ماري کلاين او د Zebra د غذاوو په اړه په خبرو بوخت وه نابېره مي د دفتر دروازه خلاصه سول او د زانګر د کارت سره مي د ګلانو دسته دفتر ته راوړل سول او د کارډ پرمخ ليکل سوي وه زانګر ستا څخه ډېر خوښ دی، چي بيا دا کار(د ګلانو راوړل)تکرار نه سي؛ خوما خپل کار سرته رسولی و او دا هنر مي څو ځله تکرار کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استقامت او مقاومت په اړه یوه بله کیسه لرم، د دې واري مي غوښتل د ( شتمن پلار) پروګرام جوړونکي رابرت کېرسک سره خبري و کړم. هر وخت به مي د هغه د دفتر سره اړیکه نیول؛ خو هغه او شریک یې آغلی ( شرن لچر) مي تلفون ته ځواب نه وایه، حتی یوه ورځ چي په (فینیکس) کي یې خبري کولې د سهار پر ۵ بجې د نیویارک د ( جان اف . کندي ) د هوایې ډګر څخه می فینېکس ته پرواز و کړ.
د خبرو کولو وروسته د سټیج څخه په پسې سوم او غوښتل مي، چي له هغه سره خبري و کړم؛ خو راته وویل سول چي د ملاقات د مهال ویش څخه پرته کیدای سي ځوک قبول نه کړي. هغه ته می وویل: هغوئ حتی زما ټلفونونو ته ځواب هم نه وایې. د چارو مسؤل یې راته وویل:"بخښنه غواړم کیدای سي هغه هیڅ نه غواړي ستا سو سره خبري وکړي". کله، چي بیرته نیویارک ته را و ګرځېدم پرځان مي شرط کښېښود چي هره ورځ پر۱۱ بجې باید "شرن " او " رابرت " ته زنګ و وهم او دا کار ته مي ۳ میاشتي د مسواک وهلو په ډول ادامه ورکړه ترهغه، چي شرن لچر یوه ورځ راته زنګ و واهه او و یې ویل راتلونکي اونۍ به په نیویارک کي یم او کولای سې د ډوډی خوړلو پر وخت راسره و وینې. ورته و مي ویل ډېر ښه، هغه پوښتنه و کړه کوم رسټورانټ زما له پاره وړاندي کوئ؟ هغې ته مي د نیویارک یو له مشهورو رسټورانټونو څخه (21 Resturant)، چي د کار وروسته مي همېشه هلته ډوډۍ خوړل وړاندي کړ او هغې د ډوډی له پاره ورځ راته و ټاکل.
په ټاکلي ورځ سهار رسټورانټ ته ولاړم هغه شخص چي زما مېز یې ځانګړی کړی و د هغه سره مي خبري و کړې او هغه ته مي یو ۲۰ ډالره ورکړه، او ورځني و مي غوښتل چي کله زه د آغلې شرن لچر سره را داخل سم مخ ته راسه او راته و وایه، چي " سلام ښاغلې زنګر، ستاسو همیشنی مېز اماده دی " هغه ۲۰ ډالرو ته و کتل او ځواب یې راکړ "امکان نه لري " ما جېب ته لاس کړ او د ډالرو ۵ شلیان می نور هم ورکړه هغه و خندل، هغه ته مي وویل: په یوه ساعت کي به هلته یم، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت وروسته هلته و رسېدم هغه په داسې ډول زما سره خبري و کړې چې زما د احترام او د هغه د جملو د اورېدلو " سلام ښاغلې زنګر ستاسو همیشنی مېز آماده دی او ستا سو همیشنی خدمتګار مو هم درلیږم " څخه زه حیران سوم؛ خو کار یې قناعت بخښوونکی و، د ډوډی خوړلو په وخت کی مې شرن لچر قانع کړه.

رابرت نه یوازی یوځل بلکې څو ځله یې په Learning annex کې خبرې و کړې، چې دا زما د مقاومت او د منفي ځواب د نه اورېدلو د روحیې پایله وه. ټوله هغه کسانو، چې په Learning annex کې خبرې کړې دې خپل بریالیتوب یې د منفي ځواب په مثبت ځواب بدلولو کې لیدلی دی. هغوئ ټوله د لویو ستونزو پر وړاندې جنګېدلې دي او بریالیتوب ته رسېدلي دي. ستونزو د ډېرو د کارمخه ډب کړېده؛ خو لوی سوداګر( تجاران) استقامت خپل ورځنۍ عادت ګرځوي او پوهیږي، چې استقامت د بریالیتوب اړین شرط دی. تاسې په دې کتاب کې کېدای سي ډېر رازونه زده کړئ؛ خو دا مه هېروئ، چې مقاومت د بریالیتوب ستر راز دی.

**د لمړي څپرکي لنډېز**

ګټونکي په ژوند کې ځانګړی صفت لري، چې زه هغه ته د "ټرمپ صفت" وایم دا صفت هغوئ د۹۸٪ خلګو څخه جلا کوي. ګټل زده کېدونکی فورمول لري، چې په خپل ځان کې ډېر څرګند دی. شتمن کېدل او شتمن پا ته کېدل ډېر سخت کاردئ ممکن ډېرو خلګو ته زیان و کړي، تاسې باید سر سخته او مقابلې ته چمتو و اوسئ. د لمړي څپرکي ازموینه د دې له پاره ده، چې تاسې دې ته چمتو کړي، چې څرنګه کولای سئ د بریا لیتوب صفت (خاصیت) خپل کړئ، دغه کتاب ولولئ ترڅو زده کړئ، چې د ګټلو له پاره باید سرسخت و اوسېږئ او له هغه څخه وروسته بیا ازموینه ورکړئ او خپلو ځوابونو ته مو دقت و کړئ؛ باوري اوسئ، چې لوړې نمرې به خپلې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## علاقه

که د کار د سرته رسولو سره مینه و لرئ بریالي کېږئ. په دې صورت کي تاسي سخت کار کوئ، زیاتي هڅي کوئ، په خپل کار کي پرمختګ کوئ او د خپل ژوند څخه خوند اخلئ. له هغه کار سره، چي سرته یې رسوئ د هغه پېژندل او د هغه سره مینه لرل د ژوند اصل دی. زما د لمړي کتاب په اول څپرکي کي مي و لیکل کومي معاملې چي سرته رسوم د پیسو لاسته را وړلو په خاطر نه دي، ځکه، چي دومره زیاتي پیسې لرم، چي هیڅ وخت به نورو پیسو ته اړتیا پیدا نه کړم، معامله کول زما هنر دی. ځیني خلګ ښایسته نقاشۍ کوي یا خپل هنر د مجسمو په جوړولو سره ښیي، زما هنر معاملات سرته رسول دي. شل کاله وروسته اوس هم د معاملاتو د سرته رسولو څخه ډېر خوند اخلم.

ما پرهغه څه، چي زما علاقه را پیدا کوي تمرکز کړی دی او دغه علاقې زیات شتمن کړی یم او نن د لمړي کتاب لیکلو تروږځي شتمن یم. د کار سره دومره علاقه لرم چي هیڅ شی زما له پاره تر کار ښه نه بریښي او دا تر ټولو ښه احساس دی. ځیني شپې خوب نه کوم اونه سم کولای تر سهار پوري د کار سرته رسولو له پاره صبر و کړم.

هغه وخت مي له یاده نه وزي چي لمړۍ کتاب مي پای ته و رساوه او زما له پاره وخت بد سو. ۱۹۹۰ لسیزه سخت کلونه وه؛ خو نه یوازي ډېوالي نه سوم، بلکي همداسي پاته هم سوم. سر بېره پردې د ملکیت (املاکو...) په کارکی ترهر وخت ښه هم سوم. پر کار باندي زما باور لرلو و کولای سول، چي د نوي بریالیتوب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ سم. هغه خبري چي ما په Learning annex کي وکړي، زما له پاره يې بریالیتوب درلود. (آپرنټیس) کیدای سي بیا دا پروګرام پیل کړي، په Learning annex کي زما ویناوي نړیوالي سوي.

د دغه دوو پروګرامونو له پاره ما د پیسو انګیزه نه لرل، حتی په دغه دوو پروګرامونو پسي زه خپله نه یم تللی، بلکي دغه دوو پروګرامونو زه خپله تعقیب کړم، هغه علاقه، چي ما له کار سره لرل د دې باعث سول، چي پیدا مي کړي؛ خو موږ باید دې ته منتظر نه سو، چي کار پیدا سي بلکي هغه کار، چي مو خوښیږي باید خپله یې پیدا کړو او هغه په لیوالتیا سره سرته ورسوو ترڅو د هغه پر اساس نور کارونه پیدا سي. خوښ یم، چي پیسې مي یوازینۍ د پرمختګ انګیزه نه وه. که نه په دې صورت کي به مي هیڅکله والمن Ski Resort (د سکي بازي کولو ځای ) په ۱۹۵۰ کي نه وای رانیولی او ترمیم کړی. ښاروالي کلونه پر دغه پروژه کارکړی و او د۲۰ میلیونه ډالرو په شاوخوا کی يې مصرف په کړی و، ماپه دغه څو کاله کي و کولای سول ډېر لوړ او مشهور تعمیرونه جوړکړم؛ خو څرنګه، چي مي د نیویارک سره مینه لرل دغه کار مي د نیویارک د خلګو د خدمت په خاطر تر کار لاندي و نیوی. د ښاروالي له پاره مي زیات وخت او پیسې سپما کړې او پروژه مي په څو میاشتو کي تکمیله کړه. زما انګیزه دا وه، چي دغه ښار او خلګو ته یوکار و کړم نه دا چي پیسې لاسته راوړم او ډېر خوښ یم چي دغه کار می سرته ورساوه او خپل وخت مي په دا سي ځای مصرف کړ، چي ارزښت يې درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**داخلي ذوق مو پيدا کړئ**

همېشه د پيسو فکرکول مناسبه حل لاره نه ده بلکي پر دغه هم فکر و کړئ، چي اوس مهال د خلگو اړتيا څه ده او د ټولني له پاره کوم کار مؤثر تماميږي. په دغه ډول کېدای سي پيسې پخپله راسي. اړينه دا ده، چي کار په داسي ډول سرته و رسيږي، چي شخص يې له سرته رسولو څخه خوند واخلي. په فکر کي کېدلای سي ډېر اسانه وي؛ خو زه فقط د دغه فلسفې څخه په کار اخيستلو سره توانيدلی يم ميلياړډر سم.

په ۱۹۷۰ کال کي مي زياتي ستونزي و گاللې او د دغه ښار ډېر تعميرونه او د هغوئ چاپيريالونه د له منځه تللو په حال کي وه. کاماډور پخوانی هوټل له منځه تللی و او د غريبو خلگو په هستوگنځای بدل سوی و او لوی تاوان يې ليدلی و. که دغه سيمي ته يو چا پاملرنه نه وای کړې په يوه بې ارزښته سيمه به بدله سوې وای. زه پوهېدلم، چي په هغه ځای کي عايد لاسته را وړلای سم (کاماډور) له منځه تللی هوټل مي په نوي (هايټ) هوټل تبديل کړ. په دغه کارسره نه يوازي ما و کولای سول، چي هغه نوي هوټل ته تر اوسه دوام او نوی ارزښت ورکړم، بلکي ومي کولای سول ډېرعايدهم خپل کړم.

هر کار، چي سرته رسوئ يو مسؤليت (ماموريت ) ځان ته و ټاکی ترڅو تاسي پرشوق راولي. د ځان له پاره تر هغو کسانو لوړ هدف و ټاکئ د چا لپاره چي يوازينی هدف پيسې وي. نظر مو پراخه کړئ او ټول تصوير و وينئ. ډېري اړتياوي مو ليري کړئ او د نورو له پاره ښکلا سلامتي، امنيت او ژوند په وجود راوړئ. هغه کار، چي د پای ته رسولو سره يې مينه لرئ، نوموړی هغه کار دی، چي تاسو يې په سرته رسولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي مهارت لرئ. خپلو مثبتو ټکو ته پاملرنه و کړئ او هغه کار سرته و رسوئ په کوم کي، چي قوي یاست. خپل د استعدادنو او هغه کارونو په اړه، چي سرته مو رسولي دي او د ویاړ سبب مو ګرځیدلي دي په اړه فکر و کړئ. د لویو کارونو سرته رسول تاسو ته خوښي در بخښي، د هغه کارپه اړه، چي دهغه سره مینه لرئ  فکر و کړئ او ستري لاسته راوړني په فکر کي انځورکړئ. هغه کار، چي سرته رسول یې خوښ لرئ هغه کار مو د انرژي په یوه منبع  بدلیږي.

د (اپل اوپیکسار) د کمپیوټر د مشرانو څخه (استیو جابز) د کمپیوټري ټکنالوژي سره مینه لرل. هغه له پخوا څخه د کمپیوټر ښه طراح نه و؛ بلکي د خپل کار سره یې مینه لرل. د خپل کارسره د هغه میني، هغه د کمپیوټر یو له ښو طرحه کونکو څخه کړ.

## سرته رسوونکي واوسئ نه خیال وهونکي

مینه د عقل او وړتیا څخه هم مهمه ده. ما ډېر پوه او استعداد لرونکي اشخاص لیدلي دي، چي ماته یې خوړلې ده ځکه، چي د کار د سرته رسولو سره یې پوره مینه نه لرل. زه دا سي خلګ ارمان کونکي بولم، چي تاسي یې هم حتماً پېژنئ. هغه لوی فکر کوونکي اشخاص، چي فکرکوي که یې یو ورځ به یې د کارټول شرایط پوره سي ډېر به بریالي سي؛ دغه ډول خلګ د یوې داسي ورځي په انتظار کي دي، چي فوق العاده شرایط ورته آماده سي. هغوئ هیڅکله د خپلو فکرونو په اړه نه لاس په کار کیږي. د هغوئ طرحي او فکرونه همېشه د هغوئ په مغز کي پاته کیږي، هیڅکله یې په زړه کي ځای نه نیسي، بې میني او بې زړه فکرونه بې وزنه کیږي. په مینه سره باید خپلو فکرونوته وزن ورکړئ، که نه فکرونه مو باد وړي او ورک کیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه هغه عنصر دی، چي فکرونو ته وزن ورکوي. ما ډېر کسان لیدلي دي، چي په مینه يې ځان بریالیتوب ته رسولی دی.

ما د کار سره مینه او علاقه له پلارڅخه زده کړل. زما څخه تړوله پوښتنه کوي، چي تا ساختماني کار له پلار څخه زده کړی دی؟ زه ورته وایم بلې ما" ساختماني کار له پاره څخه زده کړ او دهغه څخه مي زده کړي دي، چي اووه ورځي په شوق سره کاروکړم" د هغه خوشحالي د کارسره دهغه دمیني له کبله وه.

کله به چي زما پلار له کار څخه تلی، همېشه به يې کتل، چي ایا د ورځي په پای کي کارکوونکو تړوله ځایونه جاروکړي دي؟ هغه به ویل اپارتمانونه باید همېشه د گل غوندي پاک وي او حتی د رخصتي په ورځ به يې له هغه څخه کتنه کول. کوم وخت، چي به نوموړي کار کوئ اپارتمانونه به يې ډېر ارزانه، محکم او ژر جوړول. په بروکلین کي د هغه سره په عین وخت کي یوبل چا هم پرهغه سړک تعمیرونه جوړول. پلار مي ډېر چټک، ډېر ارزانه او په ډېره ښه توگه کار سر ته و رساوه؛ خو د سړک پر همدغه اړخ يې د رقیب اپارتمان نه سو خرڅ او هغه يې په اساني سره زما پر پلار خرڅ کړ، زما پلار به هغه نیم کاره تعمیر په اساني او ډېر کم وخت کي تکمیل او خرڅ کړ، ما په کار کي خوشحالي له خپل پلار څخه زده کړه.

ما د کار سره مینه لرل له پلارڅخه زده کړل او دومره د کارسره مینه لرم چي د ۲-۴ ساعتونو څخه اضافه نه ویده کېږم، زما ستره مینه د معاملې د سرته رسولو سره ده، زه له دې سره مینه لرم، چي رقیبان له پښو وغورځوم او بریالی سم، په ځانگړې توگه په لوی معاملو کي. د معاملي په پایله گټي ته رسېدل، د لویو خوندنو اخیستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوندي ده. تر ټولو ښه معامله په خپله ګټه پای ته رسول ډېر خوند لري، همدغه دلیل دی، چي تر ټولو ښه معاملات سرته رسوم.

زما بله مینه د ښایسته ځایونو(تعمیرونو) د جوړولو سره ده، همدغه میني زما له پاره بریالیتوب لرلی دی. د ښایسته املاکو (تعمیرونو) جوړول ترټولو د ښه او سختو مسلکونو (هنرونو) څخه دی، چي ډېر زیات د قت ته اړتیالري. ټول پوهیږي، چي په کار کي بې غوري د اشخاصو د تاون باعث ګرځي. زما علاقه له دې سره ده، چي نا تکمیله تعمیر رانیسم او هغه تر ټولو په ښایسته او ښه تعمیر تبدیل کړم. کله، چي خپل دفتر( ټرمپ ټاور) ته داخلېږم د جوړښت څخه یې خوند اخلم. له دې سره مینه لرم، چي نور په حیرانتیا سره د مرمر ډبرو ښایسته صالون ته داخل سي او د ۲۰ متره ابشار څخه خوند واخلي، سره له دې، چي پورته کسان مي تراوسه نه دي لیدلي؛ خو نیک نظري یې خوښوم او د هغوئ سره همنظره او نژدې یم، ځکه هغوئ د Trump Towerد جوړولو پرمهال زما احساس درک کاوه، چي همدغه احساس ته د نورو تعمیرونو جوړولو له پاره هم اړتیالرم او پوهیږم چي د تعمیرونو جوړولو پرمهال ټوله لیدونکي زما مینه درک کوي.

"استن " زما له ملګرو څخه دی، چي پلار یې د اسهامو په را نیولو کي ډېر جدي و. او د همدې لاري میلیارډر سوی و."استن" په پوره قوت سره هڅه وکړه، چي د پلار په ډول د سهمونو په خرڅولو او رانیولو کي کسات اخیستونکی و اوسي؛ خو و نه سو. استن پرما ګران دی؛ خو د پلار په ډول تحمل لرل یې اسانه کار نه دی. استن په اصل کي د سهمونو د خرڅولو او رانیولو څخه راضي نه و، هغه د سهمونو په رانیولو کي ډېري پیسې له لاسه ورکولې؛ خو بیا یې هم نه سوای کولای، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلارته و وايې، چې دغه کار خوند نه ورکوي. هغه د ګلف د يو کلب غړی و، يوه ورځ د کلب مديريت د استن څخه وغوښتل چې کلب بيرته و رغوي، په دې خاطر نه، چې له دې کار څخه ګټه لاسته راتلل، بلکې په دې خاطر چې استن د کلب پر مدير ګران و او مطمئين و، چې استن ښه سړی دی.

د توقع خلاف استن کار په داسې ډول سرته و رساوه، چې باور نه کېدئ. هره ورځ به پر ۵ بجې هم هلته و او دا پروژه يې د يو کال پرځای په شپږمياشتې کې تکميله کړل، د بيا رغوني لګښتونه هم نيمايې ته ټيټ سول او د کلب مځکه لس ځله تر پخوا ښه سول، استن د خپلې مېرمنې او اولادونه له نظره بيخي بل ډول شخصيت جوړ سوی و، له حده زيات خوږ صحبته او خندرويه سوی و، د کارکوونکو سره يې قدم پرقدم کار کاوه او له خپل کار څخه يې خوند اخيست.

کله چې يې کار ختم سو د ګلف د کلب مدير د هغه په افتخار شاهې ميلمستيا وکړه او نوموړي ته يې با ارزښته ډالۍ ورکړې. د دې ميلمستيا څخه وروسته استن بيا د سهمونو رانيولو ته و ګرځيدی؛ خو بيا هم د په خوا په ډول تاواني سو. په تلفن کې مې هغه ته وويل: "استن ، ته غلط کار کوې، ستا ځای هلته نه سته " هغه وويل: "خو پلار مې دا خوښوي چې د هغه په څنګ کې و اوسيږم او نه سم کولای هغه يوازې پرېږدم" ورته و مې ويل " کار دې پرېږده او ولاړ سه په تعميراتو کې کار و کړه او يا د ګلف مځکې بيا و رغوه " هغه بيا هم وويل: " نه، نه سم کولای."

د دريوکالو راهيسې هغه د اسهامو رانيول او خرخول پرې اينښې دي او تعميراتو ته يې مخه کړېده، په دې برخه کې اوس هغه يو له ښووکسانو څخه دئ او هر وخت هغه وينم، چې خوښ او خوشحاله دی او په وينا يې يونوی ژوند يې پيل کړئ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه، چې بلاخره يې د هغه څه پر خلاف حرکت و کړ کوم، چې توقوه ورځني کېدل.
د خپل ژوند کنټرول يې خپل په لاس کي واخيست او ژوند يې بدل کړ.
په همدې اساس که مو ژوند هغه ډول نه وي لکه څنگه، چې يې توقوع لرئ، بېره مو ليري کړئ او د خپل ځان څخه و پوښتئ، چې ايا د ژوند څخه ستاسي برخه همدغه ده ؟ فرق نه لري، چې څومره عمر لرئ. خپل ځان په هغه متر مه اندازه کوئ کوم چې نورو ستاسو له پاره په پام کي نيولی دی، بلکي خپل ځان د خپلو احساساتو پر اساس اندازه کړئ.
دا کار کېدای سي تاسي د کورنۍ او دوستانو په وړاندي دريدلو ته اړ کړي. دوستان او کورنۍ مو  فکر کوي، چې تاسي په ښه ډول پېژني او په دې ښه پوهيږي، چې ستاسي له پاره تر ټولو ښه لار کومه ده، په خپل ځان کي نوی ارزښت پيداکړئ، کېدای سي د نوي ارزښت سره ترټولو ښه احساس و کړئ.

**تر فشار لاندي ښه والی**

د بريالیتوب له رازونو څخه يو د فشار زغمل دي. بايد په ياد و لرئ، چې څنگه کولای سئ له فشار څخه ځان و باسئ، دا فرق نه لري که هرډول فشاروي؛ که د تعميراتو په برخه کي وي، که د خپل کارپرلاره اچولو په اړه وي، يا د نورو له پاره په شرکت کي د کار کولو په اړه وي بايد د زياتو فشارونو د زغملو وړتيا و لرئ.
 زيات وخت فشار د ستونزو څخه سرچينه اخلي، ما زده کړي دي، چې څرنگه د ستونزو پر ځای پر حل لارو فکر و کړم. که حواس مو ټول ستونزو ته راجمع کړئ، حل لارو ته به څومره انرژي پاته سي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله، چي ما په تعميراتو کي کار پيل کړ، د تعمير رانيولو له پاره مي ډېري پيسې نه درلودې؛ خو د دې پرځاى، چي حواس مي ستونزو ته راجمع کړم، پرحل لارو مي فکر کاوه، چي څرنګه کولاى سم په لږو پيسو تعميرات رانيسم. ټول خلګ د بریالیتوب له پاره نه دي پيدا سوي. غواړم د کار د منفي انرژي په برخه کي هم يوڅه خبري و کړم. نه پوهيږم، چي ولي؛ خو ډېر خلګ نه سي کولاى بريالي سي. د هارورډ یا وارټن د پوهنتونونو څخه په لوړو نمرو فارغين کېداى سي د بريالیتوب بوى هم حس نه کړي، زه دا ډول کسان ډېر پېژنم، چي د هغوئ څخه يې اکثره نه سي کولاى فشار و زغمي.

د سپورټ په برخه کي په اسانۍ سره کېداى سي دا تشخيص سي، چي يو شخص يا ټيم د فشار په مقابل کي څومره تحمل (زغم) لري. ډېر کسان ډېر ژر د فشار په وړاندي سرکښته کوي او لوبه پرېږدي؛ خو برعکس ډېر کسان بيا ترفشار لاندي ښه کار کوي.

يوملګرى مي، چي په محاسبه کي نابغه دى اود١٨٠ IQ (د ځيرکتيا نسبت) لرونکى دى ماته يې زنګ و واهه او ويې ويل "آه ډونالډ، ما يو کار کړئ دى، چي ډېر يې پرېشانه کړى يم. د مېرمني په ټينګار مي يو کور رانيولى دى؛ خو نه پوهيږم، چي د هغه قسطونه به ادء کړاىٔ سم او که نه. که مي و نه سوال کړاىٔ څه به وسي؟ اوف! دغه فشار ليونى کړى يم. زما دې محاسب ملګري دنده دا ده، چي نورو ته مشوره ورکړي، چي په خپلو پيسو، چيري پانګونه و کړي د ١٠ ځله تلفون کولو وروسته، چي د ډېري او تشويش څرګندونه به يې کوله ورته مي وويل: "جيم خوشحاله اوسه، ته د يوشرکت له پاره کارکوې، که نه هيڅکله به نه واى توانيدلاى،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل د ځان له پاره کار و کړي ” هغه نا ارامه سو؛ خو ما ادامه ورکړه او ورته و مي ویل “د فشار په وړاندي هیڅ زغم نه لرې“

زه خورا په ښه ډول فشار زغمم او د دې کار له کبله مي لوړ بریالیتوبونه لاسته راوړي دي، په ۹۰ یمه لسیزه کي د مځکو بازار مات سو، میلینونه ډالر پوروړی وم، حتی د ډېرو لویو او مالی قدرت لرونکو پوروړی سوم. زما ډېرو ملګرو د مځکو په کار کي ستونزي لرلې او د ډېوالیتوب سره مخ سوه، زه هم د ډېوالیتوب سره مخ وم؛ خو ډېوالي نه سوم. ښه دوره نه وه؛ خو زور مي یې راوړ او زړه مي نه غواړي بیا دا دوره تکرار سي ، ما د خپلو کار کوونکو څخه یوهم نه کی جواب، فشار زغمل مي زده کړه نه یوازي مي فشار و زغمی بلکي په دې هم پوه سوم، چي ترفشار لاندي هم ښه کار کولای سم.

ما بانکونو ته وویل: تاسي باید په داسی حالت کي ما و نه ېږوئ، پرځای د دې، چي زاری او ننواتي و کړم، هغوئ مي دغه ته تشویق کړل ترڅو د قسطونو په اداء کولو کي راسره زیاته همکاري و کړي. بانکونه همېشه د خلګو د شکایاتو څخه ویریږي، ما خپل ډېوالیتوب اعلان نه کړ او هغوئ زما سره خپلي اړیکي و ساتلې، مګر ماهم په دې اړیکو کي برخه لرل او همېشه می د بانکونو د مسؤلینو سره تر ټولو په ښه لهجه خبري کولې او ځان مي د هغوئ ملګری ښودئ.

زه یولوی مدیر یم او همېشه پوهېږم، چي د ژوند ښېښه کیدای سي فقط په ګومه(کوته) وهلو سره ماته سي. ما په تصادف سره درې تنه خپل تر ټولو ښه کارکوونکي له لاسه ورکړل. مګرهیڅ پېښه هم زما د تمرکز له منځه تللو سبب ونه ګرځېدل. هغه تګلاره، چي زه یې د فشار د زغملو له پاره لرم دا ده، چي د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئلې د منفي ټکو پرځای د هغه پر مثبتو ټکوفکر کوم، حتی کله به چې مي محاسبينو زما د پورونو په اړه حساب را کاوه، هم ښه پوهېدلم چي ځرنګه د فکر کولو ډول بدل کړم. د منفي ټکو د اورېدلو پرځای، دعراق  زخمي سويو سرتيرو ته ورغلم او هغوئ مي په فلوريډا کي خپل کلب ته د عوت کړل او د کلب ټوله ساحلي خدمات می په وړيا ډول د هغوئ په اختيارکي ورکړل. د کلب کارکوونکوويل: هغوئ ډېر خوشحاله سول. جالبه لا دا وه هغه کسانو، چي لاس يا پښه يې له لاسه ورکړي وه تر ټولو مهربانه وه.

کله، چي ډېرتر فشار لاندي را سم، د خپل ځان سره وايم"و ګوره په عراق کي څه پېښ سول يا د زامنيا په طوفان ۳۰۰۰ تنه و وژل سول، نو هوښيار او پوه اوسه هغه ستونزي، چي ستا په نظر غټي دي، د نړۍ پر دوران کېداى سي دومره تاثير و نه لري"

يوه ورځ مي ملګري راځخه و پوښتل، چي ځرنګه په دومره اسانۍ او بې تفاوتي سره د ٦٠ زرو تنو په وړاندي خبري کوم. په جواب کي مي ورته وويل:" زه په دې اړه هيڅ فکرنه کوم ". هغه وويل: " دا ترټولو ښه ځواب دی، چي تر اوسه مي د چا څخه نه و اورېدلی"واقيعت دا دئ پرته له دې فکر څخه، چي يو کار ځرنګه ترټولو په ښه ډول سرته و رسوم، پرهيځ شي زيات فکرنه کوم. کله، چي سپين ږرى(بوډا) سم د فکر کولو له پاره زيات وخت لرم؛ اوس يوازي پر دې فکرکوم، چي څنګه کولاى سم کار په ښه ډول پاى ته و رسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خپلو تېروتونو څخه درس واخلئ

هرڅوک کېدای سي تېروتنه و کړي، یا هم ورسره مخامخ سي؛ دا ژوند دی او په ژوند کي باید دغه حقیقت و منل سي، چي حتی ډېر لوړ او مخکښ خلګ هم تېروتنه کوي؛ تېروتنه هم ښه او هم بد معاملات ماته راښیي؛ خو د بریالیتوب فورمول دا دئ؛ په هغه کارکي، چي مصروف یاست د نورو د تېروتنو او بریالیتوب څخه درس واخلئ.

## هیڅکله مه ما یوسه کېږئ

د بریالیتوب راز په دې کي دی، چي مایوسه نه سئ. که د کار د پاي ته رسولو سره مینه و لرئ هیڅکله به ما یوسه نه سئ. کله، چي فکر کوئ د پرېښودل سوي کار بیرته پیلول ناممکن دي؛ همدغه وخت دی ترڅو هغه معلومات کوم چي د بریالیتوب له پاره مو اړین دی د ځان په اړه لاسته راوړئ.

باید صبر کونکي او متحرک و اوسیږئ. کله، چي د خپلو موخو په اړه خبري کوئ لوی فکرکوئ او ربښتیا کوونکي و اوسیږئ. زه دیرش کاله د فرصت په انتظار وم. د مځکي پرمخ شتمن کسان هغه دي، چي هیڅکله نه نا امیده کیږي. که د کار سره مینه لرئ، هیڅکله یې مه پرېږدئ او په یاد و لرئ، چي پایلي ته به رسیږئ.

کله نا کله صبر له لاسه ورکړم او زړه مي غواړي هرڅه پرېږدم. داسي پېښبي ممکن ډېري واقع سي؛ خو د بریالیتوب راز په ادامه ور کولو کي دی، چي ښه بېلګه یې نوم وتي لوبغاړي دي.

هره نوې ورځ نوې تجربه ده. د دې هیڅ تضمین نه سته چي د سبا په پیلېدو سره به تاسي، چیري یاست. کله نا کله له بدي ورځي سره مخ کېږئ؛ خومهمه دا ده، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسي له همهغه ورځي څخه په لوړ سر را ووزئ. هيڅکله يوه موضوع پرته له دې، چي په جديت سره موتعقيب کړې نه وي، مه پرېږدئ. هغه کسان، چي د ژوند مسائل بېله علته پرېږدي د برياليتوب فرصت نه لري.

اروا پوهانو د هغه ميندو او پلرونو په اړه، چي دا ولادونو بې ځايه ستاينه کوي څېړ نه ترسره کړې ده او دې پايلي ته رسېدلي دي، چي د اولادونو بې ځايه توصيف او تعريف د هغوئ له پاره ګټه نه لري. که هر وخت د اولادونو د کوچني کار سرته رسولو په پايله کي ستاينه کوئ، دا صحيح نه ده. پرېږدئ، چي ماشومان مو د هغه ستايني له پاره، چي تاسي يې د دوی له پاره کوئ سخت کار و کړي او په نتيجه کي هغوئ ستاسی له لوري د ستايني په اهميت پوه سي.

ما خپلو اولادونو ته دا ښودلي ده، د ټولو هغو شيانو څخه، چي هغوئ اوس خوند ور څني اخلئ، زما د هغو سختو کارونو پايله ده، چي سرته مي رسولي دي. هغو ته مي ښودلي دي چي د هرشي څخه د خوند اخيستلو له پاره بايد سخت کار و کړي.

"ايوانکا"، "ډانالډ" او "اريک" زما زامن دي، چي اوس هم د ټرمپ په سازمان کي کار کوي. هغوئ اوس د معاملو د زده کړي په حال کي دي او هڅه کوي ښه يې زده کړي، زه هم د خپل سخت کار کولو څخه راضي يم او هغوئ هم د خپلو نتايجو څخه راضي دي.

که تر اندازې زيات د خپلو اولادونو ستاينه و کړئ هغوئ داسي فکر کوي، چي برياليتوب د هغوئ حق دی، که څه هم د هغه له پاره کار و نه کړي، چي دا ستاينه سمه نه ده. کله، چي لويان سي او و ګوري چي د دنيا کار تر خبرو ډېر سخت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه څه، چي غواړي يې ژر په  لاس نه سي را وړلای، نو تېښته کوي او د لويو غوښتنو څخه په اسانۍ سره مخ اړ وي.

"ايوانګا " لور مي" نړۍ ته شتمن را تلل" ترعنوان لاندي  په يوه ټلويزيوني پروګرام کي برخه وا خيستل، دغه پروګرام د نورو شتمنو اولادونه هم معرفي کول، چي ډېرو يې د خبريالانو د دې پوښتني په ځواب کي "تاسي د شتمنو زامن، نړۍ ته شتمن راغلي ياست او چاپلوسه  ژوند کوئ او هر وخت ستاسي له پاره هر څه اماده وي" هيڅ و نه ويل او اجازه يې ورکړه، چي د مور او پلار بې احترامي يې و سي او حتي په دغه بې احترامي کي يې د خبريال ملګرتوب هم کاوه؛ خو ايوانګا ډېره ښه تشريح ورکړه او و يې ويل، چي د خپل مور او پلار د مزيت(امتياز) څخه ډېره مننوی ده؛ خو دا امتياز يې د سخت کار کولو په پايله کي لاسته راوړی دی او د دې امکاناتو څخه يې تر ټولو ښه ګټه اخلي. زه په ايوانګا وياړم.

په واقعي ژوند کي هرڅه ترسره کيدونکي نه دي، او که خپلو اولادونو ته و واياست "هرڅه ممکن دي" کېدای سي دا يو تېروتنه وي. واقيعت دا دئ هغه څه، چي تاسي يې غواړی بايد د هغه له پاره و جنګيږئ او هغه په لاس راوړئ. بايد مايوسه نه سئ، اوکله، چي فکر کوئ بريالي کيدونکي ياست، په ټوله انرژي(قوت) سره حرکت و کړئ او هيڅکله مو هيلي مه پرېږدئ؛ خو بايد په دې و پوهيږئ، چي حد او حدود هر وخت شتون لري.

ماته خلګ وايي ته، چي هرڅه ته لاس ور وړې سره زر کيږي؛ خودا سمه نه ده. زه يو تعمير جوړونکی يم او د اپرنټيس (شاګردي کول) په نوم د تلويزيوني پروګرام د وړاندي کولو فرصت مې لاسته راوړئ دئ. زه خپله د هغه تلويزيوني پروګرام څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ وم، د هغه سره مي مينه لرل او خوند مي ورڅخه اخيست، همدا دليل و چي هغه پروګرام بريالی و؛ خو د زياتو شيانو سره لکه: کمپيوټر علاقه نه لرم او د اوسني ډيجيټلي عصر سره مي مينه نسته، ځکه، چي هغوئ می په تحرک نه راولي.

ژوند د موانعو او رقابتونو څخه ډک دی او تاسي نه سئ کولای په هره برخه کي بريالي سئ، مهه داده هغه څه چي تا سي پرشوق راولي، پيدا کړئ او سرته يې و رسوئ، دا مهال مونو ټولي ستونزي د حل وړ ګرځي، دا فرق نه کوي، چي څنګه او په څه ډول ؛ خو موخي ته به و رسيږئ.

زه په خپل سازمان کی د هيڅ کار د پريښولو اجازه نه ورکوم ، پرته له دې، چي باوري سم ټولي ممکنه لاري ازمايل سوي دي. ما د سازمان له پاره په ۱۹۷۴ کي مځکه را نيول، او پرهغه مي Trump Palace (ټرمپ ماڼۍ)جوړه کړه، سره له دې، چي د دغه تعميرجوړولو ۳۰ کاله و نيول؛ خو هيڅ کله مي پرې نه ښود.

**د استرحت غوښتني د فکر څخه د باندي را ووزئ**

د (Business Week) په مجله کي زه تر ټولو مبارز شخص و بلل سوم. باوري نه يم، چي دا نوم دي زما له پاره سم وي ځکه، چي زه خپله هم ډېر نور مبارز اشخاص پېژنم؛ خو سربيره پردې په دغه لقب وياړم او خوښ يم، چي د مبارزې او جنګېدلو عادت لرم. تاسي هم بايد همېشه خپل ځان و ازمايئ او هغه کارونه سرته و رسوئ، چي نور خلګ يې پرغاړه نه اخلي. خپل ځان لويو لاسته راوړنو ته چمتو کړئ. په نيويارک کي رقابت زيات دی، زه همېشه د ستونزو په وړاندي د مبارزې په حال کي يم. حتی زه د خپل ځان سره هم په مبارزه کي يم، چي د هري ورځي کار تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېري ورځي په ښه ډول سرته و رسوم او پر مخ ولاړسم. زه همېشه غواړم ښه کار سرته و رسوم؛ خو دا فرق نه کوم چي څومره بريالی کېږم.

زما ژوند د پرمختگ په حال کي دی او زه د پرمختگ سره مينه لرم، په دې خاطر نه، چي پيسې لاسته راوړم بلکي د شرکت په پرمختگ کي د ونډې لرلو په خاطر زه متوجه سوی يم، هغه څوک، چي د تعميراتو(ملکيتونو) په برخه کي کار کوي هيڅکله نه متقاعد کيږي ځکه، چي همېشه په معامله کولو باندي بوخت وي. حتی داسي کسان هم پېژنم، چي په ۸۰ کلنۍ کی هم ملکيت رانيسي او جوړوي يې او د مرگ تر وخت پوري نه تقاعد کيږي، دا د کارسره دهغوئ دميني له کبله دی.

## حرکت و کړئ

لوړي هيلي و لرئ، ترهغه پوري، چي د لويو؛ خوبونو د ربښتيا کولو جرئت و نه لرئ، پرمختگ نه سئ کولای او هيڅ ځای ته کيدای سي و نه رسيږئ. کله چي مو موخي و ټاکلې د هغه موخو ته د رسيدو له پاره پلټنه و کړئ کوم، چي غواړئ ورته و رسېږئ. کله نا کله تاسو ته فرصت برابريږي؛ خو د هغه ويري له کبله چي له ځان سره يې لرئ نه پوهيږئ چي د کار وخت را رسېدلی دی. بايد له بېري څخه ليري و اوسيږئ او فرصتونه په ځنډ کي پرې نه ږدئ، که نه اهداف مو په باطلو ژمنو بدليږي، چي هيڅکله کېدای سي نتيجې ته و نه رسېږئ. ژمني مو همېشه پرځای کړئ. کوم کار، چي مو په فکر کي وي د هغه ترسره کول عادت و گرځوئ.

کله چي مو هغه کار پيدا کړ کوم چي خوند ورځني اخلئ، د هغه له پاره قدم واخلئ. ما د ملکيتونو رانيول د تحصيل له دورې څخه پيل کړل، تاسو هم هغه کار پيل کړئ، کوم، چي خوند ور څخه اخلئ. ستاسو د غوښتني سره سم تر يوې کچې د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول باید تاسي ته همیشنۍ لذت در و بخښي، یعنی نوموړی کار هم باید په پیل او هم په جریان کي خوښي بخښونکی وي. په اسانۍ سره کولای سئ د چا په سترګو کي د کار څخه خوند اخیستل حس کړئ.هغه کسان چي له کار څخه خوند اخلي و ګورئ همېشه د خپل کار په اړه خبري کوي، مطالعه کوي او له هغه څخه زده کړه کوي. د زیاتو تجربه لرونکو اشخاصو سره اشنا کیږي او له هغوئ څخه درس اخلي.

هر څومره، چي کیدای سی باید ژر تر ژره د هغه کار په سرته رسولو مشغول سئ کوم، چي خوند ور څخه اخلئ، ځکه، چي هیڅ شی پرته له تجربې څخه تاسي ته زیات څه نه سي در ښودلاي. د هغه وخت په انتظار کی مه پاته کېږئ، چي د کار د پیل له پاره دي هرڅه تاسو ته آماده کړي. وخت مناسب دی فقط کار سرته و رسوئ مطمئین اوسئ، چي د کارسره د میني لرلو په مرسته کولای سئ خپل هدف ته و رسیږئ.

**د دوهم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

په ښه ډول دهرکار سرته رسولو له پاره د هغه کار سره باید مینه و لرئ؛ خو دا اسانه کار نه دی. د ښوونکو او ټولني څخه مي د ماشومتوب راهیسي دا زده کړیدي چي "درسونه مو په جدیت سره و وایاست، ځکه، چي د خوښیو له پاره بیا وروسته ډېروخت لرئ" څومره، چي پرمختګ کوم هغومره کارکوم، فکر کوم چي خپل ځان باید کارته اماده کړم اوهره میاشت ښه عاید لاسته ځنی راوړم.موږ اکثره کسان فکرکوو، چي ښونځی او کار د خوښي کولو څخه بېل دي، په درس ویلو او کارکولو سره نسوکولای خوښ واوسو. ټول کارونه باید په جدیت سره سرته و رسوو. اړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه بولو، چي د خپل کار سره مينه لرو يا نه، بايد د کار سرته رسولو ته ادامه و رکړو!.
ډېرځوانان داسي يوه دنده ټاکي، چي هغوئ ته لوړ ټولنيز ارزښت وربخښي؛ خو بايد دا په پام کي ونيسئ، چي آيا په اصل کي ددې کار دسرته رسولو سره مينه لرئ که نه؟

زما پلار د لهستان څخه امريکا ته مهاجرت وکړ او په نيويارک کي د ښځو د لباسو په جوړولو بوخت سو. هغه همېشه خپل د کارځای ته تغير ورکوئ؛ خوهيڅکله يې کار پرېښنبود، هرکله به، چي يې کار ته بدلون ورکاوه نه ټکاني کيدئ، حتی که به د موقيعت بدلولو ته هم مجبوره کيدئ کار فرما ته يې اجازه نه ورکول، چي د ده طرحي ته تغير ورکړي يا د بې کيفيته ټوکر څخه استفاده وکړي.

يو ډاکټر ملگری مي، چي تحصيلي ځانگه يې د زيات عايد دلاسته راوړلو په خاطر ټاکلي وه، سره له دې، چي د مادي نظره څخه کاملاً رفا لري، وايي له دې کار څخه نفرت لري. نوموړی هروخت ماته وايې، چي بايد ډاکټر سوی نه وای.دا سي کار پيدا کول چي د سرته رسولو څخه يې خوند واخلئ د ژوند ترټولو مهمه پرېکړه ده، تر ټولو خوشحاله اشخاص هغه کسان دي، چي د خپل کار سره مينه لري. که مو دا کار سرته و رسوئ لمړی قدم مو اخيستی دئ، که څه هم د يو څه وخت له پاره بېکاره ياست، دا سي کار پيدا کړئ، چي د هغه سره مينه و لرئ.

ما خپل تحصيلات د فلم جوړولو په ځانگه کي پاي ته و رسول، دا چي بريالی زده کوونکی نه وم نوهمېشه مي فکر کاوه، چي د تحصيلاتو وروسته بايد لوړعايد و لرم؛ خو کله، چي مي لرنينگ انکس پيل کړ، پوه سوم، چي د زده کړي سره مينه لرم او لرنينگ انکس ماته دا فرصت چمتو کړ، چي تر ټولو بريالي او شتمن اشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنفرانسونو ته را دعوت کړم. نه یواځی مي دهغوئ څخه زده کړه وکړه بلکي ډېرعاید مي هم ترلاسه کړ. زه واقعاً د کار د سرته رسولو سره مینه لرم.که د خپل کار څخه لذت نه اخلئ هغه بدل کړئ.

یوه کس، چي په Learning Annex کي یې زما له پاره ډېرجدي کار کاوه، همېشه وختي راتلی او هرڅه به مي، چي له هغه څخه غوښتل په ډېره ښه طریقه یې سرته رسول. یوه ورځ مي هغه راوغوښت او ورته و مي ویل"ته وتلی یې! ځکه چي زه ستا په کار کي هیڅ علاقه نه وینم. ټوله کارونه په ښه توګه سرته رسوې؛ خو د کار سره دي مینه نه لرې" څو کاله وروسته مي د هغه څخه د څوکتابونو سره یولیک تر لاسه کړ چي زما څخه یې د ایستلو په خاطر مننه کړې وه اوویلي یې وه اوس د خپل اخراج په دلیل ښه پوهېږي اوعلاقه لري، چي په Learning Annex کي سیمینار وړاندي کړي. نن ورځ هغه په لرنینګ انکس یو له ښو ښوونکو څخه دی، د لیکنو ټولګي (د مسافري د کتابونو چاپ) یې د هغه کارونو په اړه دی، چي سرته یې رسولي دي، هغه نوروهیوادونو ته سفرونه کوي او د هغه هیواد او د اوسیدونکو د کړو وړو په اړه کتابونه لیکي. نوموړئ خپل کتاب همېشه په دې جمله سره پیلوي.
"هغه کار چي سرته یې رسوی، باید دهغه سره مینه و لرئ"

**د دوهم څپرکي لنډیز**

هیڅکله د پیسو په خاطر کار سرته مه رسوئ، بلکي دعلاقې په خاطر یې سرته و رسوئ . د دې له پاره، چي په خپل کار کي بریالي و اوسېږئ باید د هغه سره مینه و لرئ په دې صورت کي به هیڅکله د هغه څخه لاس وا نخلئ. دا مینه ده، چي ستونزي د حل وړ ګرځوي او تاسي ته دا قدرت دربخښي ترڅو کار ته مو ادامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړئ. پیسې د ژوند له پاره اړتیا ده اما کله چې کار یواځې د پیسو په خاطر سرته رسوئ نه یواځې دا چې په کار کې نه بریالي کېږئ، بلکې کیدای سي په ژوند کې انسان هم ناکامه سي. د دې فکرخخه، چې"هوسا او ارام یم" لیري اوسئ. فشار زغمل زده کړئ، د ماتې خخه مه وېرېږئ او استقامت ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## شپږم حس

که تاسي پر ځان باور لرئ او هوښيار ياست، بايد په خپلو احساساتو پسي ولاړ سئ او د بويولو پرحس عمل و کړئ، حتی بايد د نورو کسانو د خبرو خلاف عمل و کړئ، زه همېشه پرهغه څه عمل کوم، چي په فکر کي يې لرم.

ما په لمړيو پنځو کلونو کي خپل کار په بروکلين د هغه زړو تعميرونو په رانيولو سره پيل کړ چي ترميم ته يې اړتيا لرل، او هغه مي له ترميم څخه وروسته خرڅول. د يو څه وخت وروسته مي فکروکړ، چي "منهتن" د ملک د رانيولو له پاره بهترين ځای دی، پلار مي راته وويل:" زه، چي تراوسه بريالی يم، د څه له پاره منهتن ته ولاړسم؟ زه په منهتن کي د رانيولو له پاره حا ضر نه يم، او ته هم کېدای سي هلته بريالی نه سې " ما پيسې نه لرلې او هيڅوک مي په منهتن کي نه پېژندل.

په ۱۹۷۳ کي (قطار پن شرکت) د ډېواليتوب اعلان وکړ. دغه شرکت زيات املاک لرل، چي ځينی يې د منهتن د رود پرغاړه واقع وه. زه همېشه پوهېدلم، چي په يوڅه پاملرنه سره کېدای سي ياد املاک ارزښتمن سي. هغه منطقه خطرناکه پېژندل سوې وه ځکه، چي په هغه ځای کي  نشه يې توکي خرڅېدل او ما يقين درلود، چي په اسانې سره کولای سم هغه ناحيه تغير کړم. زه پوهېدلم، چي څومره ظرفيت، چي زه په هغه منطقه کي وينم شايد نور کسان هم په همدې ظرفيت هغه ځای ويني؛ خو د دې سره، سره تولو فکر کوي، چي دغه پروژه سرته نه رسېدونکې ده.

ما د" د قطارپن شرکت " سره وليدل او هغوئ مي د رانيولو او بيا جوړولو په مرسته د دې پروژې سره علاقمند کړه. ښاروالي هم په همدغه دليل، چي غوښتل يې د نشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې توکو د معاملاتو څخه ځان خلاص کړي، زما طرحه خوښه کړل او و يې ويل حاضردي، چي په دې پروژه کي زما سره همکاري و کړي. نور نو ټول په قيصه پوهيږي چي ما په همدې جريان کي د نيويارک (کامادور) هوټل هم، چي د له منځه تللو په حال کي و د(هايټ) په هوټل ښکلي تبديل کړ.

په ۱۹۷۴کال کي مي د(قطار پن شرکت) د رود زيات ساحلي املاک پرته د کومو پيسو له ورکړي څخه فقط د بانکي اعتبار په مرسته رانيول. بانک ټوله ٦٢ ميليونه ډالره، چي د(قطارپن شرکت) يې غوښتنه کړې وه ماته په پور راکړه څرنګه، چي ماپه خپلو احساساتو باوردرلود، هغوئ مي د نن په شان د املاکو په تبديلولو باوري کړل او هيڅکله مي خپل باور او موخي پرې نه ښودلې.

۱۹۹۳ کال د بازار تر ټولو بد وخت و او د ټولو هغه کسانو اقتصادي وضع، چي ساختماني کاريې کاوه بده وه. زما اقتصادي وضع هم ډېره بده سوې وه؛ خو ما په ډېر جرئت سره د(40 Wall Street) تعمير په يوميليون ډالر رانيوی. د دې تعمير رانيول ډېر سخت کار و ځکه، چي په هغه وخت کي د نيويارک تر ټولو لوړ تعمير و؛ خو ما دغه کار و کړ او هغه مي رانيوی. يو ميليون ډالر په هغه وخت کي ډېري پيسي وې او هيڅوک د نوموړي تعمير د رانيولو له پاره حاضر نه و.ما د ډېرو هغو کسانو سره، چي د املاکو د را نيولو په برخه کي مي پېژندل تماس و نيوی اوهغوئ مي د تعمير را نيوني شراکت ته را دعوت کړل؛ خو هيڅ چا دا کار و نه کړ، دې کار ته د حاضرېدلو په صورت کي يې بايد زما سره د اوبو د جريان خلاف اوبازي کړې وای؛ نن ورځ ياد تعمير ۲۷۰ ميليونه ډالره عايد لري. پر هغه کسانو، چي ډېر ژر يې زما څخه نوموړی تعمير په ۵۳۵ ميليونه ډالره غوښت؛ خو ځکه مي خرڅ نه کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د دې سختيو سره، سره زما فکر دا را ته ويل، چي د دې تعمير رانيول سم کار دی، د ياد ساختمان د رانيولو له پاره مي يوميليون ډالر په يوازي ځان اداء کړل او خپله ګټه مي هم يو ورړل.

هيڅوک نه پوهيږي، چي زه داملاکو په اړه څرنګه خپل احساس را ژوندی کوم. دا احساسات زما له پاره ارزښتمن دي او حاضر يم د خپلو احساساتو له پاره د هرڅا او هر شي سره و جنګيږم، ځکه پوهيږم، چي هيڅکله راته درواغ نه وايي.

ارواح پيژندونکي وايي دهر انسان احساسات د هغه د تجربو پر اساس کارکوي، يعني زه کولای سم د شرايطو په اړه وړاندوينه و کړم ځکه، چي دغه شرايط مي مخکي تجربه کړيدي. ما د معامله کولو سره دومره عادت نيولی دی، چي په ټولو معاملاتو پوهيږم، چي څه خبره ده. دا په ډېره ښه توګه احساسولای سم، چي يو کس معامله نه کوي بلکي زما د وخت د ضايع کولو اراده لري. څوک، چي درواغ وايي ژر يې پيژنم، اکثره وخت، چي ياد شخص د معامله کولو وړانديز کوي په ظاهره ډېره ښه ښکاري؛ خوپه حقيقت کي ښه معامله کوونکي نه وي. پوهان وايي، چي احساسات د دماغ سره په اړيکه کي دي کله، چي يوشی سم ياغلط وي بايد هغه حس کړي، د بېلګي په ډول کله، چي د لومړي ځل له پاره د يو چا سره ګورئ، هغه مو پر زړه ښه لګيږي يا بد، دا د احساساتو له کبله دی.

د(اپرنټس) د اماده کونکي" مارک برنټ" سره د ملاقات کولو څو اونۍ وروسته مي د هغه سره په کار کولو کي د راحت احساس و کړ. پوه سوم، چي سم سړی دی، له کوم ترړون پرته مي يوازي د لاس په ورکولو سره د مارک سره معامله و کړه، خو د دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي کسانو سره مي هم معامله کړېده، چي په هيڅ دليل سره مي نه دي دوستان سوي. ما زده کړل چي پر احساساتو مي باور و لرم.

مارک برنټ د Survior ننداره جوړول او غوښتل يې  د يخي پرمخ د سکيټ يو رينگ(دسکيټ د لوبي ميدان) د دې ننداري له پاره و کاروي، ما په نيويارک کي هغه د سکيټ په يوه رينگ کي وليدئ او د لمړي ځل څخه مي خوښ سو، هغه کار، چي يې د سروايور(Survivour) په ننداره کي زما د سکيټ په رينگ کي سرته ورسوي ډېر ښه و.

مارک برنټ ماته وويل: "ډونالډ غواړم ستاسره يوه ننداره (شوو) تکميل کړم " ما ورته وويل: "ټول غواړي زما سره يا زما په اړه ننداره جوړه کړي؛ خو زه حوصله نه لرم چي خبريالان په ما پسی کيمرې وځغلوي او ما په خپل کارکي تعقيب کړي."

هغه د اپرنيټيس واقعه راته واضح کړه، ما ورته وويل: " ډېرښه دا چي په نورو خلگو پسي کيمرې پسې وي؛ خو زه يوازي د مديره هيئت په دفتر کي د پروگرامونو د مهال ويش د جوړولوپرمهال ليدل کېږم، زه دا ډېرخوښوم"  ما لاس ورکړ، چي سمه ده نيم په نيمه (٥٠٪) باندي پروگرام جوړوم. يوه ورځ وروسته، په هاليووډ کي زما استازي ټلفون راته و واهه او راته و يې ويل، چي دغه پروگرام ممکن بريالی نه سي او دغه پروگرام بايد جوړ نه کړم، دا چي هغه په هاليووډ کي يو له ښو کسانو څخه شمېرل کېدئ او زما استازی و، او زما څخه يې د مشورې راکولو په وړاندي ډېر لوی امتياز هم اخيستئ، بايد د هغه خبروته مي غوږ نيولی وای.

هغه وويل:" هر پروگرام، چي په دې ډول جوړ سويدئ تر اوسه نه دی کاميابه سوی او دا ډول تلويزيوني پروگرامونه، چي واقعي ننداري بلل کيږي ليدونکي نه لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخا کېدای سي؛ اپرنټيس د ناکامۍ سره مخ سي“ زما استازی حتی د مارک سره هم تماس ونیوی او هغه ته یې ویلي وه، چي زه دهغه د موافقې پرته باید خپل بریالیتوب اعلان نه کړم.

مارک ماته زنګ و واهه او ویې ویل: ”ستا استازی غواړي، چي زما هوکړه لیک له منځه یوسي او وایی ته نه غواړې زما سره دا تلویزیوني ننداره جوړه کړې“ ما مارک ته وویل: “ما مخکي له دې، چي ستا سره معامله وکړم د دې شوو ( تلویزیوني ننداري) په هکله هیڅ معلومات نه لرل، حتی نه پوهېدلم، چي واقعي ننداري زیات علاقمندان او کتونکي نه لري” ولي زما احساس دا را ته ویل، چي مارک ښه انسان دی او دا معامله باید پای ته ورسيږي. ما د هغه سره وعده کړې وه او باید پوره یې کړم. کله، چي “اپرنټيس” جوړ سو ټوله ټلویزیوني، چینلونه د هغه ننداري د خپرولو له پاره د رقابت غوښتونکي وه. NBC اوABC سخته جګړه ترسره کړه، چي بلاخره ABC وګټل؛ خو”مایکل ایزنز“، چي د NBC د مالیکینو څخه و،د (جف زوکر) د شخصیت د خوښي په خاطر دNBC سره تړون لاسلیک کړ. له پیل څخه، چي دې شوو(ننداري) په کار پیل وکړ، د تلویزینونو په درجه بندي کي یې ښه درجه لاسته راوړه او په لسم ردیف کي یې ځای خپل کړ او قرار قرار یې اتم، اووم، پنځم او دریم مقام لاسته راوړ. یاده ننداره ډېر ژرپه زیاته لیدونکي ټلویزیوني شوو(ننداري) سره بدله سول او لومړی مقام یې خپل کړ. باور کول مشکل دی; ما، چي یوازي د املاکو په برخه کي مهارت درلود، یوتلویوني ستوری هم سوم.

جالبه دا ده، چي نه یوازي زما شوو ترټولو لوړ مقام خپل کړ بلکي هغه شوو وي، چي په NBC ټلویزیون کي کامیابي وې دماتي سره مخ سوې. په هالیووډ کي زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

استازییوه ورځ زنګ راته وواهه او ویې ویل: " زما شوو! ما وویل: زما شو؟ " ته، چې داولي ورځې څخه ددې شوو مخالف وې، اوس، چې کامیابه سوه او زما دشوو نوم دې ورکړ ؟"هغه وویل: زه هم دومره مخالف نه وم، ما یواځې داستازی په حیث درته وویل:، "چې باید احتیاط وکړې"؛ خوزه هم ستا استازی یم او باید کمیشن واخلم. ورته ومې ویل: " که مې ستاخبرو ته غوږ نیولی وای، مابه اوس داشو نه لرلای". اوس څومره کمیشن غواړې؟ و یې ویل" ۳ میلیونه ډالره " او ما ورته وویل: "ته ووتلې". ځیني پېښې په له دې کبله مینځ ته راځې چې تاسې یې دسرته رسولو څخه بیره نه لرئ. کله، چې NBC دا ومنله، چې اپرینټېس سرته ورسوي، د بریالیتوب په اړه یې وړاندوینه نه وه کړې او دوروستیو مراحلو له پاره یې تړون ولیکئ، اوهغه هم ددې سره سره، چې زه دټلویزیون په برخه کې هیڅ نه پوهېدم.

د زیږېدني په ورځ مې سهار شپږ بجې ټلیفون زنګ و واهه او د باب رایټ په نوم یو شخص، چې د NBCمدیره هیئت و ماته وویل: "ډونالډ، پیداینبت دې مبارک سه"باور مې نه کیدئ چې د سهار پر۷ بجې دې دNBCاجرایه مدیر تماس ونیسي او د پیداینبت مبارکي دې راته و وایې. مېرمنې مې پوښتنه وکړل، چې څوک دا سهار وختې زنګ وهې؟ ورته ومې ویل: باور مې نه کیږي ، دNBC اجرایه مدیر او مدیره هیئت د هر چا څخه مخکې د پیداینبت مبارکي راته وویل: ویې ویل"هو رښتیا وایې، ګرانه پیداینبت دې مبارک سه"او بیرته بیده سوه.

یو څه وروسته (زوک) د NBC ټلویزیون اجرایه مدیر په جلسه کې وویل:" داصحیح ده، چې دډونالډ ټرمپ وریښتان د(فرنډز) ټلویزیوني سلسلې (Series) د اداء کارجنیفرانیسون غوندې ښایسته نه دې؛ خو د هغه پروګرام د فرنډز د پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه هم ډېر و کتل سو" ما په هغه جلسه کي خپل استازينه درلود او زما له پاره دNBC لومړی پروګرام و. په هغه پروګرام کي NBCغوښتل زما سره معامله و کړي. په ورځپاڼه کي مي ولوستل، چي دهنرمندانو ټولني" Friends" جالبه کار کړی و، يو له بله سره يوځای سوي وه او هريوه د هر پروګرام له پاره دNBC ښخه ۳ميليونه ډالره غوښتي وه. هغوئ ډېر هوښياران وه ځکه، چي يوله بله سره همږغي سوي وه او يوله بله سره يې رقابت له منځه وړی و. کله، چي NBCراته وويل:، چي ستا شوو(ننداره) د Friends ښخه مخکی تللې ده او غواړي، چي زما سره د دروکالو له پاره تړون لاسليک کړي، ورته و مي ويل: "زه هم د Friends په اندازه پيسې غواړم" هغه وويل: ( ستونزه نه لرم کولای سم تاته هم دوه ميليونه ډالره درکړم.) ما ورته وويل: "دوه ميليونه ډالره نه بلکي دا چي هغه شپږ تنه دي زه دولس ميليونه ډالره دهري شو له پاره غواړم" هغوئ ۱۲ ميليونه ډالر قبول نه کړل؛ خو زه د هغه معاملي ښخه ډېر خوشحاله را ووتم، حتی که څه هم د هری شوو له پاره د دولس ميليونه ښخه ډېري کمي پيسې اخلم. دا ټول کارونه ځکه ماته پېښ سول چي ما پرخپلو احساساتو باور و کړ. هرهغه څه، چي غواړئ و يې لرئ، دخطر اخيستلو ښخه مه ويرېږئ، ستاسو تر ټول لوی برياليتوب د خطر اخيستلو ښخه په لاس رازي. صحيح ده، چي دغه شوو برياله وه او معاملې په مقابل اړخ کي دNBC کسان وه، چي ډېر ښه خلګ دي؛ خو ټرمپ هم بد سړی نه دی احساسات يې پرمختللي دي.

د غريزې سره مخته تلل تمرين ته اړتيالري؛ خو اول بايد د خپلو احساساتو سره همږغي ياست، غريزه د معاملې تر ټولو لويه برخه ده او همږغي پرهغه باندي لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاثير لري. کله، چي Ski (يوډول بازي ) کوئ ستاسوغريزه درته وايي، چي بايد کومه دره يا لاره وټاکئ ترڅو، چي نورهم متحرک او چټک سئ.

زما له پاره داسي وخت هم راغلی، چي 40 Wall Street تعميررانيسم، نژدې ټولو ويل، چي دغه رانيونه احمقانه ده، مګر غريزي مي راته ويل، چي دغه تعمير به يوه ورځ د نيويارک د کار او سوداګرۍ په برخه کی د سيمي په کچه لوی تعمير وي، ما خپل پرغريزې باور و کړ او د دغه تعمير معامله زما د ماملاتو په برخه کي يوه د ګټورو معاملاتو څخه ده.

کله چي مي د ګلف د ځمکو دجوړولو سره علاقه پيدا سوه. پوه سوم، چي د ګلف سره زما مينه او د املاکو په برخه کي زما تخصص کېدای سي ما د ګلف د ځمکو په جوړولو کی بريالی کړي. د ګلف د مځکو له پاره مي تر ټولو ښه طرحه کوونکي پيدا کړل او ساعتونه مي له هغوئ سره په مجلس کولو تېر کړل. د دې له پاره، چي هم له خپلي غريزې، هم له معلوماتو او هم له خپلي ميني اوعلاقي څخه ګټه واخلم. په دې کار سره مي تر ټولو ښه نتيجه ترلاسه کړل، ترڅو و کولای سم د ګلف ترټولو ښه ځمکي د نړۍ تر ټولو په ښه سيمو کي جوړې کړم.

خپل پرغريزه باور و لرئ. د پيل له پاره خپله غريزه په کوچنيو کارونو کي و ازمايئ، د خپلو غريزو د احساساتو څخه مو په ورځنيز ژوند کي او کار کي مه بې پروا کېږئ، د احساساتو څخه مو کولای سئ د دې له پاره، چي له چا سره واده وکړئ، اولاد لرلو، د ماشومانو د روزني او يا په نورو برخو کی کار واخلئ.

ډېري پېښي مخکي له دې، چي واقع سي زما د پاملرني سبب ګرځي او ياهم برعکس د هغه په اړه ښه احساس کوم. د همدغه خپلو احساساتو څخه استفاده کوم او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ څخه ګټه اخلم. غريزه د ټولو معاملاتو د سرته رسولو له پاره قوه ده، هغه بايد په کار و لويږي.

**کله نا کله د معلوماتو تر را ټولولو حرکت کول غوره وي**

يو ځل"اندي ګرو" د اينټل په خواني مدير وويل:"همېشه هڅه کوئ ترڅو دهغه معاملې په اړه، چې سرته يې رسوئ ټول معلومات لاسته راوړئ، او پر خپل غريزه باور و کړئ" زه فکر کوم، چې دغه خبره نسبت نورو خبرو ته زما د پريکړې سيستم په ښه ډول بيانوي. زه همدغه کار کوم؛ ټول اړين معلومات لاسته راوړم، د معلوماتو او ارقامو په تحليل او تجزيه کې د خپل فکر او استعداد څخه ګټه اخلم، دخپلو تېرو تجربو څخه مې کمک اخلم او وروسته خپلې غريزې ته ورګرځم. که مې، چيرې د پريکړې نيولو له پاره نورو معلوماتو او صبرته اړتيا لرل، هغه هم سنجوم، چې صبر کول زما له پاره څومره لګښت لري، ايا پرېکړه بايد ژر و نيول سي يا تر يو وخت پورې صبر و کړل سي. که سمدستي پرېکړه کول راته ګټوره وه، فوراً پرېکړه کوم او که مې وخت د رلود صبر کوم.

**وخت سنجونه هر څه ده**

غريزه د وخت سره ډېر تړاو لري، زه يو تلواري انسان يم؛ خو دا مې زده کړې دي، چې په ډېرو معاملو کې تلوار نه کول ښه نتيجه لري.

کله، چې د معاملې په جريان کې تاسي د خبرو په حال کې ياست ممکن ژر پريکړه کول در ته مناسب نه وي، نو په همدې اساس که د معاملې په اړه د فکر کولو وخت لرئ، کار سرته ورسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسي ته دا وړاندیز کوم، چې له خپلو غریزو څخه مو ګټه واخلئ؛ خو نه دا سي، چې ټول ژوند مو د غریزې له مخې سرته و رسوئ. باید ټول اړین معلومات په لاس راوړئ، خپل فکراو د خپلو او نورو له تجربو څخه ګټه واخلئ. دا چې ولې نورخلګ ستاسي لارې نه ټاکي، علت يې دا دئ، چې بریالیتوب د هغه لارو په ټاکلو کې دی، چې نور يې نه ټاکي، د دې لارو ټاکل نه یوازې ګټور دي بلکې ډېر ګټور دي؛ خو باید له ډېر دقت څخه کار واخیستل سي.

**د دریم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

ما د لرنینګ انکس د را منځته کولو له پاره له خپلو احساساتو څخه ګټه واخیستل او نن ورځ هم د موضوعاتو اوخبرو کوونکو د ټاکني له پاره له همهغه احساس څخه مرسته اخلم. زما په کار کې احساس ډېر مهم دې ځکه زه باید دا تشخیص کړم، چې ایا خبرې کونکې د خبروکولو له پاره چمتو دی که نه. د نورو مشورې زما په کار کې ډېر په درد نه خوري، زه باید د فلم جوړونکو غوندې پوه سم، چې لیدونکې د څه شي د لیدنې غوښتونکې دې. که د نوروغوندې فکر و کړئ او ځانګړی جرئت و نه لرئ، د نورو په ډول به یاست. مه ېرېږئ او د نورو څخه توپیر پیداکړئ، دهغو شرایطو د ازمایلو څخه، چې نورو نه وي آزمایلي مه ېرېږئ.

په ۱۹۸۰ کې زه لومړی کس وم، د آنتوني رابینز په خبره، چې و مې کولای سوال د سرو سکروټو پر مخ ولاړسم. زه آنتوني رابینز منم او کوښښ کوم، چې کار مې د هغه غوندې مخته بوزم ځکه، چې پوهېږم، توني یو بریالی او لوی شخصیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آنتوني زما فکر ته تغیر ورکړ او ماته يې دا جرئت را کړ، چي د ټرمپ غوندي خبري کونکي دعوت کړم.

په ۱۹۸۱ کال کي مي دا فرصت پیداکړ، چي (ډیپاک چوپرا) د چوپرا صحي مرکز بنسټ اینښیدونکي، چي په یوه جلسه کي يې ۳۰ نفرو ته خبري کولې و وینم. هغه هیڅ چا نه پیژندل؛ خوزه پوهېدلم، چي هغه به یوه ورځ لوی شهرت پیدا کوي. هغه نن ورځ د جسمي او رواني سلامتیا په برخه کي ترټولو د لویو نوښت کونکو څخه ده.

شپږم حس د هرشخص له پاره له مهمو وسیلو څخه  دی سره له دې، چي له دغه وسیلې څخه ډېر خلګ ګټه نه اخلي؛ خو بیا هم زموږ احساسات ډېر قوي دي. دا داسي مثال لري لکه څوک، چي غواړي یو کار سرته ورسوي؛ خو نه پوهیږي، چي څنګه؟ د خپلواحساساتو سره تماس لرل یوچاته دا قدرت وربخښي، چي نور خلګ هم دهغه پرشپږم حس باور پیداکړي. زما اجرایه مدیره سامانتا سنترور خپل کار ته ډېره وختي راځي او ما ته وايې " زه غواړم دغه کار سرته ورسوم ستا احساس ددې کار په اړه څه  دی؟" اوس مي خپل پر احساساتو هم باور پیدا کړ. ډېر وخت، چي د کار ځای ته ځم وایم زه دهغه چا په اړه، چي غواړم خبرو ته يې دعوت کړم ښه احساس نه لرم،  یا وایم په  دا کار سره ښا يې په بازار موندنه کي ښه  نتیجه ترلاسه نه کړم. حس عجبه قوه ده کله، چي پر هغه باور پیدا کړئ، نور کېدای سي له هغه څخه پرته کار ونه سئ کړای.

په ۲۰۰۱ کال کي لرننګ انکس ۲۰ کلن سوی و؛ خو نور هغه زما نه و. زه يې بیا رانیولو ته لیواله سوی وم، او ومي لیدل، چي بیا هم کولای سم داسي کارونه سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسوم، چي زما او دلرنينگ انکس اوضاع بدلوي. احساس مي را ته ويل، چي لرننگ انکس بيرته لاسته راوړم؛ خو اوسني خاوندانو يې زما څخه ډېري پيسې غوښتلې. خپلي مېرمني ته مي وويل:" ګراني، زه پوهيږم که لرننگ انکس بيا ترلاسه کړم، کيدای سي زما مالي حالت بدل کړي" مېرمني مي را ته وويل:" ګرانه، تا لرنينگ انکس خرڅ کړی دئ او درهغه د بيا رانيولو له پاره پيسې نه لرې؛ خو که د لاسته راوړلو احساس يې لرې او د پيسو د ترلاسه کولو کوښښ و کړه" ما د بانک څخه د خپل شخصي کور له پاره پور واخيست او د خپلو ټولو اعتباري کارډونو او د خپلو دوستانو او ملګرو څخه د پور اخيستلو سره سره مي بيا هم ونه سول کړای يادي پيسې پوره کړم. د لرنينگ انکس خاوند، چي په سياټل ښار کي او سېدئ رغلم او هغه مي په دې قانع کړ تر څو هغه پيسې ومني کوم، چي لاسته مي راوړې دي او نوري پيسې د قسط په ډول اداء کړم.

اوس، چي د لرنينگ انکس د رانيولو شپږ کاله کيږي، ټول کولای سي و ويني، چي څنګه په يو کامياب شرکت تبديل سوی دی او اوس په ۵۰۰ هغه شرکتونو کي حسابل کيږي، چي ډېر رشد يې کړئ دی. يوازي شپږم حس هم د پريکړي له پاره په پوره ډول نه دی کافي؛ خو ما پر خپل احساس ډېر باور کړئ دی. ډېر کسان داسي دي، چي د پريکړي له پاره بايد د واقيعتونو اومعلوماتو په اړه پوره خبر و لري او د سنجش له پاره ډېر کوچني معلوماتو ته هم اړتيا و لري؛ خو زه د داسي کسانو سره په سختۍ ژوند کوم.

دا سي وکيل مي درلود، چي هر چا به هر معلومات وغوښتل هغه به ورکول؛ خو کله به چي هغه ته وويل: سول" څه فکر کوې، چي بايد څه وکړم؟ " هيڅ ځواب به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه درلود. کله، چي د اړتیا وړ د ټولو معلوماتو سره سره بیاهم نه سي کولای پریکړه و کړئ، چي دا کار صحیح دئ که نه قدم و وهئ، پارک ته ولاړسئ، ټلویزیون و ګورئ او جدیت پرېږدئ، تر څو درک کړئ، چي احساسات موخه درته وایي. هرڅه، چي یې درته و ویل: سرته یې ورسوئ.

## د دریم څپرکي لنډیز

شپږم حس مو قوي کړئ. لوی بریالیتوبونه هغه مهال لاسته راوړلای سئ، چي د خپلو احساساتو څخه مو ګټه واخلئ. داسي ثوک نسته، چي په هرڅه باندي پوهیږي. کله، چي و ګورئ انسانان او معلومات تاسي ته احساس در بخښي د همدغه احساساتو څخه ګټه واخلئ. د خپل شپږم حس څخه ښه ګټه واخلئ ترڅو بریالیتوب ترلاسه کړئ. دا لازمه ده، چي باید دهري معاملې د سرته رسولو په برخه کي اړین معلومات لاسته راوړئ او د هغه معلوماتو څخه په ښه طریقه استفاده و کړئ. اړین معلومات د تصمیم نیوني له پاره اړین دي؛ خو د تصمیم نیوني پرمهال له خپلو احساساتو څخه هم ګټه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د فرصت را منځ ته کول

د فرصت په اړه غواړم په کلي ډول خبري و کړم. ځيني کسان له نورو کسانو څخه بختور وي، ځيني ښځي تر نورو ښځو ډيري ښايستې وي، چي په دې اړه هغوئ هيڅ هم نه وي کړي، بس همداسي نړئ ته ښايستې راغلي وي. په همدې ډول له ځينو سره بخت ياري کوي. هرڅه ته، چي لاس ور وړي ورته سره زر کيږي. ښه! دا خو انصاف نه دی. بلکي واقيعت دی. زه يو ملګری لرم، چي مور او پلار يې ښه او بريالي ډاکټران دي او دی له ماشومتوب څخه له پيسو سره را لوی سوی دی، او نومورړی وايې: زه په فرصت باور نه لرم. ما هغه ته وويل:" ته بيخي سم وايې، چي پيسې د فرصت سره څه اړيکه لري؟ ايا دغه چانس نه دی، چي مور او پلار دي دواړه ډاکټران دي او ته دپيسو سره لوی سوې او د افريقا پرځای په امريکا کي دنيا ته راغلې؟ هوښيار دنيا ته راغلی يې، له لوړ استعداد څخه برخمن يې او د نړۍ تر ټولو په ښه ښونځيو او پوهنتونونو کي دي لوړي زده کړي ترسره کړي دي. ايا دا د چانس يا فرصت سره اړيکه نه لري؟ "ويې ويل: "نه، زه؛ خو وايم شتمن کېدل د قسمت سره اړيکه نه لري". ما د هغه سره بحث ته ادامه ور نه کړه؛ خو پوهيږم، چي ځيني له نورو څخه نېکبخته وي او ځيني له اوله بد قسمته ( بدچانسه) وي. زه يو ملګری لرم، چي همېشه بد قسمتي (بد چانه سي) راوړي. يو کال مخکي يې ټکر و کړ او په روغتون کي بستر سو، کله چي يې ليدلو ته ورغلم د بد قسمتۍ څخه يې ګيله کول. هغه ته مي وويل: "څو ورځي وروسته جوړيږې او له روغتون څخه راوځې" خو په هغه ورځ، چي له روغتون څخه رخصت سو، د کور په لار کي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوی موټر سره سخت ټکر و کړ، او بیا روغتون ته راوستل سو. کله، چي روغتون ته ورغلم اوبیا مي هغه و لیدئ، و یې ژړل او و یې ویل: "اوس څوک په دې بد قسمتي باورکوي؟ "

ما، چي هغه وخت د ورځپاڼي رانیولو اراده لرل فکر مي کاوه، چي دا به مي دژوند تر ټولو ښه معامله وي؛ خو که مي، چیري هغه معامله سرته رسولې وای اوس به غریب وای. د خدای ج شکر دی، چي د معاملې په ورځ، سخت زکام سوم او د تللو څخه مي انکار و کړ، ډېره عجبه وه، ځکه چي لس کاله کېدل، نه وم زکام سوی، حتی مریض سوی هم نه وم.

خرخونکي ماته زنګ و واهه او ویې ویل: "د ورځپاڼي درانیولو له پاره بل غوښتونکی لرم او پر هغه یې خرڅوم "اوس پوهیږم، چي څونه بختور یم، چي ورځپاڼه مي نه رانیول، او زکام له ډېوالي کیدلو څخه و ساتلم .

شاو خوا شل کاله کیږي، چي د شتمنو ژوند تعقیبوم او پوهیږم، چي بریالي کسان اوس هم هغه شل کاله د مخه بریالي کسان دي. دا بریالي کسان لکه وارن بافت، استیوشوارتزمن، کارل ایکان، هنري کارویس، استن اونیل او مریل لینچ له په خوا څخه هوښیاران نه وه؛ خوشل کاله مخکي ترټولو بریالي کسان وه.

### خپل د ځان له پاره خپله موقع پیدا کړئ

کوم کار، چي تاسي ترسره کوئ ستاسي پرچانس باندي تاثیر لري. مشهور ګلف کونکي، چي ډېرمقامونه یې لاسته راوړي دي یو ښه کار یې دا دئ؛ چي همېشه د لوبي د ښه کولو له پاره د تمرین په حال کي وي. هغه په ټولو لوبو کي ځکه ګټونکی، چي د ګلف په لوبه کي د سخت کوښښ کوونکو څخه دی. یوه ورځ د هغه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه وسول:" گري! ته ولي دومره بختور يې، چې همېشه گټونکی يې؟" هغه جواب ورکړ: "ځومره، چې زيات کار کوم هغومره بختور کېږم"ما دغه جمله په خپل کتاب کي بېلگه و گرځول.

زه د(گري) د فکر پر طرز مین یم، هغه، چې هر سهار له خوب څخه پاڅيږي سپورټ کوي او سينه کښې سرته رسوي او د ورځنيو تمرينونو په پروگرام کي ساعتونه تمرين سرته رسوي. د هغه سخت کار او تمرينونو هغه ته نهه لوی جايزې په ډالی کي راوړي دي. د امريکا د کپ د ترلاسه کولو پرمهال، چې کله يې د گلف پر توپ آخري واری ترسره کړ بې ساری و، سېده د سوري داخل ته ولاړ او دې توپ (واري) هغه ته د امريکا د جدول په سينه کي ځای ورکړ ټولو هغه ته وويل:" گري، ستا کار او بازي بې ساري وه".

زما د ژوند کيسه هم د تصادفاتو، هم د سخت کار، ميني، غريزې او البته له فرصتونو څخه ډکه ده. په ۱۹۹۱ م. کال کي زه ميليارډونه ډالره د بانک پوروړی وم اومالي اوضاع مي ډېره خرابه وه، يوه ورځ مي منشي راته وويل:" نن شپه د بانک لرونکو ميلمستيا ده" هرکال ښه وضع وه، له دوو زرو څخه اضافه نفر هغه ميلمستيا ته راتلل؛ خو هغه کال مي اوضاع دومره بده وه، چې ما په خپل ځان کي هلته د تللو انرژي نه ليدل، په ځانگړي ډول هغه محال، چې د ټولو بانکونو پوروړی وم او هره ورځ مي د بانکونو څخه( ۱۵) اخطارونه اورېدل. يوله هغو څخه ډېر بد بانک و، او د پورونو مسؤل يې بې رحمه سړی و، که به يې چا پور ور نه کړ سمدستي به يې کار ورځنډوئ او د کار اجازه به يې نه ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نیویارک کي (۳۷) تنه ترټولو مخکښ مالیکین د ډېوالیتوب د اعلان سره مخ سول. زه فقط (۱۴۹) میلیونه ډالره د هغه بانک پوروړی وم، چي په هغه وخت مي دغه پور د ژوند د کوچنیو پورونو څخه و، ماغوښتل د نورو بانکونو څخه ځان خلاص کړم؛ خو دغه سړي غوښتل ما له منځه یوسي. اصلاً د هغه له پاره هیڅ لار نه وه سل په سلو کي یې پیسې غوښتلې.

هغه شپه هوا باراني وه، دا چي زه د بانکونو میلینونه ډالره پوروړی وم، څنګه مي کولای سوای د هغوئ میلمستیا ته ولاړ سم؟ د ځان سره مي وویل: نه ځم او د خپل کور پر لور روان سوم؛ خو دا چي ډېر ستړی وم، احساساتو مي راته ویل ښه دا ده، چي ولاړسم.

کالي مي واغوستل اومیلمستیا ته ولاړم او هغه میز ته کښینستم، چي چپه لاسته مي د استېو په نوم شخص ناست و، هغه ته مي سلام ووایه او هغه هم ښه ګرم جواب را کړ د ځان سره مي وویل: ښه دی د غوښتونکو څخه نه دی، ځکه، چي زما سلام ته یې ګرم ځواب ووایه د راسته لاس ناست شخص ته مي هم سلام ووایه هغه نه یوازي دا چي دسلام جواب یې را نه کړ، بلکي تندی یې هم داسي راته تریو کړ، چي استېو راته وویل: " ښکاره ده، چي داکس اصلاً ستاسره علاقه نه لري"

ما د ستېو سره خبرو ته ادامه ورکړه، هرځل به مي د یو څه ځنډ وروسته د خپل راسته اړخ کس څخه د نظر ښکاره کولو غوښتنه کول، چي اصلاً یې جواب نه راکوئ، تقریبا (۱۵) دقیقې وروسته، چي فقط د استېو سره مي خبري کولې هغه کس هم په بعضي بحثونو کي نظر ورکوئ، په اخیر کي مي د هغه څخه و پوښتل: " تاسو د کوم بانک له خوا څخه دلته راغلي یاست؟"باور مي نه کېدئ، چي د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوو  زرو نفرو په مابين کي دي د يو داسي چا په ځنګ کي يم، چي ټول ماليکين يې د ژوند ځخه ايستلي وه. نه پوهيږم، چي نېکبختي وه که بد بختي؟، خوهغه ته مي وويل: " نو هغه ته يې، چي ټوله درځخه وېره لري!؟ او وايې، هرځوک چي ستاسي د بانک پوروړي وي له مينځه يې وړې او زما له منځه وړلو اراده هم لرې!؟
" هغه وويل:"بلې هو که دي، چيري پور اداء نه کړ...!"
ما له هغه سره ډيري خبري و کړې او پوه سوم، چي رښتيا هم کله، چي شرکت د ډېواليتوب اعلان کوي بانک ته پيسې نه ورکوي. صحيح ده، چي شرکت ډېوالي کيږي؛ خو بانک هم تاواني کيږي. سمه ده، چي د هغه شرکتونو ډېواليتوب، چي بانک ته يې پيسې نه ورکولې د هغه له پاره د قناعت وړ نه و؛ خو د بانک خاوندانو پر هغه فشار راوړی و، چي معلوم کړي د پوروړو ځخه يې ځوک پيسې ادا کولای سې. متوجه سوم، چي دا شپه بايد برعکس زما له پاره بختوره وي. ټوله شپه مي دهغه سره خبري وکړلې او د بانک د خاوندانو په اړه مي دهغه قيصې واورېدلې، دهرځه په اړه مو خبري وکړلې حتی د هغه د ژوند شخصي مسائلو په اړه هم.
د شپې په اخيره کي هغه راته وويل:" ډانالډ ټرمپ ته بد سړی نه يې، ولي زما دفتر ته نه راځې، چي ستا د پورپه اړه خبري وکړو؟" کله، چي مي اوضاع ښه وه هيځکله د بانکونو دفترونو ته نه تلم، که هغوئ غواړي، چي ما و ويني بايد په خپله په ما پسي راسي؛ خو هغه مهال مي ورته وويل:" ډېرخوښ يم، چي ستا په دفتر کي درسره ووينم" په دوشنبه سهارد هغه دفتر ته ولاړم د پنځه دقيقو ځخه په لږ وخت کي حل لاري ته ورسېدو، چي ځنګه مي پورونه بانک ته ورکړم. د ګري پلېر خبره، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايې:"هرڅومره، چې سخت کارکوم هغومره نېکبخته کېږم" خوښه ده. زه که په هغه ورځ میلمستیا ته نه وای تللی اوس به مي د ډېوالیتوب اعلان کولای.

دا صحیح ده، چې ځیني کسان نړۍ ته بختور راغلي دي؛ خو، دا حقیقت دی، چې ډېر خلګ کولای سي، خپل د ژوند بد حالت او بدبختۍ په ښه حال بدلي کړي.

زما د نېکبختیو څخه یوه دهوټلونو له پاره د تعمیرونو جوړول و، کله، چې مي د ټرامپ اپارتمان دهوټل په موخه په (لاس وګاوس) کي راپیل کړ. پوهېدلم، چې (لاس وګاس) د پرمختګ څخه ډک دی؛ خو نه پوهیدلم، چې ټوله هوټلونه د ختمېدلو څخه مخکي په لوړه ګټه خرڅیږي. دې پروژې هم نیکبختي راته راوړل او هم یې د ختمېدو وخت فوق العاده و. هلته مي د ښاغلی فیل رافین سره هم و پېژندل، چې ویل یې:" کله، چې موقع درته مساعده سي د هغه څخه اعظمي ګټه اخله، که څه هم سخت کار کولو ته اړتیا و لري. کله، چې موقع درته راسي، نور نو باید په لږ کارکولوسره وخت ضایع نه کړئ، چې د فرصت ګټه مو کمه سي، ځکه همدغه د لوی فکرکولو وخت دی".

**ښه موقع (خوش چانسي) هغه وخت راځي، چي د هغه څخه د ګټي اخیستلو له پاره چمتو و اوسیږو**

دغه کلونه زما له پاره فعال کلونه دي، د کارونو چټکتیا مي بیخي ډېره سوې ده او په شوق سره کار کول خوښ لرم. زما کارډېر وخت تصادفی وي او ډېر کار ته اړتیا لري؛ خو د دې ترڅنګ پارونکی هم دی. زه ډېر کار کوونکی شخص یم او له خپله ځان څخه د بریالیتوب هیله لرم. ډېر خلګ ما نېکبخته بولي؛ خو زه پوهیږم، چي کار مي د موقع سبب ګرځي. ډېر خلګ، چي کله بریالیو خلګو ته ګوري، یوازي د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریالیتوب په نظر ورځي؛ خو هغه کارونه، چي نومورو بریالیتوب ته د رسېدو له پاره کړی دی هغه نه ویني او وايي څه نېکبخته خلگ دي! زه وایم هغوئ ځکه نیکبخته دي، چي عقل يې په کار اچولی دی او سخت کار يې کړئ دی.

د بېلگي په ډول: کله، چي اپرنټيس کامیاب سو ټولو زما د ښه بخت په اړه خبري کولې؛ خو دا يې نه ویل: چي په"بورډ روم" ( د یوې کمپنۍ د غونډو خونه) کي د هغه دیرش کلنی تجربه او د هغه کار ددې پروگرام د بریالیتوب سبب سو. ما د خپل کار تجربه په ټلویزیون کي ښکاره کړه؛ صحیح ده چي د ټلویزیون په برخه کي مي تجربه نه لرل؛ خو د کار تجربه مي درلودل.

کله، چي کتاب بازار ته وړاندي کیږي، ډېر خلگ هغه زحمت، چي د کتاب د لیکلو له پاره کښل سوی دی نه ویني بلکي یوازي د کتاب ښایسته چاپ سوي پوښ ته گوري.

ډېر وخت کیږي په اسانۍ سره د بریا دلاسته راوړلو احساس رواج موندلی دی. ځوانان انتظار باسي، چي په پوهنتون کي به د تحصیل په ختمولو سره بریا ترلاسه کړي، حتی ډېر کسان خپل کار پرېږدي او د اسانه او له چټکو لارو څخه د پیسو په لاسته راوړلو پسي ځي. ټلویزیون همېشه د هغه کسانو په اړه خبري کوي، چي ډېر ژر میلیونران سوي دي او داسي فکر کوي، چي ټول کولای سي د"سرچي برین" (د**Google**منځ ته راوړونکي) او یا د"جري یانک" (د **Yahoo** منځ ته راوړونکي) غوندي په یوشپه میلیارډران سي.

واقیعت دا دئ، چي ټلویزیون غلط مفهوم نشروي؛ هیځوک ستاسي د بریالیتوب پوروړی نه دی او ټوله په اسانۍ سره نه دي بریالي سوي، د بریالیتوب له پاره باید کار و کړئ، سره له دې، چي د هغه له پاره هیڅ ضمانت هم نسته باید د ټولو ستونزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له منځه وړلو له پاره په ډېر کارکولو سره د بریالیتوب لاره ځان ته هواره کړئ، له دې پرته بله هیڅ لاره نسته. موقع یا چانس لوی رول لوبوي؛ خو د هغه کنټرول ستاسي په لاس کي نه دی، په کم وخت کي، چي تاسي نېکبخته یاست د همدغه موقع څخه باید اعظمي ګټه واخلئ.

خپل منفي ټکي لیري کړئ؛ که مو منفي فکر کوئ، کار موختم دی، ځکه منفي فکر کول موقع ته هم موقع نه ورکوي. له یاده مه باسئ، چي ډېر بریالي اشخاص هم له بدبختۍ سره مخ سوی دي او پر خپل ځان یې د باور لرلو په مرسته خپلي ډېري کمزورۍ له منځه وړي دي. اړینه داده، چي په دې پوه سئ، چي د خپل ژوند څخه څه توقع لرئ، نه دا چي نور خلګ ستاسو څخه څه غواړي. خپل د ژوند په اړه خپله تصمیم ونیسئ، تاسي تر ټولو ښه پوهېږئ، چي تاسي څه ته اړتیالرئ.

**له خطر اخیستلو څخه مه ویرېږئ**

کله، چي مي پرېکړه وکړه، چي د ګلف مځکي به جوړوم ټولو ماته ویل:( ته چي شتمن یې او د املاکو په جوړولو کي بریالی یې غواړې څه وکړې!؟) ما ورته وویل:" دا یو داسي فرصت دی، چي هم د ګټي اخیستلو وړ دئ او هم زما د روحیې جوړوونکی دی" زه حیران وم، ځکه، چي داسي یو څه مي جوړول، چي په جوړولو کي مي یې تجربه نه لرل. هغه مهال د کار ټاکل زما په لاس کي و، دومره بریالی وم، چي د ټاکلو حق مي درلودئ، چي باید څه و کړم او دا صلاحیت مي درلودئ کوم کار، چي و نه غواړم سرته یې ورسوم، و نه کړم.

دا چي د ګلف د بازي سره مي علاقه لرل نو پرېکړه مي وکړه، چي د ګلف میدانونه جوړ کړم. زړه مي غوښتل د ګلف میدانونه په داسي ښه ډول ورغوم، چي هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې امکا ن درلود او غوښتل مي د هغه پرمخ بازي وکړم. د دې کار سرته رسولو ته مي اړتيا نه لرل؛ خو زړه مي غوښتل، چي دا کار سرته ورسوم. اوس نه يوازي پوهيږم، چي څنګه ميدانونه په ښه ډول و رغوم، بلکي د خوښي وړ ګټه هم ځني ترلاسه کوم. که مي دا کار نه واى ازمايلى، هيڅ کله به سرته نه واى رسېدلى.

د اپرينټيس په اړه هم دا ډول و، ما په ټلويزيوني ننداررو کي هيڅ تجربه نه لرل او زما له پاره کاملاً نابلده کار و؛ خو اوس کولاى سم، چي زيات کتونکي را جلب کړم. هيڅ چا هم فکر نه کوئ، چي د اپرنټيس ننداره دي په اخيري ځل (۴۱،۵) ميليونه تنه و ګوري.

د اپرينټس برياليتوب د خطر اخيستلو په اساس و، چي غوښتل مي سرته رسولو په موخه يې قبول کړم، ځينو به ويل: "که دا پروګرام کامياب نه سو، د ټرامپ شهرت به صدمه و ويني"ما به هغوئ ته ويل: "ماپسي دومره خبري کيږي، چي نور زه دې ته اهميت نه ورکوم، چي خلګ څه وايې"

خطر اخيستل بايد ډېر اړين و بولئ اوهمېشه د نوي کار د سرته رسولو په لټه کي و اوسئ. نوى کار سرته رسول نه يوازي دا چي خلګ ستاسو د کارونو په اړه آشنا کوي، بلکي د دې کارونو د سرته رسولو خطر ستاسي د کارونو سره د ټولو خلګو ليوالتيا هم پيداکوي. دا مهمه نه ده، چي بايد کوم کار و  کړئ بس يوازي او يوازي هروخت د نوي نظرياتو اومعلوماتو په برخه کي خپل فکر مصروف کړئ ځکه، چي نوي فرصتونه د نوي کارونو د سرته رسولو په اساس منځ ته راځي.

زه هره ورځ سهار وختي ژر راويښيږم او اخبار لولم. ورځپاڼه د خبرونو په موخه نه لولم، بلکي غواړم پوه سم، چي کم څه نوي پېښ سوي دي. د ورځپاڼي د لوستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه ډېر ښه زده کوم او خوښ یم، چي داسي تګلاره مي د ورځي د پیل له پاره ټاکلې ده. ځکه، چي زه يې په یادولو عادت کړی یم، چي دا زما د بریالیتوب لوی دلیل دی.

**خپل په ځان کي مثبته وړتیا منځ ته راوړئ**

تاسي باید مثبت فکر و کړئ او د هغه ښخه تر ټولو د ښه پایلي انتظار و لرئ. مثبت چلند ماته فرصت را بخښي. کله، چي مي تازه کار پیل کړ"غوښتل مي" قطار پن شرکت"رانیسم؛ خو پیسې مي نه درلودې، کارکونکي مي نه لرل او شوک مي نه پېژندل. ښار هم د بد قسمتۍ په حال کي و او ښاروالي هم پیسې نه لرلې؛ خو دا چي زه ځوان وم او د مثبتي انرژۍ ښخه برخمن وم، هغوئ ته مي دغه امید ورکړ، چي زما تجربه نه لرل او مخکي کار نه کول په پام کي و نه نیسي. هغه بانک، چي زما ژوند يې بدل کړ په بې باوري سره ماته پور راکړ، یوازینی شی، چي ما درلود هغه مثبت لید لوری او فکر و، ما خپل مثبت لید لوری پر ټولو باندي خرڅ کړ.

منفي فکرونه ستا سي او د هغو کارونو په اړه، چي کولای يې سئ تمرکز له منځه وړي او د بریالیتوب فرصت ته مو ټینګه ضربه ورکوي. د ګلف په لوبه کي متوجه سوم، چي په دې لوبه کي تر ټولو ښه لوبغاړی هغه دی، چي مثبت فکر کوي. ګلف په اصل کي جسمي بازي نه ده او دا اړینه نه ده، چي یوشوک شومره زور لري او شومره تېز توپ وهي، بلکي ګلف یوه روحي بازي هم ده او تر ټولو ښه لوبغاړی باید د قوي افکارو لرونکي وي. ګلف داسي جوړسوی دی، چي تاسو په دې پوهوي، چي ایا په سختو شرایطو کي مثبت کار سرته رسولای سئ که نه. وني، ویالې، درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تېږي ستا سو دتمرکز په وړاندي موانع دي، ایا کولای سئ ددې ټولو موانعو څخه تېرسئ او توپ په تېزۍ سره هغه هدف ته چي په پام کي يې لرئ ورسوي؟

د فکر مدیریت هم د بریالیتوب له وسایلو څخه دی، ممکن همېشه ګټونکي و نه اوسئ؛ خو په دې هم باید پوه سئ، چي ناکامۍ هم د بریالیتوب دروازه ده. شرایطو ته اجازه مه ورکوئ، چي تاسو منفي فکرکولو ته تشویق کړي. منفي فکرونه مو له یاده و باسئ او د هغوئ په وړاندي کلک و درېږئ. همېشه منفي فکر په مثبت فکر بدل کړئ. هغه انرژي، چي د مثبت فکر کولو له پاره مصرفيږي، د مثبت فکر کولو په وړتیا بدليږي او نور به هيڅ فکر تاسو په اسانۍ سره مایوسه نه کړي.

دعصبانیت څخه بیرته د ځان را ایستل عادت و ګرځوئ. ډېر خلګ ما عصباني بولي؛ خو داسي نه ده. زه سر سخته یم او حوصله مي تر نورو ډېره ده او هيڅکله خپل کنټرول له لاسه نه ورکوم. دا صحیح ده، چي باید په کار کي جدي یاست؛ خو که عصبانیت ستاسي څخه کنترول واخلي، ضعیف کسان یاست. که په دې کار سره تمرکز له لاسه ورکړئ، نور نو په خپل هدف کي بریالیتوب نه سئ منعکس کولای. زه، چي کله عصباني یم، د عصبانیت انرژي د هغه فعالیت د سرته رسولو له پاره مصرفوم، چي ماته آرامي

زیات کار کوم، حواس مي زیات راجمع کوم او ټوله هغه ستونزي، چي مي د هدف په لارکي واقع کيږي حل کوم. زیات وختونه، چي د تړون د لاسلیک په حال کي یم، پرځای د دې، چي عصباني سم، د دغه عصبا نیت څخه ګټه اخلم ترڅو په تړون کولو کي هدف ته ورسيږم. دعصبانیت د مثبت اړخ څخه ګټه اخیستل د تینګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحيې يو بل اړخ دی، چې تاسي برياليتوب ته رسوي. که هدف ته د رسېدو له پاره دعصبانيت څخه ګټه واخلئ، بياهم مثبت کار کوئ.

مثبت فکرکول يوازي؛ خوش بيني نه ده بلکي د مثبت کار منځ ته راوړل دي کوم، چي تاسي د منفي کارونو سره د مخامخ کېدلو په وړاندي قوي کوي. د خوشبينۍ فلسفې زه د اپرنتيس ايجادولو ته وهڅولم، ما هغه مهال د کار ډېر وړانديزونه درلودل؛ خو کله، چي زما سره داپرنتيس نظريه وړاندي سوه، هغه مي پرېښوده او لمړنۍ نظريه مي، چي د ټلويزيون په اړه وه قبوله کړه، چي دا ټوله د خوشبيني له کبله وه. که مي مثبت فکر نه لرلای نه به مي هيڅ وخت دغه کار سرته رسولی وای او نه به مي د سرته رسولو ګټه لاسته راوړې وای.

کله، چي ډېر ځوان وم د (ډاکټر نورمن ونسنټ پيل) د (مثبت فکرکولو قدرت ) په نوم کتاب مي و لوست. هغه مهال يو بل ښه کتاب د (راز) ترعنوان لاندي په کتاب پلورنځي کي موجودو، چي مثبت فکر کولو ته يې پراختيا ورکول. (راز) کتاب په کال کي تر ټولو ډېر خرڅ سوی کتاب سو او د دې کتاب ډېر متخصصين علاقه لري زما سره په لرنينګ انکس کي ملګرتوب وکړي. مثبت فکرونه زما د وجود بله برخه سوله. هره معامله، چي سرته رسوم مثبت فکرونه زماسره لويه مرسته کوي. د ښار تر ټولو په بدو اقتصادي شرايطوکي ما هرځای د خلګو سره دغه خبري کولې، چي هرڅه سميږي. زما د کار د ګټو څخه يوه د نورو له پاره د ژوند د شرايطوښه کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د منفي فکرونو قدرت**

زه د منفي فکرونو دقدرت څخه هم خبریم. د منفي فکرونو قدرت دومره دی، چي تاسي جګړې ته اماده کوي، زه اړ یم، چي په ژوند کي د منفي موانعوسره و جنګیږم، هرڅومره، چي اوس مثبت هم و اوسیږو، بیا هم په نړۍ کي د مریضیو، توفان، سیل او لوږي جنګ روان دی. بد انسانان هم شتون لري، نو زه باید هغه کار سرته و رسوم کوم، چي د بدوخلګو او بدو پېښو څخه په امان و اوسیږم. د بېلګي په ډول کله، چي مي د کمودورهوټل رانیوی، رانیول يې یو ساده خطر نه و او ښه پوهېدلم که مي ماته وخوړه کار مي خلاص دی، له اوله څخه مي هڅه و کړه تر څو په خطر اخیستلو کي مي لاس راکم کړم. که ډېر مثبت فکره وای کېدای سي ټوله خطر مي خپله اخیستئ وای؛ خو ما بانک په خپل خطر کي راسره شریک کړ، د ښاروالۍ مدیران پوهېدل پرته له دې، چي هغوئ پانګونه و کړي، زه د هغوئ له پاره په یوه ګرځندویه (سیاحتي) مرکز باندي د یو له منځه تللي ساحې د بدلولو له پاره یو فرصت یم. په پای کي پرېکړه وسوه، چي زه مدیریت اوپیسې په کار واچوم اوښاراوالي به ما د دې کار له مالیاتو څخه معافوي، ترڅو هوټل بیا را پیل کړم. ما هوټل په لس میلیونه ډالره رانیوی اوباید ۲۵۰ زره ډالره مي مخکي قسط اداکړی وای؛ خوما دومره پیسې نه لرلې. بلآخره مي تړون بې له دې، چي ۲۵۰ زره ډالره قسط ورکړم په اسانې سره لاسلیک کړ. مثبت وم؛ خونه سوای مي کولای د قراداد په خاطر مي ټوله ژوند په خطرکي واچوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په واقعي ژوند کي ټوله معاملات سرته نه رسيږي، ټوله قرادادونه نه لاسليک کيږي، همېشه نوي کارونه په وجود نه راځي، ټوله مريضان نه جوړيږي او ټول هغه کسان، چي ورسره مخامخ کېږئ بريالي کسان نه دي. ټول عمر تغيرنه خوړونکي شرايط نه وي. ددې ټولو خبروسره سره د منفي شرايطو سره د مقابلې له پاره بايد پرخپل ځان باندي باور زيات کړئ او خپل ځان د دې شرايطو له پاره اماده کړئ. پام مو وي، چي منفي شرايط هم د ژوند يوه برخه ده او ستاسي په وړتيا پوري اړه نه لري او يادو شرايط ته اجازه مه ورکوئ، چي پرځان باندي مو باور کمزوره کړي.

**د څلورم فصل څخه د زنگر اخيستنه**

په (۱۹۸۲) کي لرنينگ انکس د يوه عجبه فرصت سره مخ سو. د (۱۹۸۲) کال دمارچ پر (۱۱) مه زه متوجه سوم، چي په لرنينگ انکس کي سل زرم محصل هم نوم ليکنه و کړه، سره له دې، چي هغه وخت مي پيسې هم نه درلودې و مي ويل: "چي بايد يوجشن ونيول سي" اود مننې د مراسمو له پاره مي پرېکړه وکړه، چي بايد (۱۰۰۰۰) يو ډالري سکې د امپايرسټيټ د تعمير د بام څخه پر خلگو و پاشم. په همدې خاطر مي د مجلې، ورځپاڼي او ټلويزيون مسؤلين خبر کړل او (۱۰۰۰۰) يو ډالري سکې مي د بيلا بيلو بانکونو څخه راجمع کړې او د هغوئ پرمخ مي و ليکل چي " لرنينگ انکس دخلگو سره مينه لري".

ما غوښتل د مجلو، ورځپاڼو، او ټلويزيونونو څخه گټه پورته کړم ترڅو د لرنينگ انکس له پاره زيات تبليغات تر سره کړم. راډيواو ټلويزيون او نورو خپرنديو نهادونو د دې خبر استقبال وکړ او ټولو ته يې دا خبر ورسوئ، چي لرننگ انکس به ماپښين به پريوه بجه دجمعې په ورځ پر (۱۲) د مارچ، د **Empire State Building** له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره څخه (۱۰۰۰۰) یو ډالري سیکې لاندي وشیندي. د تعمیر شاو خوا سړکونه تر۳۴ سړک پوري بند وه. خبریالان، عکاسان او په زرګونو نور نفر تر تعمیر لاندي دې ننداري ته منتظر وه. نیم ساعت مخکي له دې، چي تعمیر ته ورسیږم، دوو مسلحو غلو یو بانک، چي په دغه تعمیر کي یې شتون درلود ترحملې لاندي نیولی و او بانک ته داخل سوي وه. ډېري پیسې یې له بانک څخه غلا کړي وې او د کچرې په بوجۍ کي یې اچولي وې او کله، چي د بانک د دروازې څخه د باندي را ووتل، خپل ځان یې نابېره د زرګونو ننداره کوونکو، عکاسانو، او د ټلویزیونونو د کېمرو په وړاندي ولیدئ. پولیس د هغو مخته و دریدل او وئې نیول.

کله، چي زه د پیسو د کڅوړو سره د امپایر استیټ تعمیر ته داخل سوم، د بانک ساتونکو ماته لیفټ ته د داخلېدلو اجازه را نه کړه، ما هغوئ ته د یو ډالریزو سیکو کڅوړي ښکاره کړې او ورته و مي ویل: "زه چمتو یم، چي دمنني له پاره دغه ډالرونه د خلګو پر سر وشیندم" د تعمیر د ساتونکو جواب منفي و، دا چي ډېرو هڅه کول، چي د کڅوړو څخه پیسې حمله کړي، ساتونکو د تعمیر په جیپ موټر کي سپور کړم او د هغه ځای څخه یې لیري کړم. ما و نه سوای کړای، چي د خلګو پر سر پیسې وشیندم؛ خو د ټلویزیون له لاري زما سره تماس و نیول سو او ویې غوښتل، چي ددغه پېښې په اړه په خبرو کي توضیحات ورکړم څکه، چي زما کار د بانک د غلا سره په یوه وخت کي و.

ما هم تشریح ورکړه، چي څوک یم، لرنینګ انکس څه کار کوي او غوښتل مي، چي د نیویارک د خلګو څخه د منني په پار د سل زرم محصل د شمولیت په ویاړ د خلګو پر سر (۱۰)زره ډالره وپاشم. ما غوښتل، چي د اعلاناتو په خاطر د خلګو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر (۱۰۰۰۰) ډالره و پاشم؛ که څه هم پیسې مي و نه پاشلې؛ خو د هغه څخه مي لس چنده تبلیغات و کړل. دا حیرانونکې پېښه زما او د لرنینګ انکس له پاره یوه لوی تصادف و. د مجلو د داخلي صفحو د مقالاتو پرځای زه د نیویارک ټایمز د مخ پرصفحه وم. د لرنینګ انکس یوعجیبه فرصت په نصیب سو او د هغه څخه وروسته زه ډېرو ټلویزیوني پروګرامونو ته دعوت سوم، چې خپله کیسه خلګو ته بیان کړم. ټوله خلګ د نوم لیکنې له پاره لرنینګ انکس ته راغلل او نه یوازې دا چې (۱۰۰۰۰) ډالره مي په کار اچولې بلکې په زرونو ډالره عاید مي هم لاسته راوړ. د مناسب وخت ټاکنه د ځان سره فرصت لري. کله، چې مي په نړۍ کې د نباغلي ډونالډ ټرمپ سره قرارداد لاسلیک کړ د (اپرنټس) لومړنۍ خپرونه  په **NBC** ټلویزیون کې خپره سوه او ترټولو مشهوره خبره، چې ډونالډ ټرمپ  په اپرنټیس کې کړې وه " ته ووتلې"وه، ډونالډ ټرمپ د امریکا په کورنیو کې یو ترټولو مشهور شخصیت ګرځیدلی و. د هغه سیمینار له پاره په کوم کې، چې ټرمپ ګډون کاوه، د خرڅ سویو ټکیټانو تعداد د باور وړ نه و. ټولو غوښتل، چې ډونالډ ټرمپ و ویني او شخصاً د هغه سره و پېژني.دا یو لوی فرصت و، چې د مناسب وخت سره سم زما په نصیب سوی و.

د ټولو څخه مهمه داده، چې ما د هغه فرصت څخه، چې راته مخه کړې یې وه وکولای سول ګټه پورته کړم.هر څوک په ژوند کې دیو فرصت سره مخ کیږي؛ خو د هغه څخه ګټه اخیستل بله خبره ده. ما پرنړۍ باندې د راګرځیدلو په پروژه کې ډېرې پیسې لاسته راوړې او زه غواړم پرنړۍ باندې د راګرځیدلو بلې پروژې ته چمتو سم. ټولو ویل:"ایله کوه یې! تا، چې څومره پیسې لاسته راوړې کېدای سي، بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

واري يې لاسته رانه وړي، ته په سر درديځ پسي ګرځې !" اما تجربو ماته ښودلې ده، چي فرصت بايد له لاسه ورنه کړل سي. پرېکړه مي وکړه، چي نه يوازي د نړۍ په کچه چمتو والی و نيسم، بلکي فوراً مي د امريکا په (۲۰) ښارونو د(۲۰) پروګرامونو مهال وېش ترتيب کړ.

**Steve Jobs** ددې سره مينه لرل، چي د ټولو له پاره کمپيوټر يوه شخصي وسيله و ګرځوي د دې کار له پاره يې د **Hewlett Packard (HP)** کمپنۍ څخه د حساب ماشين په (۱۳۵۰) ډالره رانيوی او د خپل شريک استيو وازنياک سره يې شپه او ورځ کار پر وکړ، چي بلاخره يې **Apple** کمپيوټر اختراع کړ. هغه چا، چي پوهنتون يې هم ختم نه کړ داسي يوشخص سو کوم، چي ويې کړای سول د ټولو هغو خلګو ژوند، چي د شخصي کمپيوټر څخه ګټه اخلي بدل کړي. په شروع کي ټول خلګ ليواله وي او ژر زده کړه کوي؛ خو نتيجې ته يوازي هغه څوک رسيږي، چي کارپای ته رسوونکي وي.

بابي فيشر په شپاړس کلنۍ کي د نړۍ دشطرنج د لوبي قهرمان سو، هغه يونابغه نه و، بلکي تمرين دغه ځای ته رسولی و، همدارنګه ټايګر ووډ د ۱۵ کاله تمرين وروسته په اتلس کلنۍ کي د نړۍ قهرمان سو. همېشه تمرين و کړئ او ځان ته پرمختګ ورکړئ؛ په هر کار کي، چي کوئ په هغه کي ځان مسلکي کړئ تر څو بلد سئ او هره ورځ ګټه ترلاسه کړئ. کله، چي سخت کار و کړئ، برياليتوب ترلاسه کړئ او هره ورځ مو تر بلي ښه کړئ، خلګ مو د برياليتوب څخه خبريږي او وايي "عجبه بختور سړی دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځلورم څپرکي لنډيز**

دا حقيقت دی، چي ځيني خلګ ترځينو نورو خلګو نړی ته نېکبخته راځي، مور اوپلار يې شتمن وي،په ښو ښوونځيوکي درس وايې او ښې اړيکي لري؛ خو اکثره بريالي اشخاص، چي زه پېژنم بريالیتوب يې په هڅه او کار تر لاسه کړئ دی. همېشه دا جمله پياد و لرئ **" ځومره، چي سخت کار کوم، هغومره نيکبخته کېږم"**. کله، چي د کار تر ټولو د بدو شرايطو پر مهال د بانک لرونکو جشن ته ولاړم په بد حالت کي نيکبختي راته راغله. دا چي سخت کار مي کړی و بايد هلته تللی وای، ځکه، چي زما تګ د کار له پاره اړين وکه هلته نه وای تللی نن ورځ به دلته نه وای. دا صحيح ده، چي بدي پېښې همېشه واقع کيدونکي دي؛ خو د هغوئ په وړاندي بايد ځانونه آماده کړو او په فکر او ډېرکار سره د لويو فرصتونو انتظار و باسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د بېري لاملونه

ژوند اسانه نه دی، نړۍ له بې باوریو ډکه ده او د انسانانو یوه برخه هره ورځ بدتره کیږي. ځیني د ځینو نورو د له منځه وړلو له پاره کارکوي، هغوئ که په دې ونه توانیږي، چي یوڅوک جسماً له منځه یوسي، روحاً یې له منځه وړي، زموږنړۍ د کینې څخه ډکه ده او ټوله نه یوازې دا چي ستا په بریالیتوب نه خوشحاله کیږي، بلکي تاسي د خپلي ناکامی د دلیل په توګه هم پېژني. ماته د وړکتوب په دوران کي د وسترن فلمونو په کتوسره همېشه پوښتنه پیدا کېدل، چي ولي د فلم ټول غړي غواړي د فلم قهرمان (هلک) مړکړي، اوس پوه سوم، چي په واقعي ژوندکي هم همداسي ده، داسي خلګ شتون لري، چي د نورو د بریالیتوب څخه بیزاره دي، ستاسو بریالیتوب کېدای سي ډېرو ته ازار ورکړي، حتی کېدای سي ستاسو دوستان او قومیان هم ستاسي له بریالیتوب څخه ځوریږي. د دې له پاره، چي خلګ پیسې په لاس راوړي او بریالي سي ټوله غواړي ستاسي څخه ناسمه ګټه واخلي.

په فلوریډاکي مي د مارالوګو(**Mar-a-Lago**) په نوم یوښایسته کلب تاسیس کړ، چي په هغه کي التون جان، سلین ډیون او ډېرو نورو هنرمندانو پروګرامونه سرته ورسول، د دې کلب غړي ډېرشتمن دي، کلب ډېر کامیاب دی د هغه د غړو څخه یو تن یومشهور شخص دی او په نیویارک کي ډېرتعمیرونه لري. درې کاله مخکي نوموړي زما پیسې اداء کړې او دګلف په کلب کي زما غړی سو،هغه یو محکم شخصیت لري او سرمایه یې د یو میلیارد ډالرو په شاوخوا کي ده که څه هم په ننۍ نړۍ کي ډېره زیاته شتمني نه ده؛ خو بیا هم شتمن دی، هغه زما سره د تعمیراتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار کي و او نه يوازي دا چي ما همېشه د هغه سره ښه سلوک کاوه بلکي همکارانوته به مي هم ويل ترڅو له هغه سره ښه سلوک وکړي.

يوه ورځ مي وکيل راته زنګ وواهه او ويې ويل:" دا ښاغلي په دې خاطر، چي تاسي دهغه دتعميراتو تر څنګ يو تعمير رانيولی دی ستاسي څخه شکايت کړی دی." ما ورته وويل: "امکان نه لري ځکه زما تعمير د هغه دکار سره اړيکه نه لري، او ما د هغه ښاغلي سره تراوسه دومره نيک سلوک کړئ دی، چي هغه به هيڅکله داکار و نه کړي"وکيل مي راته وويل:" نه داسي نه ده، د دغه سړي اخلاق داسي دي، چي که يو وخت يې ځوک فقط د هغه دکار ساحي ته نژدې سي نوموړی د هغه شکايت کوي ترڅو د رقيب حواس يې ټوله شکايت ته متوجه سي نه کار ته." ځيني خلګ داسي سلوک کوي، چي تاسي په بې ځايه مسائلو مصروف کړي ترڅو خپله پرمختګ وکړي او تاسي دخپلي خوښي له پاره له منځه يوسي.

وکيل مي راته وويل: "د دې له پاره، چي خپل نوم مو د رانيول سوي تعمير پر سر و ساتل سي يو ميليون ډالر مصرف ته اړتيا لرو"زما زړه نه غوښتل، چي دومره پيسې مصرف کړم؛ خو دا چي نوموړي زما څخه شکايت کړی و پرېکړه مي وکړه، ترڅو د هغه سره و جنګيږم. کله، چي زما جواب ترهغه پوري ورسېد، وکيل مي زنګ راته وواهه او ويې ويل: "نوموړی وايي، چي دکلب په قباله کي د همېشني مفت عضويت ترلاسه کولو په مقابل کي له دعوې څخه تېرېدلو ته حاضر دی" ورته و مي ويل:" څه ؟ زما په کلب کي دهغه عضويت يوازي اته زره ډالره دی، يعني نوموړي داکار په کال کي فقط د اته زرو ډالرو په خاطر وکړ؟" وکيل مي راته وويل: "دا دهغه غوښتنه ده، که نه د هغه د شکايت د مقابلې مصرف يو مليون ډالره دی."

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوا شینې سره مي د هغه د وړاندیز سره موافقه وکړه او د هغې ورځي وروسته مي ټولو کارکونکو ته وویل:، چي د هغه سره بدسلوک وکړي او جالبه داده، چي هغه همېشه کلب ته هم راځي ځیني خلگ غواړي، چي نورخلگ یې په وړاندي و دریږي او ورته و ښیې، چي هرځه کول مو په وس نه دي پوره، که د داسي خلگو په وړاندي کم راسئ له منځه مو وړي او که یې په وړاندي ټینګ و دریږئ احترام مو کوي، نو ځکه که ځوک درسره مقابله کوي د هغه څخه په اسانۍ مخ مه اړوئ او ورته و ښیاست، چي د مقابلې له پاره آماده یاست.

هیڅ وخت مو دوستان مه هېروئ. " دني دویچ"یو زما ددوستانو څخه دی هغه په NBCکي یوه کامیابه شو(تلویزوني ننداره) لرل او په Avenue Park کي یې زما اپارتمان ایجاره کړی و. ما هغه اپارتمانونه د "دلامنکو" د هټل په ساحه کي جوړکړي وه اپارتمانونه ځکه ډېر کامیابه سوي وه، چي په یوفوق العاده موقیعت کي جوړ سوي وه. ډېرخلگ د " Danny" داپارتمان غوښتونکي وه، او په زرگونه واري یې دهغه درانیولو یا اجاره کولو له پاره ماته مراجعه کړې وه؛ خو مابه ورته ویل دDanny داجارې دوه کاله لاپاته دي. دنوموړي اپارتمان اجاره (۴۵) زره ډالره وه ما Danny ته زنګ وواهه او دهغه څخه می پوښتنه وکړل:(ایا غواړې، چي اپارتمان می راته وسپارې؟) هغه وویل: ( دوه کاله نور) ما ورته وویل: "ښه نو زه باید صبر و کړم"

یو څو ورځي وروسته د ډني وکیل راته زنګ و واهه او و یې ویل، چي په اجاره لیک کي داسي یوه ماده سته، چي ته کولای سې هغه لغوه کړې اوغوښتل یې د اجاره لیک څخه دغه ماده وایستل سي. ما ورته وویل:" زه نه پوهیږم، چي په اجاره لیک کي څه ډول مطلب وجودلري زه به مي وکیل ته و وایم، چي تاته زنګ ووهي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکيل مي د ډني وکيل ته زنګ و واهه او ورته يې وويل: ”زه غواړم اجاره ليک لغوه کړم“ دوې دقيقې وروسته، خپله ډني راته زنګ و واهه او ويې ويل: ”ډوناله! ته غواړې اجاره ليک لغوه کړې؟“ما هغه ته وويل: ” زه اصلاً نه پوهيږم، چې په اجاره ليک کې څه ډول ماده شتون لري، چې ته دې وکيل ته د هغه له پاره پيسې ورکوې چې ما په دې پوه کړي ترڅو ستا اجاره ليک لغوه کړم“هغه ته مي وويل: ” ته زما ملګری يې او نه غواړم تا داپارتمان پرينبولو ته اړ کړم“ هغه ومنل، چې د (۴۵) زرو ډالرو پرځای ۵۰ زره ډالره اجاره راکړي او (۵۰) زره ډالره هم دپوليسو د سپورټ سازمان ته چې زه ډيره مينه ورسره لرم د مالي کمک په ډول ورکړي.

## شتمني ته مو پاملرنه و کړئ او ښه غوږ ونيسئ

که مو پيسو ته سمه پاملرنه ونه کړئ،که ناسم کار سرته ورسوئ او يا دنورو په اړه صحيح فکرونه کړئ کيدای سی پيسې مو له لاسه ورکړئ، نو څکه مخکې له دې، چې يوکارسرته ورسوئ دهغه په اړه بايد سم فکر وکړئ، ترڅو سم قدمونه واخلئ. دچاسره، چې مشوره کوئ په دقت غوږ ورته ونيسئ اوهغه څه، چې اورئ څان په پوه کړئ. د نورو خلګو سوابق او تير کارونه تحليل کړئ ترڅو پوه سئ، چې هغوئ څه ډول خلګ دي.

## داسي کار و کړئ چي خلګ درناوی درته و کړي

د خپلو کارکوونکو سره مو سلوک بايد په داسي ډول وي، چي هغوئ پوه سی تاسي د هرڅه په اړه معلومات لرئ که نه کېدای سي بده استفاده درڅخه وکړي. ماهغه وخت له پلار سره په ساختمان کي کارشروع کړ، چي تګ کول مي زده کړل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومتو  شخه  مي د هغه کارونه ليدل او د ساختمان د کارکوونکو سره مي د هغه د سلوک شخه خوند اخيست. کله، چي مي منځنی ښوونځی ختم کړ پلار مي فوځي ښوونځی ته شامل کړم؛ خو زه همېشه بيرته کورته د ګرځيدو په تمه وم ترڅو بيرته مي د پلار سره د ساختمان په چاروکي مصروف سم. ما له هغه شخه ډېر څه زده کړه هغه به ويل دزياتي ګټي لاسته راوړلو په خاطر بايد لګښتونه کم سي او دا چي هيڅ نرخ قاطع نه دی بايد د هرڅه له پاره تخفيف ترلاسه کړم. پلارمي د يوه جارو شخه نيولې د بام تر اسفالټو(ډامبر) پوري تخفيف ترلاسه کوئ او د کار سره بلد و. هغه په نرخونو ښه پوهيدئ؛ د رنګ نرخ، د نقاش د لاس مزدوري اود نورو اجناسوپه قيمت ښه پوهېدئ هيڅ چاته يې نه اضافه او نه کمي پيسې ورکولې، نقاش ته به يې ويل" دومره دي د رنګ لګښت دی، دومره دي د کارکوونکو لګښت او دومره ستا لګښت دی؛ خو که، چيري دي کار په فوق العاده ډول سرته ورسوئ دومره دي کېدای سي انعام وي"ټولو د هغه سره په زړه او ځان کار کوئ.

خلګو سره د هغه د خبروکولو له طرز شخه می زده کړه، چي معاملات څنګه په ثمر و رسوم، ددې کار له پاره بايد د نرخونو په اړه باخبره واوسو تر څو نور شک درباندي پيدا نه کړي. کله، چي زه منهتن ته راغلم له خپل کور شخه مي کار پيل کړ؛ خو داسي رويه مي کول چي ګوندي داسي يو سازمان چلوم، چي لسګونه نفرو ته اړتيا لري په داسي حال کي، چي په خپل کار کي يوازي وم. کله، چي به د يوشرکت سره مخامخ کېدلم هغوئ ته به مي ويل:" زه د ټرمپ د ټولني لخوا شخه يم او د وړانديزونو په اړه بايد د مديره هيئت سره خبري و کړم." تورجانکټ او پتلون، سپين يخنکاک او نېکتايې زما شخصيت د يوبا صلاحيته شخص غوندي ښودئ. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د مخنيوي څوک مي نه و نو ځکه مي هڅه کول تر څو معامله ترسره کړم اوهيڅ سوال د چا په ذهن کي پرې نږدم، چي ايا ددې کار تر شا زما لاس سته که نه؟ خلګو به ځکه زما احترام کوئ، چي د بحث کنټرول به مي په لاس کي اخيستى او ښودل به مي، چي ګواکي دا کار زه ترسره کوم.

په لرنينګ انکس کي مي وويل: "موږ په نړۍ کي ډېرلوى معامله کوونکي لرو؛ خو زموږ په بهرني سياست کي د هغوئ ځخه ډېره ګټه نه اخلو داسي کسان که څه هم اکثره وخت علمي نه وي او زده کړي يې د سياستمدارانو په کچه نه وي؛ خو دا وړتيا لري، چي د نورو هيوادونو د استازو سره کښيني او خبري و کړي."

**په هيڅ چا باور مه کوئ!**

مخکي به مي ويل:"بايد ښه کسان و ګمارل سي او پر هغوئ باور و کړل سي" خو نن ورځ وايم: "ترټولو ښه کسان و ګمارئ؛ خو پر هغوئ باور مه کوئ ځکه، چي د باور څخه مو ناسمه ګټه اخيستل کيږي" ډېر کسان پېژنم، چي ترټولو ښه وکيلان، محاسبين او مديران يې مقرر کړيدي؛ خو د باور څخه يې بده ګټه اخيستل سوې ده او خپل کارونه يې له لاسه ورکړي دي.

په خپله کاري دوره کي مي و کولاى سواى ښه کسان جذب او و ګمارم، چي اوس مي د شخصيت په پېژندنه کي ښه مهارت ترلاسه کړئ دى.

په مصاحبه ( انټرويو) کي وخت نه ضايع کوم او د هغه چا سره، چي مصاحبه کوم ژر يې پېژنم او تشخيصوم، چي ايا دا هغه شخص دى، چي زه يې غواړم که نه. زه اوس په دې پوهيږم، چي د ګمارني ټول شرايط بيا هم نه سي کولاى په صحيح ډول د يو شخص تضمين و کړي او زه پوهېدلى يم، چي لمړۍ سلوک ښه جواب ويونکى

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، ځکه، چي ځیني وختونه د خلگو ظاهري شکل هم انسان تېرباسي. ځیني داسي کسان هم د مصاحبې له پاره راځی، چي ظاهر یې د عمل (باطن) څخه توپیر لري، کېدای سي ښه قیافه لرونکی وي، ښه لباس یې اغوستی وي او په نظر کي ډېر ښه و ایسي؛ خو په هغه برخه کي، چي تاسو له هغوئ څخه کارغواړئ مناسبه وړتیا و نه لري؛ خو ځیني کسان سربیره پردې، چي ښه قیافه نه لري بیا هم په کار کي ښه مؤثریت لري اوکولای سي په کار کي تحرک او ښورښ راولي.

باید احتیاط و کړئ، چي منفي روحیه لرونکي اشخاص استخدام نه کړئ ځکه، چي د هغوئ روحیه ټوله سازمان منفي کولای سي نو ځکه ویل کیږي، چي" یوخراب سیب دټوله صندوق سیب خرابوي "عیني لکه هغه ویروس، چي نوروته سرایت کوي  د ټوله جوړسوي ټېم د تخریب باعث گرځي. څېړنو ښودلې ده، چي د یو کس منفي کردار ترمثبت کردار ډېر تاثیرلرونکی دی او دا د منفي سلوک قدرت ښیې. که یوشخص ډېر شکایت کوي او همېشه د خپلو ستونزو په اړه خبري کوي ( څنگه سخت کار  دی ...) او د حل لارو او د کار د ښیگڼو پرځای یوازي د کار نیمگړتیاوو ته پاملرنه کوي، ډېر ژر ددې باعث گرځي تر څو ټول کارکونکي له ستونزو څخه خبري و کړي او د کار چاپیریال ناسم و پېژني، په دې صورت کي  د کار انگیزه له منځه ځي او ټول هغه کسان، چي هلته کار کوي بې انگېزې کیږي او په سختۍ کار ته متوجه کیږي ځکه، چي دا فکر د سرطان غوندي ټوله ځایونه نیسي او بلاخره ستاسو گریوان هم نیسي.که داسي یو کس و گماړئ، چي د خپل مخکني کار په اړه منفي خبري کوي او د هغه په اړه بد وایې پوه سی، چي منفي شخص دی او کېدای سي ډېر ژر ددې کار په اړه هم شکایت پیل کړي. هغه اشخاص هم مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګماريږ، چي ډېري خبري کوي ځکه، چي د هر ورسپارل سوی کار له پاره ډېره تشريح غواړي.

زه ربښتيني او وفادار اشخاص خوښوم، وظيفه پېژندنه مي ډېره خوښيږي او بې دعوې او متواضع کسان مي خوښ دي له هغه کسانو څخه، چي خپل ځان ډېر لوړ ګڼې نفرت لرم. پر خپل ځان اعتماد په هر صورت کي ښه دی، چي وويل سي" ما هرڅه سم سرته رسول او مخکښي شرکت ځکه زه نه غوښتم، چي له نورو څخه ډېر پوهېدلم نو ورځني و وتلم" ډېروختونه کانديدان په ظاهراً په نظر بد راځي؛ خو زه کولای سم معلوم کړم، چي دوی دملک په کار کي علاقه لري که نه؟ غواړم پوه سم، چي هوښيار کسان دي که نه؟ دا چي ما همېشه دهوښيارو خلګو سره کار کړیږ دی نوځکه هغویږ ډېر ښه پېژنم. کله، چي مناسب اشخاص و ګماريږ بايد مديريت يې و کړيږ او د مديريت کيلي نورو ته د چارو سپارل دي؛ خو دا چي نورو ته کارونه سپارل اسانه کار نه دی، نو بايد ځان باوري کړيږ، چي کارونه په سمه توګه مخته ځي او هغه کسان، چي ستاسو سره کار کوي بايد تاسو ته درناوی و لري او حتی پرتاسو حساب وکړي.

## هر څوک نورو موقعو (چانسونو) او بخښني ته اړتيا لري

که له کارکوونکو څخه مو يو کار کوونکی داسي يو کار سرته ورسوي، چي د ارګان له پاره نا خوښه وي، تاسي هغه ته بخښنه وکړيږ او داسي فکر وکړيږ، چي هغه يوې بلي موقع ته اړتيا لري. چا ته، چي موقع ورکويږ هغه بايد په دې پوه کړيږ، چي تاسي هغه ته د افرصت د ځان داصلاح په خاطر ورکړيدیږ او دهغه څخه وروسته هغه تعقيب کړيږ، چي ايا واقعاً اصلاح سوی دی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپل ځان او نورو ته لوړ معیارونه و ټاکئ**

د خپل ځان او نورو ښه کار وغواړئ، ډېر وخت ځني کارکوونکي ښيي، چي د سخت کار کولو له پاره راغلي دي؛ په دغه وخت کي دا ډېره اړینه ده، چي همدغه توانایي او پرځان باور په هغوئ کي تقویه کړئ او هیڅ کله د هغوئ توانایي بې عوضه مه پرېږدئ او که، چیري له هغوئ څخه تیروتنه وسي ډېر یې مه رټئ ځکه، چي تیروتنه له هرچا څخه کیږي.

**د پنځم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

ستاسي وړتیا یوازي ترلویو کارونو سرته رسولو پوري محدوده ده او موخو ته درسېدلو له پاره باید د نورو قواو څخه هم مرسته ترلاسه کړئ. د وړ او ښو خلګو ګمارنه په کار کي د بریالیتوب او ماتي ترمنځ تفاوت دی. ډونالډ په دې اړه ډېر ښه وایي؛ د نورو د بد سلوک په وړاندي باید همېشه چمتو و اوسئ او د نورو ښه سلوک د خپل ځان په نصیب کړئ. د ځینو هغو ښو کسانو لاربښووني، چي زما له پاره ګټوري تمامي سوي دي په لاندي ډول دي:

- **انعام همېشه د کار څخه مخکي ورکړئ**

خوږ ملګري جان ګودفرند مي راته و ښودل که غواړې انعام ورکړې همېشه یې دکار دپای ته رسېدو څخه مخکي اداء کوه. ما همېشه دغه نصیحت په ژوند کي تعقیب کړئ دی او نتیجه مي یې ترلاسه کړې ده. په یاد می دي، چي د سیاحت له پاره د خپلي کورنۍ او د دوستانو د یوې کورنۍ سره جامابیکا ته تللی وم. دوستانو می هم زما غوندي اولادونه له ځان سره ملګري کړي وه. د خپلو اولادونو له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي د هغه خدمتونو څخه ګټه اخيستل، چي هوټل د ماشومانو له پاره درلودل. ما د اولادونو د ساتني د مسؤل په توګه د لمړۍ ورځي څخه د هوټل کار کوونکو ته سخاوتمندانه انعام ورکاوه او هغوئ ډېر خوښ وه او په ښه ډول يې کار سرته رسوئ ؛ خو کله، چي هغه بلي کورنۍ هغې ښځينه خدمتګاري ته، چي ټوله اونۍ يې په نا آرامۍ او سختۍ سره کارکوئ د کار په پای کي انعام ورکړ، دې ښځي حتی موسکا هم پرشونډو رانه وړه، ځکه، چي زما د ملګري کار معمولي و او دا کارهرڅوک کوي.

زه پوهېدلم، چي د لرنينګ انکس له پاره په ټوله امريکا کي کاري سفرونه به د کارکوونکو له پاره ډېر تکليفي وي، د دې کار له پاره مي د نيويارک په يوه ښايسته هوټل (ډورال ) کي يوه غونډه ونيول، ټول کارکوونکي او د هغوئ مېرمني مي د ماخستن ډوډۍ ته دعوت کړل. لمړۍ کار، چي مي و کړ هغه دا و، چي ټولو کارکوونکو ته مي د(۱۰۰۰۰) ډالرو، چيکونه ورکړل او هغوئ ته مي وويل:"تاسو به د سفر په پای کي دغه د منني، چيکونه ترلاسه کړئ ځکه، چي زه پوهيږم، چي د دې سفرونو په لړکي ممکن ډېر تکليفونه وګالئ" زه پوهېدلم که، چيري دا کاري سفرونه ادامه پيداکړي، دا به د دغه کار له پاره ډېرکوچنی عوض وي، چي هر يو به يې ترلاسه کوي .

هغه شور او شوق، چي دا چيکونو په مجلس کي ايجاد کړ دباور وړنه و. موږ ټول سفرونه په ميلمستيا کي پلان کړل، د لرنينګ انکس دغه سفر په ښه توګه ترسره سو. که څه هم، چي دا چک د ډېرو کارکوونکو د کلني حقوقو د څلورمي برخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره برابر و؛ خو زه پوهېدلم، چي کارکوونکي مي حتماً د دې امتياز وړدي او د دې کار ترسره کولو وړتيا لري.

- **زده کړه او تفريح سره ملګرې کړئ**

دا چي ما په ټوله امريکا کي د سفرونو څخه د لرنينګ انکس له پاره ډېري پيسې په لاس راوړي وې، د سفرونو څخه وروسته مي د کارکوونکو د تجليل په موخه ميلمستيا ونيول، او د هغوئ څخه مي و پوښتل، چي څرنګه کولای سو مخکي سفرونو هم په ښه ډول سرته ورسوو. دې پايلې ته ورسېدم، چي سفر ډېر خوندور و، که تفريح مو د زده کړي سره يوځای کولای ډېر زده کوونکي به مو جذب کړي وای .

د دې جلسې څخه وروسته زما سترګي په داسي کسانو پسي وې، چي په خپل جذابيت سره وکولای سي خپل ځان ته مراجعين راټول کړي، دا کسان معمولاً ښايسته او ښه خبري کوونکي دي، چي په هره ډله کي په اسانۍ سره ليدل کيږي. کم کار، چي ما وکړ دا و، چي هرځای به مي داسي کسان ليدل د لرنينګ انکس له پاره مي استخدامول. که تاسي ترټولو زيات خرڅ سوو فلمونو او مجلو ته و ګورئ، پيدا به کړئ، چي ښايسته کسان ډېر طرفداران لري؛ ولي ددې ټکي څخه د خپل کار له پاره ګټه پورته نه کړو؟! دا ټکی په ټولو برخو کي په کاريږي.

- **د متخصصينو مشورو ته غوږ و نيسئ**

کله، چي د متخصصينو څخه پوښتنه و کړئ د جواب اورېدلو له پاره يې چپ پاته سئ. ما ډېر داسي کسان ليدلي دي، کم څه، چي د متخصصينو څخه پوښتي وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله د هغه پوښتني ځواب وايي او يا متخصصينو ته بيرته د حل لاري وړاندي کوي. د بيلګي په ډول"زه داستونزه لرم، ايا ښه به نه وي، چي داکار وکړم؟" يا " کېدای سي ښه وي، چي داکار وکړم؟" متخصص ستاسو جوابونو ته اړتيا نه لري. ځکه، چي هغوئ متخصصين دی؛ نو د سوال د جواب اوريدلو له پاره چپ پاته سئ او پرېږدئ، چي متخصص جواب درکړي.

جيم کالينز په خپل بې ساری کتاب ( **Good to Great** ) کي وايي:"د خپل کار د ودي له پاره بايد د خپل ځان سره تر ټولو ښه او وړ کسان و لرئ" کله، چي مي لرنينګ انکس بيرته رانيوی، په دې اړه مي فکر وکړ، چي تر ټولو ښه کسان څوک دي، چي زما له پاره کار وکړي. د ډونالډ ټرمپ په خبره "زه د کارکوونکو وفاداري ته ترټولو لوړ ارزښت ورکوم".که په مرکه کي زما څخه يوڅوک وپوښتي، چي، څو ساعته کار دی؟ زه مرکه پای ته رسوم او پوهيږم، چي دغه شخص زما په درد نه خوري. زه داسی کسان د ځان سره لرم، چي کله نا کله، د شپي پر دوې بجي راته ايميل استوي. زه غواړم داسي خلګ پيدا کړم، چي ۲۴ ساعته کار کوي. د کار سره مينه لرل او د دې سره علاقه لرل، چي ترنورو په ښه ډول کار سرته ورسوي ترهرڅه مهمه دي.

ښه مقررونکي، داسي کسان مقرروي، چي د لسو تنو کار و کړي. که تاسي هوښيار کسان استخدام کړی، چي ډېر ښه کار کوي، ډېرو کار کوونکو ته اړتيا نه لرئ . څوک، چي زما سره پاتيږي، ښه پوهيږي، چي زه په دې باور لرم، چي ګټې مي د کار کونکو سره شريکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو کار کوونکي مي درلود، چي دنده يې د خبري کونکو د نوبت مديريت و. کاريې بد نه و، يوه ورځ مي هغه د سهارنۍ له پاره د ځان سره هوټل ته بوتلی، متوجه سوم، چي هغه په نيويارک ښار کي د ژوند کولو له پاره په زحمت سره لګښتونه لګوي، او د مالي ستونزو له کبله ځنګه، چي ښايې نه سي کولای کار ته پاملرنه و کړي. ترهغه وخته، چي د رسټورانټ څخه وتلم نه پوهېدلم، چي دهغه سره څه وکړم. هغه ښايسته ښځه لرونکی او ښايسته لباس اغوستونکی ځوان و او همېشه يې د قدر وړ ښځه لرل.

د دفتر خواته مي د پنځم سړک څخه تېريدم، د هغه سترګي په يوه د کان کي پريوې کورتۍ او پتلون و لګيدې او ويې ويل:" عجبه پتلون او کورتۍ ده " ورته و مي ويل: "داخل ته ځو د نژدې څخه به يې وګورو"پتلون او کورتۍ، چي مو راواخيستل فوق العاده ښکاريدل او قيمت يې هم ډېر لوړ و. هغه **Versace** (ايټالوۍ دلباسو کمپنۍ) پتلون او کورتۍ وه، چي (۷۰۰۰) ډالره قيمت يې درلود.

هغه مهال مي پلان درلود، چي د پوست متخصص ډاکټر نيکولاس پريکان د خبرو کولو له پاره را دعوت کړم. خبروم، چي پريکان زما د يو کارکونکي سره هم خبرو ته نه راضي کيږي او هغه دا څو اونۍ په دې تلاښ کي دي، چي پريکان خبرو ته راضي کړي. هغه ته مي وويل: "که دي وکولای سول د خبرو کولو له پاره پريکان راضي کړې، زه دغه کورتۍ او پتلون درته رانيسم" دوه ساعته وروسته، چي د فتر ته تلم، ګورم، چي هغه غواړي يوځای ته ولاړسي. پوښتنه مي ځني وکړه: "چيري؟ "هغه جواب راکړ: "ځم، چي کورتۍ او پتلون را واخلم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرهغه تخته مي، چي د مهمو خبرو کونکو نومونه یاد داښت کېدل، و لیدل، چي نوموړي د خبرو کولو له پاره د ښاغلي پریکان رضایت اخیستئ دی. که د خپلو کارکونکو څخه د یوبې ساري کار هیله لرئ باید د هغوئ له پاره بې ساري جایزې هم په پام کي و نیسئ. هغه شخص اوس زما له پاره کار نه کوي؛ خو مخکي تردې، چي هغه ولاړسي زما له پاره يې مننلیک لیکلی و، چي څنگه مي وکولای سولای په هغه کي ښه استعداد را وینښ کړم او هغه ته دا وښیم، چي ترټولو ښه واوسي . مقرروونکي او کارسپارونکي باید په دې پوه سي، چي د(۱۰۰)زره ډالرو گټلو له پاره (۲۵۰۰۰) ډآلره جایزه پانگونه ده.

### د پنځم څپرکي لنډیز

نړۍ د امن ځای نه دی موږ انسانان همېشه ویاړو، چي انسانان یو؛ خو واقیعت دا دئ، چي د ځنگل زمریان هغه وخت وژنه کوي، چي وږي سي؛ خو موږ انسانان دیو اوبل په روحي وژنه اخته یو، په ځانگړې ډول هغه مهال، چي شتمن کیږو.

هغه څه چي مي په لاس راوړي دي ټول غواړي، چي ترلاسه يې کړي، حتی زما نیژدې دوستان غواړي زما پیسې، ماشین الات او هغه کور، چي په هغه کي ژوند کوم ترلاسه يې کړي; زما دغه دوستانو زما د دښمنانو ځای خپل کړئ دی! لکه څنگه، چي د سیل یا اور غوندي د خطرد پېښیدو پر مهال لمړۍ د خپلو ځانونو په اړه فکر کوو او د خپلو ځانونو د ژغورني په هڅه کي یو، په ژوند کی هم همداسي دی. د کار کوونکو په استخدام کي محتاطه اوسئ که محتاط و نه اوسئ هغوئ ستاسو څخه بده استفاده کوي. ما به مخکي ویل، چي تر ټولو ښه کسان استخدام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړئ او پرهغوئ باور و کړئ؛ خو اوس وایم، چي تر ټولو ښه کسان استخدام کړئ؛
خو باور وربانديي مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپېږم څپرکی

## انتقام

زه همېشه بدل (انتقام) اخلم په کال ۱۹۸۰ مي یوه ښځه استخدام کړه، چي دولتي دنده او کم عواید یې لرل، کله، چي مي د هغې سره و پېژندل پیسې یې نه درلودې. فکرمي و کړ، چي هغه ښځه ډېره هوښیاره ده نو ځکه مي د ټرمپ په سازمان کي هغې ته ډېره ښه دنه ده وړاندي کړه ، هغه ددې دنه دي په مرسته دمالي اړخه ډېره ښه سول او ډېر ژر یې کارځای ته نژدې ډېر ښایسته کور رانیوی او د ملکونو په کار کي ډېره ماهره سول.

په (۱۹۹۰) کال کي مي د کار شرایط ډېر بد سول، و مي غوښتل، چي نومورې ښځه خپلو نیژدې ملگرو ته، چي د دې خبري ته یې غوږ نیوی او زما په کارکي یې ښه والی راوستی زنگ و وهي؛ خو نومورې ښځې په ډېرعجب کمال سره زما جواب رد کړاو و یې ویل "یا ډونالډ ټرمپ ، نسم کولای ستا له پاره دا کار سرته ورسوم" ما دهغې سره داحتیاج پر مهال ډېر کمک کړی و او د کار نیولو څخه لس کاله وروسته، چي مي کله د هغې څخه غوښتنه وکړه و یې نه منل، ماهم هغه نوره د ټرمپ د سازمان څخه جواب کړل ځکه، چي زه د بې وفا یې څخه نفرت لرم. وروسته مي واورېدل چي خپله یې شرکت تاسیس کړئ دی او ماته یې خوړلې ده (ډېوالي سوې ده).

د کار په دوره کي مي د کومو کسانو سره، چي ماته وفاداره وه ډېر کومکونه و کړه. هغه خوک، چي ماته وفادار پاته کیږي هغوئ ته همېشه لوړ مقامونو ورکوم او د هغوئ څخه په ښه توگه ملاتړ کوم، هرکله، چي زما لخوا هغوئ ته گټه رسیږي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار د هغوئ له پاره سرته رسوم. ځيني د هغوئ ښخه يې زما نيکي په ډېره ښه توګه په ياد کي سا تي؛ خو ځيني يې ډېر ژر هېروي.

د ګلف يوښه بازي کوونکي ته داسي پېښه سول، چي ويې نه سواى کړاى د هيواد په کچه په مسابقاتو کي قبول سي؛ نو په همدې اساس يې په محلي بازيو کي ګډون و کړ او له دې لاري توانيدلی و، چي په ايالتي لوبو کي هم ګډون وکړي، په لمړۍ مياشت کي په ايالتي مسابقاتو کي ښه و؛ خو د هغه وروسته ښه و نه ځلېد.

پرته له دې، چي د هغه ښخه پيسې وغواړم هغه ته مي د فلوريډا د ګلف په کلب کي په وړيا ډول د تمرين کولو اجازه ورکړه. ټرمپ انټرنشنل ګلف کلب د ډېرو ګران بيه او اعتبار لرونکو کلبونو ښخه دی، هغه درې کاله په هغه ځاى کي په تمرين مصروف و او هغه ځاي يې د خپل کلب غوندي باله.

کله چي ولايتي لوبو ته داخل سو او په هغه کي برياليتوب ته ورسېد دګلف د ځمکي تبليغاتي مدير را ته وويل:”ښه به دا وي، چي هغه ته ووايم د تبليغاتو له پاره زموږ د کلب په لباس کي لوبي ترسره کړي.“ ورته و مي وويل:” ښه خبره ده، د هغه ښخه غوښتنه و کړه حتماً به يې قبوله کړي او ماته به په کار کولو خوښ هم سي“؛ خو هغه ښاغلي جان ته ويلي وه:” وبخښۍ جان بايد زما د تبليغاتو د مديرښخه اجازه وغواړئ او د هغه سره خبري وکړئ“ ښاغلی جان، چي ډېرعصباني سوي و ماته خبر راکړ، هغه ته مي وويل:” فرق نه کوي، د مسابقو وروسته که يې هر وخت وغوښتل د ميدان ښخه ګټه واخلي ورته ووايه، بخښه غواړم بايد د ټرمپ ښخه اجازه واخلي.“

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کس(ریچارد برانسون ) هم، چي د (ویرجین اتلانتیک) هوايي شرکت خاوند و د اپرینټس غوندي يې شوو(ننداره) ننداريې ته وړاندي کړل ماته يې وخوړل هغه زما ښه دوست دی؛ خو لاکن هغه ته ویل سوي وه: دا چي ډونالډ ټرمپ ستا د شوو( ننداريې) رقیب دی د هغه په اړه بد ووایه او هغه هم همداسي کړي وه، زه دې ته منتظر سوم ترڅو هغه خپله ننداره وړاندي کړه او د هغه په اړه مي هیڅ ونه ویل، ځکه، چي نه مي غوښتل خلگ پوه سي، چي د هغه د ننداريې د ناکامۍ لامل زه وم؛ خو د ننداريې د پای ته رسیدو وروسته مي د نیویارک رسنیو ته وویل:" زه پوهیدلم، چي هغه نه بریالی کیږي" ټولو دا هیله درلودل، چي د اپرنټیس غوندي بریالي سي؛ خو زما غوندي هیڅوک بریالی نه و; په هر حال زه د(براسون) د بریالیتوب په هیله یم، هغه ښه سړی دی.

ټراکانر واقعاً با استعداده امریکايي انجلۍ وه کله، چي يې په نیویارک کي ژوند پیل کړی و له بده مرغه په نشه يې توکو روږدي سوې وه او دې موادو ډېر ژر د هغې ژوند په واک کي اخیستی و، نشه يې توکو د ټرا له پاره ستونزي و زیږولي، دټارا سره مي خبري وکړې او هغې ژمنه راسره وکړه، چي پرېږدي به يې. ما هغه د معتادینو مرکز ته وسپارل او د نشه يې توکو استعمال يې پرېښود هغه ددې همکاري په مقابل کي هر وخت زما څخه مننه کوي او وايي زما ژوند دي وژغورئ.

ټارا پرما گرانه ده او زما په اند ډېره ښه انجلۍ ده، حتی هغې ته مي دا فرصت ورکړ ترڅو یو وار بیا ځان مطرح کړي.

د ماشومتوب په دوران کي به مي مور او پلار د دعوو څخه مني کولم او راته ویل به يې یو د بل سره مینه و کړئ، هغوئ همېشه هڅه کول ترڅو ما د شوخۍ د کارونو څخه په نړۍ کي لیري وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یو واقعي نصیحت دی؛ که یو څوک ازار درکړي او تاسی هغه له منځه یو نه سي د هغه څخه هم بد تره يې. د ډېرو لیکوالانو دا نصیحت راته د منلو وړ نه دی**؛** ځکه په دې اړه یا یادونه نه کوي او یا وایي د ټولو سره د مهربانی سلوک و کړئ؛ خو زه وایم که مو له منځه نه یو وړ تیروتنه مو کړې ده ، که داسي و نه کړی نو دابلا باید په وار وار و زغمئ، اوس هیڅوک راسره نه سرپه سر کیږي ځکه پوهیږي، چي زه تر چا کم نه راځم او له منځه يې وړم.

**د شپږم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

ژوند له داسي ناکامه خلګو څخه ډک دی، چي د بریالیو کسانو د کارونو د خرابوالي سره لیوالتیا لري؛ دا بایلونکي ګټونکي نه خوښوي او دهغوئ له پاره ستونزي پیښوي. دا ستونزي دهغوئ د حسادت او طمعي له کبله دي. اصلاً دا کار د دوی له پاره پیسو ته هم اړتیا نه لري؛ خو لکه څنګه، چي ډونالډ ټرمپ وایی؛ هغوئ ځکه دا کار کوي، چي ورته اسانه دی.

د کار په پیل کي مي یوخبریاله، چي مشهوره لیکونکې وه، د خبروله پاره دعوت کړې وه. په پام کي وه، چي د شنبې په ورځ سهار په واشنګټن کي دی د یادي لیکوالي خبري خپري سي. د جمعې په ورځ ماښام یادي ښځي ماته زنګ و واهه او ویې ویل، چي پرواز يې لغوه سوی دی، نه سي کولای د شنبې په ورځ سهار هلته راسي. سلګونو نفرو د دې آغلي د خبرو له پاره نوم لیکنه کړې وه، دومره وخت مي نه درلود، چي ټولو ته خبر ورکړم، چي پروګرام لغوه سو. د آغلي سره د تلفون کولو وروسته مي هوایې شرکت ته زنګ وواهه، پرواز نه و لغوه سوی بلکي دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

آغلي تازه پرېکړه کړې وه، چي حاضره نه سي،هغې ته زما تاوان او هغه ټولو اشخاصو چي د خبرو له پاره يې وختي نوم ليکنه کړې وه ارزښت نه درلود.

د دې پېښي وروسته مي پريکړه وکړه د ټولو هغه کسانو، چي زما سره يې بد کړي دي ليست ترتيب کړم چي هيڅ چا نه غوښتل نوم يې په ياد ليست کي شامل سي.

څه وخت وروسته تلويزيون زما سره اړيکه و نيول؛ غوښتنه يې وکړل، چي دا ليکواله په تلويزيون کي معرفي کړي او د هغه سيمينار په اړه يې، چي د هغې له پاره مي ترتيب کړی و راڅخه پوښتنه و کړه، دا چي ماته هم موقع مساعده سوې وه نوهغوئ ته مي وروپېژندل او ورته و مي ويل:" نه يوازي دا چي هغه مسلکي نه ده درواغجنه هم ده او په اصل کي د اعتبار وړ څوک نه ده"

هغې ته مي هيڅکله په تلويزيون کي ګډون ورنه کړ، سره له دې چي نومړې څو ځله په لرنينګ انکس کي د خبرو کولو له پاره غوښتنه هم و کړه؛ خو هيڅکله مي اجازه ورنه کړه. زه د ځان سره د چا غير مؤدبانه سلوک نه هېروم که ما ته بې احترامي وسي حتما يې کسات اخلم.

همېشه دهغه کسانو ليست ترتيب کړئ، چي ازار يې درته رسولی دی، وروسته مناسب وخت ته منتظرسئ او داسي وخت دهغوئ څخه بدله واخلي، چي فکر يې هم نه کوي او داسي څه ورسره و کړئ، چي درد يې احساس کړي. که پريو چا مو پور باندي وي او پور د وخت څخه وروسته اداء کړي کولای سئ هغه و بخښئ؛ خو که داسي موضوع وه، چي هغه ته ستا تاوان ارزښت نه درلود، مناسب فرصت ته منتظر سئ او هغه ته ترټولو سخته ضربه ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي لنډیز**

کله، چي ماشوم وم مور پلار همېشه دا را ښودل، چي د عوه و نه کړم او حوصله و لرم. هغوئ دا حق درلود ځکه، چي غوښتل یې د سر درد څخه ځان لیري و ساتي؛ خو د لویو خلګو ژوند جلا کیسه لري، ځکه، چي ډېرئ یې هڅه کوي پرتاسو زور راولي که مو سر ټیټ کړ او څه مو و نه ویل د هغوئ سلوک نور هم ستاسو پر وړاندي بد کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## تلوار یا چټکتیا

د بریالیتوب له وسایلو څخه یوه وسیله په مناسب وخت کې د کارونو سرته رسول دي، له دوهمي نړیوالې جګړې څخه وروسته د ژوند کولو له پاره کافي اپارتمانونو شتون نه درلود. مخکې له جګړې څخه کورونه په انفرادي شکل جوړېدل؛ خوویلیام لویټز د کور جوړونې په برخه کې یوه نوې تګلاره رامنځته کړه او دا سیستم دومره بریالی و، چې لویټز یې دومره مشهور کړ، چې تصویر یې د ټایمز مجلې ( **Time Magazine**)پر مخ چاپ سو.

د دوهمي نړیوالي جګړې څخه وروسته، چې کله ټول فوځیان راوګرځېدل د اوسېدو ځای ته یې اړتیا دومره زیاته سوې وه، چې خلګ د اوسېدو ځای په مظاهراتو کې د ګډون پر مهال شپې، شپې د هغه چادرونو لاندې بیدیدل، چې په پیاده رونو کې درول سوې وه. اوسنۍ د کور جوړونې او ښارجوړونې عصري سیستم وجود نه درلود. کوم کار، چې لویټز سرته ورسوی هغه دا و، چې لویې د ښتې مځکې یې رانیولې او هغه یې د (۲۷) تخصصي برخو لکه کیندنې، ویلډینګ چت اچونې، دروازې او پنجرې جوړونې، فرش، غولې باغچې او نورو برخو په پام کې نیولو سره د جوړونې تر پروسې لاندې و نیولې. هغه د متخصصینو څخه په هره برخه کې ګټه اخیستل او په دې سره یې و کولای سول تر څو د کورجوړونې پروژه، چې کلونو وخت ته یې اړتیا لرله، په ډېر کم وخت کې سر ته ورسوي. هغه د بازار په اړتیا او لوړه پوهېدئ او د لمړۍ پروژې په نتیجه کې یې په لوینګټن نیویارک کې (۱۷) زره کورونه جوړکړل. دا چې هغه پوهېدئ، چې د منځنې قشر له پاره باید په کم مصرف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورونه جوړکړي، نو ځکه خپله به پر کار حاضر و او ټولو ته یې دا ښوولې وه، چې یو میخ هم بیځایه مصرف نه سي. حتی نوموړی پر نورو ساختماني شرکتونو د پاته سوي مصالې(ګډ سیمینټ...) په خرڅولو سره هم پیسې سپما کولې. په ارزانه بیه د پنجرې جوړوني او په عمده ډول دکور د اړتیا وړ سامانونو لکه د کالو پرېوللو د ماشین ... په رانیولو سره یې خلګو ته نه یوازې دافرصت ورکړ، چې په کم وخت کي د کورونو درلودونکي سي، بلکي دا فرصت یې هم ورکړ، چې په عیني وخت کي د یوه پوره کوردرلودونکي سي.

لویټز پرته له پیسو تر ټولو په کم وخت کي په کښته نرخ په ټوله امریکا کي (۱۴۰)زره کورونه خرڅ کړل، نه یوازې دا چي د بازار غوښتنه (تقاضا) یې پوره کړاځ سول د هغه ترڅنګ یې وکولای سول چي په (۱۹٦۸) کال کي په بورس کي د **ATT** یو لوی شرکت په ۱۹۲ میلیونه ډالره، چي د اوس له دوه میلیارډه ډالره سره سمون خوري رانیسي.

د لویټز قرارداد د دې خرڅلاو څخه وروسته نوموړي ته په امریکا کي د لسو کالو له پاره د کورجوړوني په برخه کی اجازه ورنه کړه. لویټزد ډېرو پیسو په بدل کي د یوداسې چاسره واده و کړ، چي کلونه تر هغه کشره وه، شپېته متره کښتۍ یې رانیول او له ښځي سره یې نوروهیوادونو ته سفر و کړکه څه هم ده غوښتل، چي په ځونورو هیوادونو کي هم داکار تعقیب کړي؛ خو په دې کار کي جدي نه و، نو ځکه هغه نور د کورجوړوني پروژې تعقیب نه کړې.

**ATT** شرکت د کور جوړوني په برخه کي د لویټز غوندي بریالی نه و، ځکه، چي د لویټز کار په پیسو سرته نه رسېدئ. **ATT** د لګښتونو د نه کنټرول له کبله د لویټز

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نرخ د کورونو په خرخلاو باندي قادر نه و او په خلورو کلونو کي د **ATT** د کور جوړوني سهم (۹۰) سلنه کښته سو. **ATT** د کورجوړوني کار د یو لوی کمپنۍ غوندي سرته رسوی؛ خو بریالی نه و او د ډېرو پیسو له لاسه ورکولو سره یې د ۱۵- کلونو وروسته بیا سهمونه و پلورل،چي هغه لویټز رانیول او بیا یې په امریکا کي دکورجوړوني په کار پیل وکړ؛ خو دا چي لویټز هم نوره اړتیا نه لرل بیا یې هم کامیابي ترلاسه نه کړه.

دا پېښه د بد اقتصادي حالت سره یوځای سول او لویټز ټول هغه څه، چي لاسته یې راوړي وه له لا سه ورکړل او د ډېوالیتوب اعلان یې و کړ. په ۱۹۹۳ کال کي ما لویټز په یوه میلمستیا کي ولید د خوني په ګوښه کي یوازي ولاړ و. له هغه څخه مي پوښتنه و کړل ( څه وسول ؟) هغه په ساده ډول وویل: "تلوار کول (سرعت) مي له لاسه ورکړ" ما دا خبره هیڅکله له یاده ونه ایستل، دا هم هغه شخص و، چي ۱۴زره کورونه یې جوړکړي وه او یوعمده تغیریې د کور جوړوني په برخه کي راوستلی و کلونه وروسته لویټز له پیسو پرته له دنیا څخه ولاړ، یوازي په دې خاطر، چي تلوار کول(چټکتیا) یې له لاسه ورکړي وه.

له هغه نه وروسته ما ډېر وخت فقط د تلوار زده کولو له پاره مصرف کړ او هیڅکله نه غواړم د تلوار نه کولو له کبله شاته پاته سم او دا زده کړه زما په ژوند کي ډېره مهمه ده.

که چیري تاسي د یو مهم هدف (کورجوړول، کارپیدا کول یا د نیویارک ښاروال کېدل...) له پاره کار شروع کړئ وي؛ خو تر اوسه مو لا پرمختګ نه وي کړی، چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یاست پېژندلي او د کار په برخه کې چا زنګ نه وي درته وهلی په راتلونکي کې به هم کوم خاص پرمختګ ستاسي په کار کې ونه سي.

پرمختګ داسي کیږي، چې که څه هم تاسو څوک نه پېژنئ و کولای سئ د ټلفون په مرسته اړیکه و نیسئ او د خپل کار په برخه کې له یو چا سره تړون لاسلیک کړئ. ستاسو پرخبرو تر هغه وخته هیڅوک باور نه کوي ترڅو د یو مهم شرکت سره د کاروربار په برخه کې تړون لاسلیک نه کړئ؛ خو کله، چې دا کار و کړئ ډېر خلګ خپله د تړون کولو په موخه درته رامخته کیږي او ډېر ژر مشهوره کېږئ.

په کار کې دا ډول پېښوته تلوار او عاجله وایې. د هري ورځې په تېرېدو سره ستاسو سره نوي کسان په کار شروع کوي او په پایله کې ستاسو چټکتیا نوره هم زیاتیږي. څنګه کولای سو چټکتیا ترلاسه کړو؟ لمړی باید داسي کار پیداکړئ، چې په هغه کې مهارت ولرئ او په هغه کار کی مو معلومات زیات کړئ. کله، چې مي په وارتېن پوهنتون کې محاسبه ویل، ښه معیاري درسونه یې وه؛ خو د املاکو د کار سره یې زما د علاقې تنده نه کړه را ماته ځکه، چې زما زړه دا غوښتل، چې د املاکو په کار کې لوی سم. په خپل فارغه وخت کې به مي دا زده کول، چې څرنګه املاک خرڅ او رانیسم او هڅه می و کړل له ځان څخه یو تلواري او چالاک شخص جوړ کړم.

د چټکتیا د ترلاسه کولو په برخه کې یو ښه لارښود هم کمک کولای سي؛ د هغه کار سره، چې علاقه لرئ، د هغه په برخه کې د لوړو معلوماتو لرونکي کسان پیداکړئ او دهغوئ سره ملګرتوب وساتئ ترڅو د هغوئ څخه د هغه کار په اړه، چې مینه ورسره لرئ پوښتني و کړئ. داسي اشخاص د معلوماتو په مرسته تاسوته په کار کې لارښوونه کولای سي، چې په دې برخه کې زما ملګری زما پلار و. کله، چې فارغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

التحصیل سوم د املاکو په برخه کې مې معلومات لاسته راوړل او د هغه سره د املاکو په کار کې داخل سوم، پلار مې په کارکې د تلوار زده کولو به برخه کې راسره ډېره همکاري و کړه.

ما د خپل پلار له پاره کار کول خوښ لرل؛ خو د دې له پاره چې د کار چټکتیا مې نوره هم ډېره سي خپله مې هم ډېر کار کاوه، چټکتیا د اوبو د څاڅکو غوندې جمع کېږي، کله، چې چټکتیا دربېږي تاسې هم دربېږئ او په کامل د ربړدو سره یې له منځه خئ. ویلیام لوینټز د یو داسې پېښې په نتیجه کې له منځه ولاړ، چې چټکتیا یې له لاسه ورکړل او په یو ډېرغربت کې یې له دې نړۍ سره مخه ښه و کړه.

**کوم څه، چې مو له منځه یو نه سي؛ قوي کوي مو**

که چټکتیا له لاسه ورکړئ کېدای سي له منځه ولاړسئ؛ خو که له منځه ولاړنه سئ نورهم قوي کېږئ. زه هغه کسانو ته زیات قائل یم کوم، چې بدبختۍ تجربه کوي او په وړاندې یې جنګ ته ادامه ورکوي او له منځه نه ځي.

په ۱۹۹۰ لسیزه کې همدا راته تجربه سول او له هغه څخه سر لوړی را ووتم، ما ته تجربو را وښودل؛ که ماته قبوله کړئ مات به سئ؛ خو که و جنګېږئ کېدای سي له هغه څخه و وزئ، هیڅ وخت ماته مه قبلوئ او په دې پوه سئ، چې هر وخت فرصت په مخ کې دی.

سختۍ او بدې رامنځته کېدل د ژوند یوه برخه ده؛ خو کېدای سي تاسو خپل ځان د ستونزو او فشار په حالت کې ښه و پېژنئ. ستونزې همېشه سته؛ خو زموږ کار د ستونزو حل دی، ډېرې پیسې د ډېرو ستونزو د حل په پایله کې لاسته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسانه کارونه هر څوک سرته رسولای سي، چي معمولاً کوچني امتیازات لري؛ خو لوی امتیازات یوازي د لویو ستونزو د حل په نتیجه کي لاسته راځي.

**ستونزي مو راوسپړئ**

دا ومنئ، چي تېروتنه هر وخت او هرڅوک کوي؛ خو له هغې څخه باید درس واخلئ. هیڅ شی هغه ډول سرته نه رسیږي څرنگه، چي يې توقع لرئ. د تېروتنو منل د کمزورۍ نښه نه ده، بلکي تیروتني د ژوند برخه ده او تاسي يې په منلو سره د چارې او جبران له پاره اقدام کوئ تر څو هغه حل کړئ، زده کړه ځني و کړئ او د بیا تکرار څخه يې ځان و ژغورئ.

وخت هم بدلون ته اړتیا لري، کوم کار، چي سرته رسول يې خوښي نه در بخښي هغه ته تغیر ورکړئ؛ خو هغه کار، چي د سرته رسولو څخه يې خوند اخلئ په اسانۍ سره مه پرېږدئ، د تېروتنو څخه مو درس واخلئ او د هغه درس څخه د خپل ځان د جوړولو په برخه کي کار واخلئ.

**کله، چي مو کار پرمختګ و کړ؛ نور مه هېروئ**

د لوی فکر سره چټکتیا او تلوار په پام کي نیول به مو مخته بوزي، کله، چي اوج ته ورسېدلاست باید پوه سئ، چي څه ډول سلوک وکړئ ځکه، چي اوس نو نورو ته د فکر کولو وخت دی په دې وخت کي نور مه هېروئ.

ما ډېري پیسې لاسته راوړي دي او د دې سره سره مي د خیریه مؤسسو سره ډېر کمکونه هم کړي دي. د نورو نه هېرولو په برخه کي (وارن بوفه ) یو ژوندئ مثال دی، هغه یو مهربانه ملیارډ دی، چي د خپلو پیسو څخه يې ۳۰ میلیارده د بیل او ملینډا بنیاد(د بیل گیټس سازمان) ته وربخښلي دی ترڅو د نړیوالو د سلاماتیا په خاطريې مصرفکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چي خلګ په زده کړه سره هم بریالیتوب ته رسیږي نو معلومات هم د ټولني له پاره بخښونکي دي او ګټورتماميږي. زه په (لرنینګ انکس ) کي د خبرو(ویناوو) په مرسته سره نورو ته ور ښیم، چي د لاسته راغلي عاید ډېره برخه مي خیریې ته ځانګړې کوم. د دې له پاره، چي چېکتیا مو زیاته سي باید د ورکړي (بخښني) راز هم زده کړئ او هغه وخت هم وپېژنئ.

**د اووم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

کله، چي مو کار چټکتیا پیدا کړه، د همهغه چټکتیا علت پیدا کړئ او د هغه علت څخه د امکان تر بریده ګټه واخلئ. کله، چي ما ونه سوای کړائ د منني له پاره د نیویارک د خلګو پرسر د امپایر سټیټ له بام څخه لس زره ډالره وشیندم، نو د هغه چټکتیا څخه مي چي د لرنینګ انکس په برخه سوې وه ګټه واخیستل او ومي کولای سوای لرنینګ انکس ټولو امریکایانو ته ور و پېژنم. ما د لرنینګ انکس د خبرو کونکو د پرمختګ او چټکتیا څخه هم ډېره ګټه اخیستل، چي په دې برخه کي زما سره د ټرمپ همکاري، چي لرنینګ انکس یې ترټولو لوړ مقام ته ورسوئ ځانګړې وه؛ خو د دې ترڅنګ مي د ښاغلي" آنتوني ربینز، جورج فورمن رابرت کیوسکي، جیمي کریمر او نورو خبرو کونکو د ویناوو څخه هم د کار د پرمختګ په برخه کي ګټه واخیستل.

تېر کال ټول د (راز) فلم شوق پر سر اخیستي وه او میلیونو امریکایانو یې **DVD** رانیول، حتی اوس هم د نړۍ په زیاتو ځایونو کي دا **DVD** رانیول کیږي. د دې فلم متخصصینو د آپرا وینفری، آلن ډی جنرس، لری کینګ لایو او مانټل ویلیام ټلویزیوني نندارو کي برخه اخیسته او لاس انجلس ټایمز ورځپاڼي دا **DVD** یوه پدئده وبلل. هغه وخت ما د (راز) فیلم د متخصصینو په دعوت پیل و کړ اوغوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي د جک کانفيلد، جيمزري، لورل لنګمایر، او ليسا نېکولاس غوندي کسان په لرنينګ انکس کي خبري و کړې، چي دې کار د پام وړ بریاليتوب د ځان سره درلود. زه همېشه د خپل کار د ښه والي طرفدار وم او د دې فرصت څخه مي ګټه اخيسته تر څو ښاغلي جک کانفيلد ته يو تلويزيوني پروګرام جوړ کړم ترڅو د فکر د قدرت علاقمندانو ته زده کړه ورکړم او هغه څه ورته ورسوم، چي د فکر د قدرت په مرسته ترلاسه کېدلای سي. ښاغلی جک کانفيلد هم يو فوق العاده شخص دی، چي د **Chicken Soup for the Soul** کتاب يې په کتاب پلورنځيو کي تر ۱۰۰ ډالره ګران خرڅ سو. هغه د لرنينګ انکس په تلويزيوني پروګرام کي ټولو ته ور و ښودل، چي څنګه کولای سي ډېري پيسې لاسته راوړي، څنګه د ژوند مناسب ملګری پيدا کړي او د هغه سره ژوند برابر کړي. د جک کانفيلد پروګرام د لرنينګ انکس د هغه پروګرامونو څخه وو، چي لرنينګ انکس يې په يو ميلیارډر شرکت تبديل کړ.

ما د ډېرو تلويزيوني خپرونو د خپرونکو سره خبري و کړې، چي د لرنينګ انکس چينل په يو داسي چينل بدل کړو، چي ډېر ليدونکي جذب کړي. په ځان کي د انګېزې ايجادولو د پروګرام تجارت نن ورځ يو ۱۹بيليون ډالري تجارت دی او زه غواړم لرنينګ انکس يو داسي مرکز سي، چي کله يو چاته د انګيزې پيدا کولو غوښتنه پيدا سي بې اختياره يې فکر ته لرنينګ انکس راسي. زه اوس هم د کار په شروع کي يم او غواړم لرنينګ انکس دا سي يو نوم کړم چي د خپل ځان څخه انګيزه خپره کړي.

کله، چي مو چټکتيا او سرعت ترلاسه کړل هغه  په حرکت راولئ او په هر هغه کار لاس پوري کړئ، چي په هغه کي ستاسي د چټکتيا د زيات والي اغيز ليدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کار کی مو شریکان پیداکړی اوتر ټولو لوړ اهداف په فکر کي و نيسئ او پرېږدئ، چي دا چټکتيا او سرعت مو لوړي سطحي ته ورسوي. هره نوې ورځ د ډېرو امکاناتو ښودونکې ده. زه هڅه کوم په هره نوې ورځ کي خپل ځان تر تېري ورځي ښه کړم او پرمخ و لاړسم. چټکتيا ترلاسه کړئ او هغه په همهغه کار کي په کار واچوئ، چي مينه ورسره لرئ، په هغه کار مصروفه سئ او د يوښه پرمختگ او بريالیتوب د ورځي په انتظار کي و او سيږئ.

## د اووم څپرکي لنډيز

په هر کار کي بريالیتوب ته سرعت او چټکتيا ور و بخښئ. چټکتيا د وخت او انرژي واحد دی، د کار په پيل کي چټکتيا وجود نه لري، او ټوله کارونه په سختۍ سره سرته رسيږي. که تلفن راپورته نه کړئ او زنگ ونه وهي فکر مه کوئ، چي خپله به يو حرکت رامنځ ته سي؛ خو که موخپل کارته ادامه ورکړئ کېدای سي و وينئ، چي حرکت مو رامنځته کړئ دی؛ هره ورځ د نوي خلگو سره پېژنئ، او اړيکي مو قوي کيږي، اعتبار مو زياتيږي، بريالیتوب او د کار سرعت مو زياتيږي. که مو په کار کي چټکتيا له لاسه ورکړه بريالیتوب مو پای ته رسيږي او هرڅه ستونزمن کيږي . کله، چي چټکتيا له لاسه ورکړئ کارونه په صحيح ډول صورت نه نيسي، اشخاص او د وخت پېښي نور ستاسو په گټه کار نه کوي. با احتياطه اوسئ، چي په کار کي سرعت او چټکتيا له لاسه ورنه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## پر هدف مو تمرکز له لاسه مه ورکوئ

په ۱۹۹۰ کې مې ډېرې ستونزې تجربه کړې. ما د هغه څه په اړه، چې **Business Week** (بزنیس ویک) مجلې زما په اړه لیکلي وه باور کړی و:"هرڅه ته، چې لاس ور وړم راته سره زر کېږي او دا ربښتیا ده، چې زه د نړۍ تر ټولو ښه تجار یم."

کله، چې داسې فکر و کړئ چې هیڅ وخت به ماته و نه خورئ، عقیده مو دا سې جوړېږي، چې د ټاکلي وخت څخه مخکې هدف ته رسیږو او په کار کې هیڅ ماته شتون نه لري، په دې صورت کې مو خپل کار ته جدي پاملرنه نه کوئ او فکرکوئ، چې پیسې لاسته راوړل اسانه دي.

واقیعت دا دی، چې پیسې ګټل سخت کار دی. زما په اړه د (بزنس ویک) اونیزې مجلې مقالې زما د کار تمرکز له منځه یو وړ، ځکه، چې نور مې سخت کار نه کاوه او د بازار سقوط ته مې چمتوالی نه درلود. کلونه کلونه مې د بازار په بد حالت کې پیسې ګټلې وې؛ خو دا ځل د هغه بوکسرغوندې وم، چې همېشه ګټونکی وي، مسابقه یې بابېزه بللې وي او د نه چمتو والي او نه تمرین له کبله یې د خپل قوي رقیب په وړاندې ماته خوړلې وي.

په ۱۹۹۰ کال کې زما ډېر ښه همکاران له منځه ولاړل، که څه هم زه ډېوالي نه سوم؛ خو په زرګونو سر دردیو باندې اخته سوم. سره د دې چې شرکت مې میلیارډونه ډالره پوروړی سو، زه هم د ۹۰۰ میلیونو ډالرو څخه زیات پوروړی سوم. یوه ورځ مې د هغه وخت له مېرمنې (مارلا) سره قدم واهه، چې یوفقیر مې ولیدئ، مارلا ته مې وویل: ددغه فقیر شتمنې ۹۰۰ میلیونه ډالره له ماڅخه زیاته ده. دا صحیح ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي خپل حواس مي راجمع نه سواى کړائ، مگر فکر مي کاوه، چي زه هم د تحصيل څخه ۲۱کاله وروسته حق لرم د خپل ژوند څخه خوند واخلم او نور سخت کار و نه کړم.

واقعيت دا راته و ښودل، چي دريمه لار وجود نه لري: که مي دا هيله لرلاى، چي ډونالډ ټرمپ و اوسيږم او هر څه ته لاس کړم سره زر سي، بايد زحمت مي کښلى واى او حواس مي راجمع کړي واى، نو پرېکړه مي وکړه، چي مخکي له مخکي مي حواس راجمع کړم. په ۱۹۹۱ کال کي نړۍ د ماتي په حالت کي وه ، حالت تردې حده بد سو، چي خلگو شيان نه رانيول بلکي يوازي يې کتل. ما به يوه او بل ته ويل، چي حتماً بازار بدلون مومي او په دې عنوان مي پرمېز ليکنه منبلولې وه، چي" فقط تر ۱۹۹۵ کال پوري مقاومت و کړه هرڅه کيداى سي سم سي"په کار مي پيل و کړ هره ورځ په بېړه کار ته تلم او بې له ځنډه مي کار کوئ. نن ورځ مي د کار اندازه څو برابره سوېده او د هغې ورځي څخه ښه سوى دى. يو چا راڅخه و پوښتل"دهغه لوړ پور په اړه دي فکرڅه ډول و؟" و رته و مي ويل، چي د فکر طرزمي تر نن ورځي ډېر قوي و، ځکه، چي هيڅ منفي فکر ته مي د ځان سره د پرېښودلو اجازه نه ورکول. پروژې مي پيل کړې او معاملې مي سر ته و رسولې. ترټولو ښه پېښه، چي زما له پاره وسوه، هغه دا وه، چي خپل ځان مي و پېژندى او پوه سوم، چي په ډېواليتوب سره له منځه نه ځم. ډېر ملگري مي د فشار څخه متاثره سول او له صحنې څخه ووتل، زه له نن څخه زر ځله مثبت وم او له نن څخه مي ډېر کار کاوه او پوه سولم، چي په بد حالت کي بايد مثبت فکر وسي، که څه هم يوازي يو مثبت چانس در ته پاته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منفي خلګو سره مخامخ سئ؛ خو مه پرېږدئ، چي نا راحته مو کړي. دا چي ما باور درلود بد حالت د همېشه له پاره نه پاته کيږي، په همدې اساس مي و کړائ سول د (قطار پن) تم ځای رانيسم. تر ټولو په بد وخت کي ما تر ټولو ښه رانيوني و کړې، کله، چي خلګو رانيول بس کړل ما پيل کړل.

معلومه خبره ده، چي په شپوشپو به په ارامه سره نه بيدېدم، ځکه، چي ما ډېواليتوب نه و اعلان کړی. غوښتل مي شرکت او کارکوونکي مي و ساتم او کار ته مي ادامه ورکړم. سره له دې، چي يوه شپه د يو فوق العاده سوداګر(ټرمپ) څخه په يو ناتوانه کس بدل سوی وم، پوهېدم، چي زه هغه شخص نه يم کوم چي په ورځپاڼو، مجلو او راډيوګاني يې يادوي؛ بلکي زه مخکينۍ سړی يم او هيڅکله ځان ته اجازه نه ورکوم چي واقعيت هېرکړم.

په حقيقت کي زه هم د نورو په ډول د بازار د سقوط په موجونو کي بند راغلی وم. مالياتي بدلونونو د املاکو جوړونکي په غوغا کړي وه؛ خو ما همېشه دا پياد لرل، چي د لويدلو بازارونو څخه پيسې لاسته راوړم او زړه مي نه غوښتل، چي پړه يې د دولت او بازار پرغاړه ور واچوم. ما خپل ځان کم ګڼئ ځکه، چي تمرکز مي له لاسه ورکړی و. کله، چي بيرته کار ته و ګرځيدم هيڅ کله مي هغسي سخت کار نه و کړی او دې کار کولو ته به تر هر وخته ادامه ورکوم او اوس هم د کار سره مينه لرم.

واده هم کېدای سي ستاسي د پرمختګ پر نظم تاثير و لري**؛** د بېلګي په ډول ( **Andre Agassi** ) د(**Mike Agassi** ) بوکسر زوی، چي پلار يې نومړی د هغه وخت څخه، چي **Racket** (دټينس دتوپ وهلو اله) په لاس کي و نيسي د ټينيس سره علاقمند کړ، اوهغه په ډېره قوي طرحه سره د ټينيس لوبه کي نړيوال شهرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړ. کله، چي (آندره) په بازي کولو و توانیدئ، هغه به پلار دورځي په ۵۰۰۰ پنځه زره توپ وهلو مجبور کاوه. په پنځه کلنی کي يې د ( جيمي کانرا) او (روز کوتانر) سره په تمرين کي شامل کړ. هغه په ۱۹۸٦ کال کي مسلکي سو او په ۱۹۸۷کي يې د ټينس اولين ( **Single**) لقب خپل کړ. اګاسي په ۱۹۸۷ کي نړيوال مقام لاسته راوړ او دا مقام يې د ۳۰ اونيو له پاره په مسلسل ډول و ساتی.

هغه په ۱۹۹۷ کال کي د (بروک شيلدز) سره واده و کړ. بروک ډېره د لوړ شخصيت لرونکې وه؛ خو د آندره ټينيس يې په خطر کي واچوی.

راډيو، ټلويزيون او خبريالان د واده له کبله د انډرا دغه غير متمرکزيت ته متوجه سول. د واده څخه وروسته يې يوازي څلورويشت لوبي ترسره کړې، سره له دې، چي هيڅ مقام يې لاسته را نه وړ، نړيوال مقام يې هم ۱۴۱ ته کښته سو. زه د هغه د يوې داسي لوبي کتونکی وم، چي ميرمن (بروک) يې هم هلته وه. څرنګه، چي انډرا بايلونکی و، بروک مخکي له دې، چي لوبه پای ته ورسيږي ولاړه، ما د ځان سره انګيرله، چي هغه به بيرته را وګرځي؛ خو هغه رانغله. وروسته مي واورېدل، چي بروک او آنډره يوله بله سره جوړ نه دي. بروک غوښتل، چي اولاد و لري؛ خو آنډره نه غوښتل او ويل به يې ټينيس يې ژوند دی**؛** هغه د بروک څخه جلا سو او يو ځل يې بيا د ټينيس په تمرين پيل و کړ، د يوه کال په موده کي يې ځان د ۱۴۱ مقام څخه ٦ مقام ته ورسوی. وروسته يې د (استفي ګرف) سره کوژده وکړه، چي د آنډره دټينيس سره موافقه او د هغه طرفداره وه. ډېر ژر يې د (فرنچ اين) جام ترلاسه کړ او د تاريخ له څلورو هغو کسانو څخه سو، چي (**Grand Slam**) جايزې يې وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. هغه د (استفي گوف) سره واده و کړ او بيا د نړۍ لومړی شخص سو، استفي د هغه له پاره مناسبه میرمن وه.

بله بېلگه زما مخکنی کارکونکې ( کارولین کپچر) ده. کله، چي کارولين تمرکز له لاسه ورکړ ما هغه و ایستل؛ خو هغه ډول نه لکه د اپرينټس په ننداره کي، چي مي ويل، چي" ته وتلې يې! ". حقيقت دا دئ، چي کارولين پر ما ډېره گرانه ده. هغې يوولس کاله زما سره کار و کړ او په نيويارک کي يې زما د گلف د مځکي مديريت يې په ډېره ښه توگه ترسره کاوه. خو کله، چي مي د اپرنټس په ننداره کي د هغې ځخه گټه اخيستل پيل کړه، په هغي کي د لوبېدني مينه او شهرت اوج ته ورسېدل. د هغې د کار مديريت د په خوا په څېر نه و، د هغې نندارې (شو) وروسته ډېرو له هغې څخه شکايت کاوه او ويل به يې، چي هغه دي مغروره کړل. ما ورته وويل "کومه خبره نه ده، دا د انسان په وينه کي اخښل سوې ده، چي شهرت خوښه وي." اما هغې نور د گلف په کلب کي د غړو د منلو سره علاقه نه لرل. هغه مشهوره سوې وه او همېشه به په نورو کارونو کي مصروفه وه او نور کلب ته ډېره نه راتلل. مخکي به چي مي زنگ ورته وهي او پوښتنه به مي ورځني کول:"د کلف توپونه څومره دي؟ لباسونه څنگه دي، د گلف لکړي؟... " هغه حتی په نرخونو هم پوهېدل؛ خو د دې نندارې(شو) وروسته مي هيڅکله هغه پيدا نه کړه، کله به، چي مي پيدا کړه، پوښتنه به مي ځيني کول" دټينيس توپونه څومره دي ؟" ويل به يې" او! ډانالډ! زه د دې لوبي وخت نه لرم بايد ولاړه سم." ما يې په بڼغ کي اورېدل، چي نور د گلف په ميدان کي د کار کولو علاقه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلب له پاره مي بايد يو ځوک پيدا کړی وای. فکرمي و کړ چي دا به ډېره عجبه وي، چي هغه د آپرنټس د ننداري پر مهال د کار ښخه و باسم؛ خو وروسته مي فکر و کړ، چي کېدای سي هغه مي و نه بخښي. د کارولين پر ځای مي بل ځوک مقرره کړل، چي ټول فکر يې د ګلف په ميدان کي و کارولين و وتل ځکه تمرکز يې له لاسه ورکړ.

که مو هدف بريالي کېدل او بريالي پاتي کېدل وي بايد تمرکز په ياد و لرئ. (ټيم آلن) مشهوره خندونکی (کوميډين)، چي نن ورځ ډېر بريالی دی. هغه ځو کاله مخکي بريالی نه و، حتی د نشه يې توکو د کاروني په تور زندان ته هم تللی دی؛ خو نن ورځ د تلويزيوني خپرونو شرکت لري. هغه وايي د تمرکز دلاسه نه ورکولو له پاره له درو ټکو ښخه ګټه اخلي. لومړی: هغه لومړني اهداف ټاکل، چي بايد په ژوند کي يې سرته ورسوم. دوهم: په روان کال کي هغه کارونه سرته رسول، چي ژوند اهدافو ته مي نيژدې کوي، او دريم: پر هغه څه تمرکز کول، چي د ژوند اهدافو ته مي رسوي. د دې سيستم ښه والی په نظم کي دی. اصلي ګټونکی هغه ځوک دی، چي د تمرکز له لاسه ورکولو پرته خپل د هدفونو پر لور حرکت و کړي.

( بابي فيشر) د شطرنج نړيوال اتل د شطرنج د بازي د ستراتيژي په اړه په مينه خبري کوي او وايي: " زه په بازي کي دروان شناسي ( اروا پوهني ) سره علاقه نه لرم، زه په شطرنج کي د نوي حرکتونو د پيداکولو سره مينه لرم "هغه خپله ۹۸٪ روحي انرژي د شطرنج پربازي مصرفوي، په دا سي حال کي، چي نور لوبغاړي د دې ۹۸ ٪ په وړاندي د ۲٪ ښخه کمه روحي انرژي کار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دا سي کسان پېژنم، چي ستونزو ته د لوبي په سترګه ګوري، چي بايد و يې ګټي. کله، چي ما د اپرنټس ننداره را پيل کړه، د ټلويزيون په اړه په هيڅ نه پوهېدم، حتی په دې هم نه، چي رتبه بندي څنګه کيږي. نه پوهيدم، چي څنګه يوه سوداګريزه ننداره ترتيب کړم. لازمه مي و بلل ، چي ټول حواس دې ته راجمع کړم، چي څنګه کولای سم تر ټولو يوه ښه ننداره ترتيب کړم. څرنګه، چي مي پرستونزو فکر و نه کړ، نو ځکه مي تمرکز هم له لاسه ور نه کړ. کله، چي يوه ستونزه رامنځته سي په هغه کي ځان مه بندوئ، د ستونزي شتون و منئ او د حل لاره يې پيدا کړئ. پاملرنه او تمرکز مو پرممکنو حل لارو ورټول کړئ، له هرڅه څخه مخکي د پېښي پر مثبتو ټکو غور و کړئ او وروسته ټول هغه فکرونه او حل لاري چي مو ذهن ته در ځي د ځان سره و ليکئ. فکر ته مو اجازه مه ورکوئ، چي د بېکاره حل لارو او فکرونو په لور حرکت و کړي، تر ټولو ښه حل لاره پيدا کړئ او ممکنه پايلي يې و سنجوئ. پرمثبت لوري ستاسو حرکت به مثبت جواب و لري. د ستونزو د حل په موخه د ټرمپ تګلاره هم دا ده.

پر دې فکر مه کوئ، چي ولي او څنګه دا پېښه و سوه او د دې کار حلول به څو نه سخت يا نا ممکن وي او که چيري دا ستونزه حل نه کړم څه به پېښ سي؟! فقط و منئ، چي ستونزه لرئ او همدا اوس يې د حل له پاره کار پيل کړئ. کله چي په دې باوري سئ، چي د ستونزي د حل صلاحيت لرئ نور نو د ستونزي د حل لارو پيداکول تعقيب کړئ. حل لاره و سنجوئ او د ستونزي د حل له پاره معلومات ترلاسه کړئ. که اړتيا وه په دې برخه کی د متخصصينو څخه نظر هم وغواړئ. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستونزي د حل فورمول پیداکړئ، او ویې ازمايئ، که یوې حل لاري کار و نه کړ بله حل لاره تعقیب کړئ.

ټوله پوهیږو، چې ډېرو ته د بریالیتوب استعداد طبعي ورکړل سوی دی او دا سي زېږېدلي دي، چې بریالي و اوسي. لکه هنرمندان، لوبغاړي او حتی داسي خلګ، چې سوداګریزه وړتیا یې نسبت نوروته لوړه وي؛ خو اکثره وخت موږ نسو کولای بریالیتوب په اسانه سره لاسته راوړو. بریالیتوب زیات کار ته اړتیا لري او بریالي خلګ دا کار په دې ډول ترسره کوي، چې خپل اهداف ټاکي، بریالیتوب ته د رسېدني لاري پېژني او پردې لاره قدم ږدي او د کار تمرکز هدف ته تر رسېدو پوري تعقیبوي.

تمرکزد نظم او انظباط د زده کړي عادتونه دي، زه په ماشومتوب کي بې نظمه وم، موراو پلار مي پرما کنټرول نه درلود او په همدې خاطر یې نظامی ښوونځی ته شامل کړم. ما هلته منظم اوسیدل زده کړل، د نظامي تعلیماتو څخه پرته به هیڅکله داسي نه وای منظم سوی لکه اوس چي یم.

تشویش، ېره او بې تصمیمه اوسیدل د تمرکز د ښمنان دي، د ژوند د مهارولو له پاره لومړی باید ېره له منځه یوسئ او زما نصیحت د منفي فکرونو له منځه وړل دي. که منفي ګرایې له ژوند څخه لیري کړئ بد مالي حالت، شکایات، ستونزی او نور د ښمنان به مو پر ژوند هیڅ کنټرول ونه لري.

کله، چي خلګ غواړي زما تمرکز و ازمایي را ته وایې" که د بازار حالت خراب سو بیا؟) یا " که بانکونو پور نه ورکوئ ؟" یا " یا که بانکونو پور بیرته غوښت " .... هغوئ ته وایم :" زه په دې مسائلو کي فکرنه کوم، هغه وخت فکر ورته کوم، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته واقع سي" تا سي په خپله ځانته په فکر کي دښمن پیدا کوئ. د منفي فکر" که داسي وسي نو څه به کوم ؟" پرځای پردې فکر وکړئ، چي څه غواړئ ترسره يې کړئ، مثبت فکر و کړئ او وړتیاوي مو لوړي کړئ. په ژوند کي مو پر اهدافو تمرکز و لرئ او خبر اوسئ، چي حتی منفي پېښي هم کیدای سي مثبت زیری د ځان سره و لري.

تمرکز په دې معنی نه دی، چي ستاسی فکر او پر یوې مسئله محدود کړئ او نور نو انعطاف یا بدلون له لاسه ورکړئ. زه په خپل سرسختی، اطمینان او مقاومت ویاړم. دا کارونه او ځانګړتیاوي د بریالیو خلګو دي؛ خو ځیني وخت ډېر سخت هم باید و نه اوسیږو. مهمه دا ده د هغه څه په اړه، چي غواړئ ترسره يې کړئ تمرکز له لاسه ور نه کړئ.

تمرکز له لاسه مه ورکاوه ځکه موږ نه سو کولای واقعات یا پېښي کنټرول کړو. جګړه، زلزله، سیل، تروریستي حملې او ډېوالي کېدل هغه ناخوښه پېښي دي، چي زموږ په کنټرول کي نه دي؛ خو مهمه دا ده، چي هره منفي پېښه مثبت شرایط د ځان سره لري او موږ باید د شرایطو په اړه د خبرتیا په لرلو سره خپل حرکتونه تنظیم کړو. لکه څنګه، چي ما تر ټولو ګټور معاملات د بازار په بدوشرایطو کي ترسره کړل. داسي انګېرنه وه، چي اپرنټس شو به ارومرو د **EMMY Aaward** (جایزه) ګټي، زه د (**EMMY**) ننداري ته ولاړم او ځان مي ګټونکی باله، چي حتی ویناوي می هم چمتوکړي وې. د ګډونوالو لخوا ویل کېدل که څه هم ددې پروګرام اول کال دی؛ خو د ټولو واقعي ننداررو ریکارډ به مات کړي او ټولو يې د بریالیتوب په اړه خبري کولې. زه کلفورنیا ته ولاړم او د **NBC** د تولیدوونکي سره د هرڅه په اړه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ږغېدم، کله، چي فهرست اعلان سو؛ د دې پرځای، چي لومړی پروګرام د آپرنټیس وټاکل سي؛ خو د **The Amazing Race** پروګرام د لومړي مقام لرونکي و ټاکل سو. که څه هم ټولو ګډونوالو ټکان و خوړ؛ خو ماله ټولو څخه زيات ټکان و خوړ او که رښتيا ووايم خجله هم سوم ځکه مخکي له دې، چي ګټونکی اعلان سي زه ودريدم او دې ته چمتو سوم ترڅو صحنې ته د وينا له پاره ولاړسم؛ خو په دغه وخت کي له نېکه مرغه د ( سوني) رئيس( هاوارډ استرينګر )، چي زما څخه څلور قطاره شاته ناست و راغلی او په غوږ کي يې راته وويل: " هارورډ يم! څه پسخند دي را ايستلی دی! " او بيرته ولاړ پرځای کښيناست.

زه متاثره وم؛ خو کله، چي متوجه سوم، د **Amazing Race** پروګرام ځکه ګټونکی سوی و، چي هغه د **(EMMY)** د جايزې په اړه يې معلومات درلودل او د انتخاب په سيستم پوهېدئ.

کله، چي مي په ۱۹۸۰ کي مشهور تعمير (ټرمپ ټاور) جوړ کړ، غوښتل مي (ټيفانی ټاورز) نوم ورباندي کښېږدم. دملګروڅخه مي يوه راته وويل:"ولي علاقه لرې، چي پر تعمير باندي ديو مشهوره جواهر پلورونکي نوم کښېږدې؟ زه دټرمپ نوم ته ترجيح ورکوم." نن ورځ د ټرمپ ټاور په نيويارک کي د سياحينو د خوښي وړ له ځايونو څخه دي. غوږ نيول او نظر بدلول مثبت کار دی.

څرنګه، چي ژوند د وړاندويني وړ نه دی، نو پرته له دې، چي خپلو موخو ته رشد ورکړو او بدلون و منو بله هيڅ چاره نسته. د نړۍ پرتغيراتو مو تمرکز متمرکزه کړئ او د بدلونونو څخه باخبره اوسئ. خپل ځان ته ډېر مه قائيل کېږئ، ځکه، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهداف ثابت نه دي نو د وخت سره سم عکس العمل ښودل کېدای سي ستاسي وړتیا په ښه توګه مطرح کړي.

**د اتم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

هیڅکله مو تمرکز له لاسه مه ورکوئ او هیڅکله مو د کار تناب مه ایله کوئ. په ۱۹۸۵ کي (**USA Today**) ورځپاڼي د نیویارک او نیوجرسي پرلارو او کوڅو کي د **Kiosk**(کوچنی ماشین یا غرفه، چیري، چي چاکلیټ ، اخبار، څنباک ...خرڅیږي )ماشین په نصبولو سره پیل و کړ خلګو **Kiosk** ته د سیکو په ور اچولو سره وکولای سوای په اسانی سره ورځپاڼه رانیسي. دا چي د دې کار له پاره قانون موجود نه و، د نیویارک ښاروال ښاغلي (کخ) د ورځپاڼي خاوند ګانت ته خبر ورکړ ترڅو **Kiosks** را ټول کړي. ښاغلي ګانت دا کار و نه کړ او د ښاروالۍ د دې اقدام پر وړاندي يې شکایت و کړ. محکمې رایه ورکړه، چي کیوسکونه باید راټول نه سي، او ښاغلي ګانت و کولای سول ښاروالۍ ته د یوه ډالر په ورکولو سره د نیویارک په بیلابیلو ځایونو کي نصب کړي.

کله، چي د دې موضوع څخه خبرسوم ماهم د نیویارک په ګوټ، ګوټ کي کیوسکونه (**Kiosks**) کنبیښودل او د لرنینګ انکس کتلاکونه مي پکښي کښېښودل. ښاروالی ماته لیک واستوئ، چي د دې غرفو د ایښودلو اجازه نه لرم، ما پوښتنه ځني و کړل، چي ولي د (**USA Today**) ورځپاڼي خپلي غرفې نه کړې ټولي؟ او خپل کار ته مي ادامه ورکړه. نن ورځ د لرنینګ انکس کیوسکونه (**Kiosks**) دلاس انجلس، سانفرانسیسکو، مینیا پولیس او د امریکا په ډېرو لویو ښارونو کي شتون لري. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کار ته ادامه ورکړه او د دې کار څخه مې ډېره ګټه ترلاسه کړه، اوس ۳۰ میاشتې مخکې پروګرامونه پلان کوم، چې په هغه کې ټلویزیوني پروګرام هم شامل وي.

ټوله فکر کوي، چې ۱۰۰ میلیونه ډالره خرځلاو سرته رسول یوه لوی ارګان یاسیستم ته اړتیالري؛ خو دا چې زه مې خپله ګټه د کارکوونکو سره شریکوم نو ځکه لوی شرکت هم نه لرم. په حقیقت کې زما شرکت دهغه ورځې په اندازه دی، چې لس میلیونه خرځلاو یې درلود. هغه ترانه، چې همېشه یې زه پرشونډو زم زمه کوم دا ده، چې " کله چې فکر کوې، چې کار مې ډېربند(خراب) دی؛ کاردي ختم دی" په همدې خاطر زه هیڅکله فکرنه کوم، چې کارمې ډېر بند(خراب) دی او کارکولو ته ادامه ورکوم.

**د اتم څپرکي لنډیز**

که غواړې بریالي سئ او بریالي پاته سئ تمرکز مو له لاسه مه ورکوئ، بریالي کېدل سخت کار دی او په زرګونو موانع په لار کې شتون لري. د دې پرځای، چې حواس مو منفي مواردو ته متوجه کړئ، د ټولوهغو موخو او ښو کارونو په اړه فکر و کړئ کوم، چې غواړئ په ژوند کې یې باید سرته یې ورسوئ. خپل پرکار مو تمرکز و کړئ او هیڅکله یې نیمګړی مه پرېږدئ. استراحت حتی د بریالیتوب په وخت کې هم نه دی جایز، همېشه د اولي ورځې په ډول باید کار و کړئ. مه پرېږدئ، چې بریالیتوب مو حواس د کار کولو څخه واړوي که داسي و کړئ مطمئین اوسئ چې په دې کارسره د ماتي له پاره په خپله باغچه کې تخم شیندئ. نو په همدې اساس په کار کولو کې هیڅکله تمرکز له لاسه مه ورکوئ که څه هم هر څومره بریالي یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا واقيعت، چي ډېر کسان(موسيقي ږغوونکی، غزل چيان، سوداگر...) په ځان کی د برياليتوب وړتيا لري؛ خو ډېر خلگ برياليتوب د سخت کار کولو په نتيجه کي لاسته راوړي.

موږ ټوله په ځان کي د دې وړتيالرو، چي ځان برياليتوب ته ورسوو؛ خو برياليتوب ته د رسيدلو له پاره بايد سخت کار و کړو کله چي برياليتوب ته ورسيدو سخت کارکولو ته نور هم ادامه ورکړو ترڅو هغه له لاسه ور نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

## د ستونزو اټکل و کړئ او د واده څخه مخکې تړون لاسلیک کړئ

د واده څخه مخکې مو همېشه د ژوند د ملګري سره تړون لاسلیک کړئ، داسې چې شتمني مو په کښې مشخصه سوې وي. ما دا سې ودونه لیدلي دي، چې کاروبارونه او ژوندونونه یې خراب کړي دي. که ما خپله هم د واده څخه مخکې د لمړۍ ښځې (ایوانا) او دوهمې ښځې (مارلا) سره تړون نه لرلای، اوس به مې هیڅ شتمني نه وای پاته.

زه د خپلو مخکینیو مېرمنو سره ښې اړیکې لرم، چې دا زما د اولادونو له پاره اړینه دی. ایوانا او مارلا دواړې لایقې مېرمنې دي او زه هغوئ نه ملامتوم، د دواړو سره د واده د تړون ماتولو کې زه ځان ملامت بولم. دا پېښې هم زما د نیمګړتیا له امله وې، ځکه په کار او واده دواړو کې بریالی پاته کېدل سخته ده.

سخت کارکول ډېر وخت د مېرمنې سره په کورنیو اړیکو کې ستونزې پېښوي؛ خو ما هر وخت کار ته ترمېرمنې ترجیح ورکړېده. سهار وختې کارته ځم او د شپې ناوخته راځم، پر کار مین یم او د میرمنو سره مې په کافې اندازه نه وینم. هغوئ ربښتیا وایې، چې زما تمرکز پر کار دی نه پر واده.

د واده پرمهال خلګ مینان وي او هیڅوک د واده پر مهال د طلاق په اړه فکر نه کوي. پرېښږدئ، چې مینه مو د ولور یا نکاح پر مهال تر تاثیر لاندې راولي. په امریکا کې ۵۸٪ ودونه په طلاق سره پای ته رسیږي، نو تاسو نه سئ کولای، چې له تړون څخه پرته واده سره د خپلې شتمنې څخه ساتنه وکړئ. مینه د مین سترګې ړندې کوي: دواړه لوري دا فکر کوي، چې موږ به هیڅ کله یو له بله سره طلاق وا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه خلو او ډېرکسان بیا وايي دا د میني له اړخه ښه کار نه  دی، چي د واده پرمهال د تړون لاسلیکولو هڅه و کړل سي؛ خو دا یو واقیعت  دی، چي طلاق واقع کیږي او پرته له تړون څخه مقابل لوری، چي هیڅ کاريې نه وي کړی میلینونه ډالره لاسته راوړي. محکمه د داسی دوسیو څخه ډکه ده، چي میرمن او خاوند له تړون څخه پرته لوی دعوو ته رسېدلي وي. د بېلګي په ډول لکه میرمن (پال مکارتني)، چي د طلاق پر مهال يې د خپل خاوند څخه ۴۰۰ میلیونه ډالره لاسته راوړه.

کلونه کیږي، چي زه د دې تړونونو په اړه خبري کوم سره له دې، چي په هرو لسو ودونو کي ۹ ودونه پرته له تړون څخه سرته رسیږي. کله، چي د هغوئ څخه پوښتنه وسي، چي ولي؟ دوی په جواب کي وايي" زه د طلاق پلان نه لرم". څونه احماقانه! دا سي یو څوک سته، چي دواده پرمهال د طلاق پلان ولري؟

کله، چي مي د ملانیا سره واده کاوه، هغې ته مي ویل: "زه ستا سره مینه لرم او غواړم ستاسره واده وکړم. باور لرم، چي زموږ ژوند به بې ساري وي؛ خو که یوه ستونزه رامنځته سي د هغه له پاره باید چمتو والی ولرو. زه په دې ښه پوهیږم، چي دا خبره مینه ناکه نه ده؛ خود دې له پاره، چي ښه ژوند ولرو ایا حاضره يې، چي د واده پرمهال د طلاق تړون لاسلیک کړې ؟"

**د نهم څپرکي څخه د زنګر اخیستنه**

ما د ډېرو خلګو سره فقط د لاس په ورکولو سره معامله سرته رسولي ده. ډېر وختونه په یوکار کي موافقه تر تړون کولو اسانه ده. زیات وخت کله، چي د ملګرو سره توافق ته رسیږم، د هغوئ سره د بریښنالیک له لاري توافق کوم؛ چي دې ته کمپیوټري لاس لیک ویل کیږي. دا تړون څکه ښه تړون دی، چي دا مي نه هېریږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ترون مي د چا سره کړئ دی. په ورځ پاڼه کي مي ولوستل، چي یو بانک **Ski Ville** ( دسکي دبازي ځای) ځایونه په ډېر کم قیمت خرڅوي، کله، چي ماښام د ملګري لیدني ته ولاړم، هغه مي د دې خبر په اړه خبر کړ او ورته و مي ویل، چي سبا غواړم هلته ولاړسم او یو **Ville** رانیسم. ملګري مي په هغه لحظه کي خپل چک راوړی او ویې ویل: "ډېر ښه دی ، یو هم زما له پاره رانیسه " ورته ومي ویل: " سهي؛ خو دا چي ټول کار زه سرته رسوم زما سره باید قول و کړې، په کومه ورځ، چي د خپل **Ville**د خرڅلاو پرېکړه وکړې پرما به یې خرڅوې) "هغه راسره هوکړه وکړه او دوه **Villie** مي په ښه قیمت رانیول. یوه ورځ مي وغوښتل د یوې ډلې دوستانو سره مي سکي کولو ته ولاړ سم، دا چي ډله غټه وه نوملګري ته مي زنګ ووهی او ورته و مي ویل: کولای سم د یو وخت له پاره ستا د **Ville** څخه ګټه واخلم؟ هغه وویل: " د سکي ویلای یادوې؟ ما هغه یو څه وخت مخکي په ډېر لوړ قیمت خرڅ کړ"څه مي و نه ویل؛ خو له ځان سره مي فکر وکړ لږ تر لږه مي باید ملګري ته یو کمپیوټري لاس ورکړی وای.

### د نهم څپرکي لنډیز

ډېر کسان، چي کله واده کوي، فکر کوي، چي واده یې د همېشه له پاره دی، دا خلګ هیڅکله کور بې اسنادو او تضمین خط څخه نه رانیسي؛ خو د واده په برخه کي یې مینه ژنده وي. سره له دې، چي په امریکا کي۵۸ ٪ ودونه په طلاق سره پای ته رسیږي؛ خو بیا هم د واده پر مهال څوک د طلاق په اړه فکرنه کوي. ترټولو ښه خبره دا ده، چي همېشه د واده پرمهال د طلاق په اړه فکر و سي او ترون وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري، که خدایؐ مه کړه خبره بد حالت ته ورسیږي نو څوک به د واده څخه نه متضرر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

## لوی فکر و کړه او چمتو اوسه

په کار کي همېشـــه لوی فکر کوئ، لوی فکر کول داسي قوه ده، چي د لویو بریالیتوبونو تضمین کوي. لوی فکر لرونکي خلګ په ژوندکي د لویو لاسته راوړنو، ټکنالوچي، طب، علومو، صنعت، سوداګری او فوځونو په برخه کي د لویو تغیراتو سـبب سـوی دی. لوی فکر کول حتی د لویو خوښـیو او لیوالتیاوو سـبب هم ګرځېدلی دی. که مو کار ته پوره پاملرنه و کړئ کېدای سي خپل هدف ته ورسیږئ. ځیني د پرمختګ وړتیالري او قهرمانان پیداسوي وي؛ خو ځینو نورو بیا په خپله د ځانونو څخه قهرمانان جوړکړیدي. مایکل جردن، درک جســتر، ټام بریدي او نورو بریالیو خلګو خپل ځان ته د بریالي کېدلو تعلیم ورکړئ دی، خپلي سـترګي په لویو لاسـته راوړونو کي ښـخوي، لوی فکر کوي او لویي موخي لري، اکثره وخت لوی معاملات د کوچنیو معاملاتو غوندي ډېر وخت نه نیسي ـــ ځکه، چي دا ډول معاملات د لویو خلګو په مرســته صــورت نیسي ـــ او لوی معاملات د کوچنیو غوندي د جزیاتو پاملرني ته اړتیا نه لري. بانکونه هم لویو معاملاتو کولو ته ترجیح ورکوي او غواړي لوی پورونه ورکړي، ترڅو په لویو پروژو کي بریالي سي، ډېري پیســـې هم لاســـته راوړي. ګمان مه کوئ، چي لوی فکر کول دي په شـتمنو، هوښـیارانو او تحصـیل لرونکو خلګو پوري خاص وي، تر ټولومهم عامل سـتاســو فکر دی، هرڅومره، چي لوی فکر کوئ هغومره بریالی کېږئ. لوی فکر کول لومړی عامل دی، چي تاســو له نورو څخه بېلوي ځکه، چي ســتاســو د بریالیتوب جوړونکی دی او نورمســـائل په دوهم مقام کي قرار لري. له نن څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی فکر کول او د ځان له پاره د لويو موخو ټاکل راپيل کړئ، او خپل ځان د يو داسي چا ترلاربښـــووني لاندي ونيســـئ، چي دهمدغه لويي موخي دجوړولو وړتيا ولري.

ما اول پرېکړه وکړه، چي يو لوی ودانۍ( تعمير) جوړونکی و اوســـم، بيا مي پر يو داسي شخصيت جوړولو پيسې ولګولې، چي غوښتل يې لوی کارونه ترسره کړي. د وارتېن پوهنتون ته ولاړم او د لويو حســـابونو په برخه کي مي هرڅه زده کړل. پنځه کاله مخکي مي د پلار څخه په کم وخت او کم لګښت د تعميرجوړولو هنر زده کړ. د لويو تړونونو د سرته رســـولو احســـاس مي و کړ. منهټن ته ولاړم او خپل شرکت مي تاســـيس کړ. ما لو يي موخي درلودې او دا سي يوکس ســـوم، چي لوی کارونه سرته ورسوم.

### په آرامي سره کار وکړئ او د لويانو غوندي شخصيت خپل کړئ

د لويو خلګو کړه وړه زده کړئ، اوهغه عملي کړئ او د ژوند ټولي چاري مو د هغه په رڼا کي سرته ورسوئ. زه همېشه ځان ښايسته ګڼم، ميرمن مي د نړۍ ترټولو ښايسته ښځه بولم، او زه غواړم د هغې خاوند و اوسيږم. د مخکني واده څخه مي ډېر څه زده کړه او پريکړه مي کړېده، چي د ملانيا سره مي واده په برياليتوب سرته ورسوم.

ښځي برياڵي نارينه خوښوي، چي دا د برياليتوب له پاره يو بل دليل دی. دا دليل کېدای سي مخکي يا وروسته وي؛ خو حقيقت لري. ښځي داسي دي، چي د هغوئ له پاره ښايست ځانګړی اهميت لري؛ خو يوازي ښايست نه سي کولای تاسو يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای ته ورسوي، بلکي د ښایست ترځنګ نرمښت، پر لار د تګ ډول، خبري کول او پرځان باندي باور لرل مو کېدای سي هرځای ته ورسوي.

د خپل کردار او لوړ فکر ځخه مو هر ځای ګټه واخلئ: په کار، تفریح، تحصیل، د شرکت په جوړولواو بریالي کولو کي به مو لوی فکر کول هر هغه ځای ته، چي تاسي غواړی ورسوي. هر هغه کار، چي بریالتوب ته اړتیا ولري سرته یې ورسوئ. تاسي هغه څوک یاست، چي فکر یې کوئ؛ ډېر خلګ د ځان په اړه کوچنی فکر کوي اوپه خپله وړتیا باندي نه پوهېږي، نورکسان ترځان هوښیار، ښه فکر لرونکي، ښه خبري کوونکي، با خبره او لوی ګڼي. دا ډول فکرمو برعکس کړئ؛ دایو واقیعت دی، چي تاسو تر ټولو هوښیار، جذاب، ښه فکر لرونکي، ښه وینا کوونکي، با خبره او ترټولو ښه یاست. ستاسي سلوک ستاسي دشخصیت تر ټولو ښه څرګندوی دی او همدا سلوک به مو نور هم مخته بوزي.

ټوله علاقمندان ( **Gorge Cloony** ) یو جذابه هنرمند بولی او د هغه د جذابیت په اړه خبري کوي.په نژدې وختونوکي مي په فلوریډا کي مي له هغه سره وکتل او ومي لیدل چي هغه یومهربانه شخص دی؛ خو د جذابیت په اړه یې زما فکر د نورو خلګو د فکرڅخه ډېر جلا دی. لکه ښنګه، چي په فلمونو کی هغه چهارشانه، لوړ قده، او خوش قیافه معلومیږی؛ همداسي ډېر خلګ په سترګو کی ښایسته معلومیږي؛ خو زما په اند ستاسو سلوک کیدای سي تاسو ډېرښایسته کړي. ځیني خلګ شکایت کوي، چي " ژوند یې حوصله ختمه کړېده" خو زما ژوند ډېر حیرانوونکی دی، تاسي هم کولای سي خپل ژوند حیرانوونکی کړئ ځکه تاسي هغه یاست چي فکر یې کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسي سلوک او کردار ستاسي دشخصيت ويانديويي کوي او هغه څه، چي دخپل ځان په اړه يې فکر کوئ تاسي ته ارزښت درکوي. خپل ځان ته په لوړ ارزښت قايل سئ، سمه لار تعقيب کړئ او دهغه چا غوندي مخته ولاړ سئ، چي پوهيږي. زه خپل ځان خپله ترجمه کوم او ځان ته لوی ارزښت ورکوم.

د دې پرځای، چي ځان د خرڅلاو مدير معرفي کړئ، خپل ځان د شرکت د مشر مرستيال معرفي کړي. د تعمير د جوړونکي (بنا) پرځای خپل ځان ماسټر/انجنير معرفي کړئ. د خرڅوونکي پرځای ځان د خرڅلاو د مدير معاون معرفي کړئ.

د پرېکنده، مؤثر او متعهد شخصيت لرونکي واوسيږئ او پرځان باندي د باور لرونکو غوندي سلوک و کړئ. تاسي ګټونکي ياست او پرګټلو مو باور ولرئ، ستاسو کردار ستاسو تر فکر مهم او ستاسو تر شتمني، پيسو او وظيفې لوی دی.

لوی فکر کوونکي همېشه د لويو مسائلو په اړه فکر کوي او لوی فکر کول د مثبت فکرکولو څخه سر چينه اخلي. مثبت فکر کول خپل د ځان عادت و ګرځوئ: هره ورځ، چي له خوبه را ويښيږئ فکر و کړئ، چي نن ورځ زموږ له پاره موقع ده. د جمعې ورځ زما د خوښۍ ورځ ده، شنبه د تحرک ورځ ده، يکشنبه د الله[ج] د رحم ورځ ده، دوشنبه زما له پاره د فرصت ورځ ده، د اونۍ ترټولو ښه ورځ سه شنبه ده، چهارشنبه د نېکبختۍ ورځ ده او پنج شنبه ټوله نيکمرغي ده. داسي و بولئ، چي نن ورځ کېدای سي زه ډېر فرصتونه ترلاسه کړم او سترګي مو د دې فرصتونو پيدا کولو پرلور کړې کړئ. منفي ګرايه خلګ په منفي شرايطو پسي ګرځي، ترڅو دا ثابته کړي، چي نن خونه بده ورځ ده. انتخاب په تاسو پوري اړه لري؛ خو بايد مثبت فکر انتخاب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## همېشه لومړی درجه ژوند و کړئ

همېشه د انګېزې ډکه شخصیت و لرئ؛ ستاسي بوټونه، جانکټ او پتلون، یخنکاک، نېکټایي، لاسي ساعت، ګېنې نورو خلګو ته دا ښیي، چي تاسي د ژوند کولو په معنی ډېرښه پوهیږئ.

هڅه وکړی با ارزښته څه رانیسئ، تر ټولو ښه رستورانټونو ته ولاړ سئ او تر ټولو ښه پلورنځیو ته ولاړسئ، ځکه، چي زه په دې پوه سوی یم، چي د ښار په ښه سیمه کي د کوچني ملک(کور، مځکه ....) رانیول، په ټیټ ارزښت لرونکو سیموکي تر لوی ملک رانیولو ښه دی.

کله، چي مي په ۲۰۰۵ کي د ملانیا سره واده کوئ ټولو ویل: "ډانالډ! تېر واده دي په مجللو مراسمو سره ترسره کړئ دی، داخل یو کوچني خصوصي مراسم جوړ کړه" سره له دې، چي په کار کي مي ډېري ستونزي هم لرلې، د فکر کولو وروسته دې نتیجې ته ورسیدم، چي ژوند یوازي کار نه دی. باید ژوند وسي او زه د ژوند کولو لوی استاد یم. ما ورته وویل: چي د ښادي او جشن کولو له پاره دا یو فرصت دی، نو لوی جشن جوړوم. نن زما او د ملانیا له پاره مهمه ورځ ده او غواړم، چي په دغه ورځ د دوستانو سره جشن ولمانځم.

## شکونه له منځه یوسئ

لوی فکر کوونکي شک نه کوي ځکه چي شک په ماتي سره پای ته رسیږي. هیڅوک په پوره ډول د کار د پایلي په اړه نه پوهیږي. که شکمن یاست، باید خپل پرځان باور پیدا کړئ او داسي و انګېرئ، چي سل په سلو کي بریالي کېږئ. د ځان په اړه د نورو د ماتي انګېرني مه منئ، ځکه څوک، چي د ماتي په اړه فکر کوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتي خوړونکو څخه دي. کله، چي د شک احساس کوئ، پرځان مو د باور ترلاسه کولو هڅه وکړئ او د معلوماتو په لاسته راوړلو سره خطر واخلئ.

که تاسي باور لرئ، چي د کار وړتیا لرئ حتماً کولای سئ هغه سرته ورسوئ. هرچاته دا احساس ورکړئ، چي مهم یاست او خبری مو ارزښت لري. نور خلگ په یو وار کتوسره تاسو تشخیص کوي، چي ایا ځان ته په اهمیت ورکولو قائل یاست که نه؟ که خپل ځان ته په اهمیت ورکولو قائیل و اوسئ، نور هم تاسو ته احترام کوي. لوی او وحشي زمریان، د خپل روزونکي څخه ځکه بېرېږي، چي هغوئ پوهېږي، چي دا کوچني انسانان د لوی زمریانو سره څه ډول سلوک کوي.

داسي شخصیت جوړکړئ، چي نور پوه سي، چي تاسو خپل د ځان په اړه پوهېږئ، چي څوک یاست او په داسي ډول وږغېږئ، چي نور خلگ مو خبرو اورېدلو ته پام وکړي. هڅه و کړئ، چي داسي پرېکړه و کړئ، چي نور خلگ مو پریکړي ته په ارزښت ورکولو قائل سي. دنورو په خبرو( نظریاتو) پسي مه ځئ، ځکه، چي دا د ضعف ټکی دی؛ ډېر خلگ کینه ناکه وي، د خطر احساس لري او یا هڅه کوي ستاسي فکرونه گډوډ کړي. ډېرخلگ د مشرانو د فشار وروسته ډېرژر پرشا کیږي، ځای پرېږدي او د هرڅه سره ځان عیاروي. ژرمه قانع کېږئ او په اسانۍ سره مخ مه اړوئ.

باور تاسوته قدرت دربخښي، پر اړتیاوو مو برلاسي کوي او د موخو د لاسته راوړلو له پاره انرژي درکوي. که په شک کي د خلگو سره معامله کوئ حتماً به ماته خورئ، که بریالي هم سئ دا به یو تصادف وي. زه نه وایم، چي بې له شکه او بې له انگېزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار و کړئ، زه وایم خپل په ارزښت پوه سئ او خپلي وړتیاوي مو و پېژنئ او د هغه سره سم کار وکړئ.

په یاد مي دي، چي (محمد علي ) به همېشه د مسابقې څخه مخکی خپل حریف ته دا احساس ورکوئ چي تر هغه ښه دی. په زوره به یې ویل، چي" زه ترټولو ښه یم او د نړۍ ترټولو لوی سوک وهونکی یم" سره له دې، چي ډېر رقیبان به یې تر ده ځوانان، تېز او چابک هم وه؛ خو بیا به هم محمد علي ګټونکی و. جورج فورنر د محمد علي سره د مسابقې کولو مخکې بې مثاله و. دومره تېز و، چي لیدل یې اسانه نه وه. ترهغه مهاله، چي د محمد علي سره په سیالي کي نه و مخ سوی، ترټلو سرسخته سوک وهونکی پیژندل کیدئ. برعکس محمدعلي یو داسي هوښیار سړی و، چي جورفورمن، فیزر او ساني لیسټون ته یې ماتي ورکړې وه. علي د فورمن د سیالیو فلمونه کتلي وه او یوازي پوهېدئ، چي ترنن ورځي پوري یې ماتي نه ده خوړلې. نوموړي حتی خپل ښوونکي ته هم نه وه ویلي چي د فورمن سره یې د لوبې کولو ستراتیژي څه ډول ده؟ جورج فورمن په یوه فلم کی د دریو بوکسرانو سره په پرلپسې ډول لوبه کړې وه، په اوله لوبه کي یې خپل حریف ډېرژر **Knock Out**(مات) کړی و او سیالي یې ګټلې وه، پردوهمه بازي یې ډېر وخت مصرف کړی و؛ خو بیا هم یې د حریف څخه سیالي د هغه په ناک اوټ (ماته) سره ګټلې وه؛ خو دریمه سیالي یې په امتیاز او سختی سره ګټلې وه. علي فلم و کتی او د فورمن کمزوري یې پیدا کړه، چي هغه ستړی کیږي. په لومړیو پنځو راونډونو(دورو) کي علي سوک ونه واهه، فقط د رینګ پر تناب یې تکیه کوله او فورمن ته یې موقع ورکړې وه، چي پر بدن یې په سوکانو و وهي. ښوونکي د علي سره جنجال و کړ:"

(c) ketabton.com: The Digital Library

قهرمانه، نوربسته ،مه يې پرېږده سوک و واهه“ علي ورته وويل:” ليونی سوی يې !؟ زه ترټولو ښه يم “ښوونکی يې نه پوهېدی، چې د علي هدف څه دی؛ خو د شپږم راونډ وروسته يې فورمن تر سوکانو لاندي ونيوی. فورمن ختم سوی و، اوهيڅ انرژي نه وه پکښي پاته. علي په اتم راونډ کي فورمن ناک اوټ کړ. محمد علي ډېري خبري کولې؛ خو په خپلو خبرو يې عمل کاوه. زه نه وايم، چې يوازي خبري وکړئ، بلکي په خبرو مو عمل هم و کړئ.

## خبري کول عادت و گرځوئ

وېره معمولاً انسانان دې ته اړباسي، چې د زړه خبري را و نه باسي؛ خو تاسو هڅه وکړئ، چې د لوی فکر لرونکو خلگو غوندي خبري وکړئ. په کاري غونډو کي مو خبري کول عادت و گرځوئ. د خبرو په وخت کي داسي و ښياست، چې مهمي خبري لرئ. کله، چې د اول ځل له پاره د چاسره مخامخ کيږي داسي و انگېرئ، چې ستاسي د هغه نوم او د هغه ستاسو نوم زده دی.

ښه ملگري و ټاکئ او د داسي کسانو سره راسه درسه و لرئ څوک، چې ستاسو بريالیتوب غواړي او ستاسي د بريالیتوب څخه خوند اخلي. منفي ملگري مو ليري کړئ، ځکه چې انرژي مو در ختموي. هغوئ ستاسو نظريات نه اوري او ستاسو په اړه نه پوهيږي. د هغه کسانو سره ژوند وکړئ، چې ستاسي اهداف پېژني او د دغه اهدافو د لاسته راوړلو په برخه کي ستاسو هڅو ته درناوي کوي.

د نيويارک روغتون رئيس جان مک ډېر د عاطفي څخه يو ډک انسان دی او زما د دوستانو څخه دی. هغه زه يوه شپه د ماخستن ډوډی ته دعوت کړم او د خپل روغتون په اړه يې نقشي راته واضح کړې. د روغتون او د هغه د کارونو په اړه هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهېدم. هغه په ښایسته تشریحاتو زما ځخه و پوښتل. ایا زړه دي غواړي، چي د دې روغتون په خیریه کارونو کي داخل سې، ایا حاضر یې، چي د۲۵-۳۰ میلیونو ډالرو په شاوخوا کي د دې روغتون سره کمک و کړې؟. جان مک ته مي وویل: چي د دې روغتون له پاره لوی فکر لرې او پوهېدم، چي د هغه لوی فکر د هغه د بریالیتوب راز دی.

ډېر وخت وروسته مي (جان ) ولید او په خجالت سره مي هغه ته د یو میلیون ډالرو چیک ورکړ، هغه په خوشحالي سره قبول کړ، مگر ما هغه مهال بد احساس کاوه ځکه فقط یو میلیون ډالر مي هغه ته ورکړه او احساس مي کاوه، چي زما غوندي شخص باید د یومیلیون ځخه اضافه د(جان) د کارونو له پاره ورکړې. هغه یو لوی شخصیت دی او لوی کارونه سرته رسوي او (جان ) د دې کتاب د لوستونکو له پاره یو لوی شخصیت دی.

## لوړي موخي پرځان باندي لوړ باور ته اړتیا لري

لوی فکرونه مو په لویو موخو بدل کړئ او مه پرېږدئ، چي دا ډول بهانې( زه هوښیارنه یم، کافی تجربه نه لرم، ډېرځوان یم، ډېر سپین ږری یم، زه یوه ښځه یم، شتمن نه یم، چاغ یم، ډنگر یم، په سپورټ مصروف وم، درس مي نه دی ویلی او....) مو د لاري خنډ و گرځي.

بهانې د بېري نښي دي، لستونی راپورته کړئ اوهغه کار تر سره کړئ، چي له سرته رسولو ځخه یې بېره لرئ. ترځو بېره مو ختمه سي. هیڅوک پر ځان باندي باور لرونکی نه دی پیداسوی، ټولو پرځان باندي باور په هځه لاسته راوړی دی. د دې له پاره، چي پر ځان باوري سئ حرکت خپل عادت و گرځوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه ستونزو په حل لارو پسي مه گرځئ کومي، چي تر اوسه نه وي واقع سوي، ځکه، چي دا کار د اوبو څخه مخکي د څپليو کښل دي. ترهغه، چي مو کار نه وي پيل کړئ نه پوهيږئ، چي ستونزه څه ده، په کار پيل و کړئ اوستونزي مو يوازي هغه وخت حل کړئ، چي درته واقع کيږی.

سرته رسوونکي اوسئ نه فکروهونکي. د کوچنيو کارونو په سرته رسولو سره پيل و کړئ او دا کار په ترتيب سره لوی کړئ، د هغه د سرته رسولو سره ځان عادت کړئ او پرځان مو باور ډېر کړئ. لوبغاړي په همدې ډول بريالیتوب ته رسيږي، هره ورځ لږ لږ مخته ځي او د لوړ هدف پر لور گام اخلي.

هرکله، چي نوی کار را پيلوئ، همېشه دا سي فکر و کړئ، چي کولای سئ پای ته يې ورسوئ. د سرته رسېدلو وړ کارونو سرته رسول ستاسو د فکر په طرز پوري اړه لري، چي څومره کولای سئ سرته يې ورسوئ؟ څومره چي فکر  وي تاسوهغومره کولای سئ! ځيني کسان داسي عادت لري، چي يوازي د مجبوريت په وخت کي ډېر کار کوي. هڅه و کړئ، چي ډېر کار ته چمتو واوسئ. ټوله کارونه په سمه توگه په چټک ډول او په لوړ شهامت تر سره کړئ.

له ځان سره د لوی کارترسره کولو تعهد وکړئ او د هغه د سرته رسولو له پاره لار پيدا کړئ. يوازي قول مه کوئ، چي يوه ورځ به لوی کار تر سره کوئ، بلکي يوقانوني تړون وکړئ، ترڅو انرژي پيدا کړئ او بې ساري حرکت پيل کړئ.

د ماغ مو د لوی کار سرته رسولو سره عادت کړئ او دماغ مو بايد د داسي کارونو قبلوني ته چمتو والی و لري. که مو دماغ چمتو والی و نه لري پرمختگ به و نه سئ کړای. فکر و کړئ، چي يو داسي کار پيلوئ، چي عايد مو د۱۰۰ ډالره څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۰۰۰ ډالره ته رسوي. ډېر خلګ نه سي کولای په یو وار خپل فکر د۱۰۰ ډالره څخه د۱۰۰۰۰ ډالرو سره عادت کړي. باید قدمونه مو کوچنی کړئ، ۱۰۰ډالره څخه ۵۰۰ ډالروته، د۵۰۰ څخه ۱۰۰۰ته، د۱۰۰۰ څخه ۲.... ۱۰۰۰۰ ډالرو پوري. د هغه ځای څخه په کوم کي، چي قرار لرئ تر هغه ځای پوري، چي غواړئ ورسیږئ پلونه جوړ او اماده کړئ. په دې لاره کي یو ملګري او یو ښوونکي ته اړتیا لرئ ترڅو په اسانۍ سره مو هغه ځای ته ورسوي. په هره برخه او رشته کي ښوونکي پیدا کړئ ترڅو لار در ته و ښوي. زه هر وخت د خپلو ښوونکو مشورې په اسانۍ سره منم. دا سي ښوونکي پیداکړئ، چي د ښو مشورو په درکولو سره مو لویو هدفونو ته د رسېدو له پاره لار هواره کړي. پر ځان باندي د هغوئ د باور لرلو څخه به تاسي پرځان باورکول زده کړئ.

## د نفوذ د قدرت څخه مو د عوایدو په لوړولو کي ګټه واخلئ

لوی فکر کول دا سي یوه قوه ده، چي د عوایدو د لوړولو له پاره اړینه ده. په واقعي نړۍ کی هیڅوک په اسانۍ سره تاسو ته پیسې نه درکوي. په خیالی نړۍ کی کیدای سی هغومره پیسې په لاس راوړئ څومره، چي یې حق لرئ؛ خو په واقعي دنیا کي یوازي هغه وخت کولای سئ دومره پیسې لاسته راوړئ، چي مقابل طرف پرته له پیسو درکولو بله چاره ونه لري. ډاکټران ځکه لوړ عاید لری، چي یا به هغوئ ته پیسې ورکوې یا به مرې!

د غاښو ډاکټران ستاسو څخه د دې له پاره پیسې اخلي، چي د غاښ د درد څخه دي خلاصوي، وکیلان ځکه ډېري پیسې اخلي ترڅو ستاسو معاملات سرته ورسوي. بدن جوړول په واقعی نړۍ کي هم حقیقت لري ځکه که درد یونه سئ نو عضلات

(c) ketabton.com: The Digital Library

موهم نه جوړېږي. مسلکي لوبغاړي ځکه د لوړو حقوقوغوښتنه کوي چي مسلکي ټېمونه هغوئ ته اړتيا لري. په فلم کي لوبيدونکي ځکه ډېري پيسې لاسته راوړي، چي دفلم جوړوني شركت دهغو د خېرو څخه پيسې لاسته راوړي. كه تاسو هم يوچاته ډېري پيسې وركوئ معلومه خبره ده، چي تا سو د هغوئ كار ته اړتيا لرئ.

ستاسو دعوايدو لوړلو له پاره بايد خلگ ستاسو كارته اړتيا ولري. د كار زحمت بايد پرځان ومنئ ترخو عايد مو تاكلى حد ته ورسيږي. د هغه معاملو په اړه، چي زه يې سرته رسوم همېشه خلگو ته يادونه كوم او ورته وايم كه دي چيري دا معامله سرته نه واى رسېدلي، تر هغه وخته، چي زما غوندي شخص دي پيدا كولاى، چي ستا سو معامله يې په بريالیتوب سره سرته رسولې واى د څومره سر دردونو سره به مخ واى!

خلگو ته دا وښياست، چي ستاسو په له منځه وړلو كي به څه له لاسه وركړي. لوى فكرونه لوړعوايد په وجود راوړي. د دې له پاره، چي لوړ عوايد ترلاسه كړئ تاسي د خپل ژوند د چاپيريال د واقيعتونو په اړه معلومات ولرئ. ما ټول اپارتمانونه او تعميرونه داړتيا سره سم جوړكړي دي، ځكه چي نفوس د لوړيدو په حال كي دى او اپارتمانونو ته اړتيا ډېره سوېده. ما ځكه په جرسي ښار كي ټرامپ پلازا جوړه كړه، چي په كورنيو كي د غړو شمېر كم سوى دى او ځانگړو كورونو ته اړتيا كمه سوې ده . ټرامپ پلازا ۸۲۶ **condominium** (دمشترک مالكيت سندونه) د دوه ۵۰ پوړيزه تعميرونو له پاره تحويل كړه، چي ۴۱۵ ميليونه ډالره لگښت پر راغلى. د دې كار له پاره زه د ښاغلي ډين گيبل سره شريک سوم او دا پروژه مو ممكنه كړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بریالیتوب لاره مو نیمګړې مه پرېږدئ**

د بریالیتوب په لاره کې توقف (دریدل) مه کوئ، ځیني خلګ کار په ډېره ښه توګه پیل کوي؛ په پیل کې لوي فکر کوي، په ښــه ډول کار ترسره کوي، ډېره سرمایه لري، د خپل تقاعد له پاره پلان لري، د تفریح له پاره ښــه وســایل رانیسيــ؛ خو وروسته سستي پیل کوي، دهغوئ په خبره” اوس دخطر اخیستلو وخت نه دی او باید احتیاط وسي“هیڅکله په دې دام کې مه لوېږئ. فکر مو په لویو نظریو سره روښانه کړئ، معلوماتو مو همېشه تکمیل کړئ او لوی فکر لرونکي و اوسئ. فکر موپه کار واچوئ تر څو په اسانه او ښه توګه ډېري پیسې لاسته راوړئ.

**همېشه پرمختګ په پام کې ونیسئ**

همېشه داسي وګڼئ، چي د رقابت په حال کې یاست. د ټرمپ ټاور د جوړولو پرمهال مي یوازې دا نه غوښتل، چي یو تعمیر جوړ کړم بلکي غوښتل مي دا سي یو تعمیر جوړ کړم، چي په خپل ډول کې بې سارې وي. د دوو میلیونو په لګښت مي یوه داسي فواره جوړه کړه چي سارې نه لري او د نیویارک په ښار کې د خاصي پاملرني وړ و ګرځېدل. کله، چي ټرمپ ټاور تکمیل سو د جوړولو تنده مي نوره هم زیاته سوه. د ټرمپ نړیوال برج مي جوړکړ،چي د اوسیدني له پاره د نړۍ تر ټولو لوړ تعمیر دئ اود ۹۰ منزلونو لرونکی دی. دا یو د پام وړ بریالیتوب و او د لاسته راوړنو په برخه کې یو ښه بېلګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خواشینیو تحمل ته چمتو و اوسئ

په ژوند کي هیڅ بریالیتوب د ناخوښیو د زغملو پرته په لاس نه راځي. خواشیني زموږ د ژوند برخه ده. که غواړئ لوی فکر و کړئ باید د لویو خواشینیو زغم و لرئ. د خواشینیو په وړاندي ستاسي سلوک ډېر مهم دی. خواشیني او تاوان ناکامۍ( ماته) نه ده. ماته ستاسي په ذهن کي یو تصوردئ او یوازي هغه وخت ماته خورئ، چي ماته و منئ. له خپلو تاوانونو څخه زده کړه و کړئ او هغه د تحصیلاتو لګښت و ګڼئ. تاوان او ناکامۍ مو د کار اخیره مه بولئ، سمه لار پیداکړئ او حرکت و کړئ. فکر مو د هیلو او امیدنو څخه ډک کړئ، دوستان او دښمنان و پېژنئ، تګلاري ته مو ادامه ورکړئ اونورو ته خپل هنر و ښیاست. د واقع سوو ناخوالو په فکرکي مه کېږئ، حرکت و کړئ. په یاد و لرئ، چي زده کړه او مقاومت د بریالیتوب سره مساوي دي. د هر څه څخه مهم د تولید کیفیت دی او با کیفیته تولید ستاسو لګښتونه بیمه کوي. لوی فکر و کړئ؛ خو بنسټیز قوانین هیڅکله له یاده مه باسئ.

## د لسم څپرکي څخه د زینګر اخیستنه

ما لرنینګ انیکس ۲۸ کاله مخکي په نیویارک کي په خپل کور کي په هغه لږو پیسو، چي ټولي کړي مي وې پیل کړ.دا چي سرمایه مي د ۵۰۰۰ ډالره پورته نه وه نوهمېشه مي هڅه کول، چي د ډېر بریالي نظر سره کار پیل کړم. سرای دار ته به مي د دې له پاره پیسې ورکولې، چي د لاري پر سر ټابلوي و ویشي او د لرنینګ انکس پر لور خلګ رهنمايي کړي. په دې کار سره مي غوښتل لرنینګ انکس لوی معرفي کړم. هره ورځ مي هڅه کول کور داسي جوړ کړم، چي بلاخره د اپارتمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل واخلي. هغه خونه مي، چي د کنفرانس مېز په کنبي پروت و د خپلي همسايه ښځه کرايه کړې وه او د هغې سره مي تړون و کړ، چي په هغه خونه کي به کار کوونکي ځای پرځای کوم.

د کارپه اولو ورځو کي د ټوني رابينز سيمينارونو ته تلم.هغه ماته دا رازده کړل، چي خپله انرژي څنگه په سمه توگه مصرف کړم او لوړي لاسته راوړني و لرم. د ټوني سره کار کول، دا اجازه نه درکوي، چي انرژي مو په عبث ډول مصرف کړئ. زه د خپل برياليتوب او انرژي په برخه کي د ټوني ځخه ډېر مننداوی يم.

بل هغه کار، چي د برياليتوب له پاره مي سرته رسوئ د يو گران بيه کورتۍ او پتلون اغوستل و. دا چي پيسې مي نه درلودلې نو د۱۰ دانو ارزانه پتلون او جانکټ رانيولو پرځای مي د پتلون او جانکټ له پاره ۱۰۰۰ ډالره مصرف کړې، چي هغه به مي د جلسو کورتۍ او پتلون بلل. دغه کورتۍ او پتلون ماته د مهم کېدلو احساس را کوئ، که څه هم په دې اړه چا ماته څه نه ويل؛ خو پوهيدلم، چي زه ټولو ته شتمن ښکارم.

د ۸۰ لسيزي وروسته، چي کله لرنينگ انکس برياليتوب ته رسېدلي دی، په کال کي مي يو ځل ټول مديران نيويارک ته راغواړم، زه هغوئ د ورساچي لباس پلورنځی ته بيايم او د ډالی په نوم هغوئ ته رسمي لباس رانيسم. د ټولو کار کوونکو له پاره که نارينه يا ښځينه وي يو ډول قانون لرم، چي تر ۱۰۰۰ ډالره کم لباس بايد و نه ټاکي.

بل هغه کار، چي ما ترسره کاوه دا و، چي غونډې ته له تللو پرمهال به مي ۵۰۰۰ ډالره جېب ته اچول. که څه هم دا نقدي پيسې د مصرف له پاره وې؛ خو ما او نورو ته يې دا احساس راکاوه، چي موږ شتمن يو. د ډونالډ ټرمپ سره تر ليدني وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ۱۵۰۰۰ ډالره د مصرف له پاره په جېب کې ایږدم، د دغه لیدنې څخه وروسته زه پوه سوم، چې زما لوی فکرکول، کوچنی وو. زده مې کړل، چې ترمخکښې فکر مې باید لس چنده لوړ فکر و کړم. ډېر خوښ یم، چې د ډانالډ ټرمپ سره مې کار و کړ، ځکه چې د ډنالډ ټرمپ سره زما د درو کالو په پېژندنه کې لرنینګ انکس ۲۰ چنده لوی سو.

ډانالډ هرڅه ممکن بولي، هغه هیڅ وخت اجازه نه ورکوي، چې یوه معامله هغه وبېره وي. که د یو معاملې سره علاقه و لري حتما یې سرته رسوي او هیڅ وخت د ماتې د بېرې له امله زړه نازړه کېږي نه. د ډانالډ ټرمپ سره تر لیدنې وروسته هڅه کوم د هغه چا سره غونډه و لرم، چې د ټرمپ په سویه وي او د هغه غوندې لوی فکرکونکي وي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**